د ځوانانو اهمیت او دَ هغوی ملی ، دینی او معاشرتی ذمه داریانو او هدایاتو باندے مشتمل
یو بهترین کتاب

# په اسلام کښې د ځوانانو

# دیني او ملي

# ذمه وارياني




مرتب

مولانا مفتی محمّد ایاز درّانی صاحب حفظہ اللہ



العلم پبلیکیشنز

# په اسلام کښې ځوانانو
# دینی او ملی
# ذمه وارياني

ابو معاویه مولانا مفتی محمد ایاز حفظه الله

العلم پبلیکیشنز،محله جنګی پیښور

091-2590315

# د مضامینو فهرست


❋ د ځوانۍ اهمیت........................01

❋ د اسلامی د ځوانانو ضرورت او افادیت..................03

❋ د ځوانۍ طاقت........................06

❋ د ځوان جذبات........................06

❋ د ځوان امیدونه........................07

❋ د ځوان امتیازی عادتونه....................07

❋ د ځوانانو سره خاص احکامات..................08

❋ ځوانی او عبادت........................08

❋ د عبادت اثر........................09

❋ د ځوانۍ عبادت........................11

❋ د عبادت ترغیب........................11

❋ ځوان او جومات........................13

❋ د ځوانۍ د عبادت فائده....................14

❋ د عبادت انعام........................14

❋ د ځوان دپاره نکاح........................15

❋ قیادت او سرداری........................17

* ځوانی غنیمت......................19
* د ځوانانو او شیوخو، بزرگانو په منځ کښې رابطه..........20
* ځوانان قیمتی سرمایه......................22
* د اسلام د ځوانانو متعلق د رسول الله ﷺ احادیث.........23
* اصل طرف ته رجوع............................33
* د وینا او عمل اخلاص...........................33
* اې مسلمان ځوانانو!..........................34
* حقیقی ځوان..................................36
* زمونږ هیرو څوك؟............................37
* کم عمر صحابه رض او د دین اقامت...............39
* په هر دور کښې ځوانې جذبې.........................42
* زمونږ حقیقي اسلحه...............................43
* صحابه کرام رض، د رڼا منارې...........................45
* ځوانان صحابه او اسلامی انقلاب.....................46
* د اسلام قبلول.................................47
* د اسلام دفاع.................................52
* په دین باندې تکلیفونه او استقامت...................55

❋ د دین دعوت........................68
❋ د سیدنا ام سلیم رض ابو طلحه ته دعوت..................69
❋ د سیدنا ضمام بن ثعلبه رض قبیله بنو سعد بن بکر ته دعوت-70
❋ د سیدنا عروه بن مسعود رض قبیله ثقیف ته دعوت.........72
❋ د سیدنا زیاد بن حارث رض د خپل قوم په نوم خط...........74
❋ د سیدنا خالد بن ولید رض د اهل فارس په نوم خط..........77
❋ د اسلام حمیت..............................78
❋ سیدنا زبیر بن العوام.........................79
❋ ماشوم مجاهد، د مستقبل سپه سالار..................80
❋ د عمیر بن سعد رض عظمت........................82
❋ ماشوم انصاری، مصعب رضی الله عنه................84
❋ زید بن ارقم رضی الله عنه........................84
❋ د رسول صلی الله علیه و سلم د میني عملی نمونې..........85
❋ خاندان، مور پلار، او د رسول الله ﷺ مینه..............86
❋ د ازر په کور کښې ابراهیم علیه سلام..................87
❋ د قریشو د سردار عظیمه لور.......................88
❋ غسیل الملائکه...............................89
❋ د امت امین.................................91

❋ سیدنا مصعب بن عمیر رضي الله عنه.................... 91
❋ د جدید دور فتنې.................................... 92
❋ د الله په لاره کښې خرچ او صحابه کرام رض............... 94
❋ ټول باغ الله لره ورکړه.................................. 94
❋ د مُټې برابر کهجورو مقام................................ 96
❋ د ژوند د معیار بُت مات شو............................. 98
❋ دوه کمبلو والا مرد درویش............................... 98
❋ د شان سکندری نه تر شان قلندری پورې.............. 100
❋ د نن چیلنج.......................................... 102
❋ اې ځوانانو!.......................................... 103

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

# د ځوانئ اهمیت

ځوانان د خپلې ځوانئ نه ښه پوره فائده حاصلوی، او خپل کورنی، تعلیمی او معاشرتی ژوند کښې خپل صلاحیتونه ښکاره کوی. سره د دې چې د امت دا اجتماعیت او انقلابات هم د دوی د جذبو او قربانیانو منښته ده. د دې د وضاحت د پاره مونږ دلته څو نکتې پیش کوو.

**اوله نکته:**

په انسانی ژوند کښې د ځوانئ دور ډیر اهم وی. په دې کښې اغیستل او خرڅول، نکاح او نورو ډیرو معاملاتو سره واسطه راځی دا سلسله د بلوغ نه شروع کیږی او تر د دیرشو کالو عمر پوري وی. د ځوانئ په تحقیق کښې امام نووی رحمة الله علیه د مسلم په شرح کښې فرمائیلي دي:

"شباب (ځوانی) په لغت کښې د 'شب' نه ماخوذ دې. دا لفظ په قوت او طاقت باندې دلالت کوی. په دې کښې د چستئ، حرکت، حسن او اوچتوالي معني هم بیا موندې کیږی او د زیادت او ډیر والی دَ معنې لحاظ پکښې هم ساتلې شوې دې".

**دویمه نکته:**

د ځوانۍ دور ته د انسانی ژوند د سپرلی موسم وئیلې کیږی. هم دا ځوانۍ انسان مقصد او انتها ته رسوی او هم دا د دهٔ مستقبل لره رنړه کوی. دې مرحلې ته په رسیدلو سره انسان ته د خپل قوتونو او د الله د

طرف نه ورکړې شوی صلاحیتونو احساس کیږی، خو چه کله دا ځوان د خپلې ځوانۍ د قوتونو او صلاحیتونو استعمال اونهٔ کړی او د بډاوالی په درشل باندې قدم کیږدی نو په خپلې تیرې شوي ځوانۍ باندې افسوس کوؤنکې خښکاری. یو شاعر د داسي ځوانانو باره کښې یو ښائسته شعر وئیلې دې:

اَلَا لَیْتَ الشَّبَابَ یَعُوْدُ یَوْمًا فَاُخْبِرُهٗ بِمَا فَعَلَ الْمُشِیْبُ

هائې کاش چې ځواني واپس کیدې نو ما به دیته د بوډا والی په حالت باندې خبرداري ورکړي وې.

**دریمه نکته:**

ځوان د زبردست او مضبوط طاقت پورته کوؤنکې وی. چستي او سپك پاسیدل د هغهٔ خاصیت وی. د ځوان تازګي ټول انسانیت ته ښائست ورکوی، او په دې کښې خوشحالی او چمك پیدا کوی، د امید کرښه ، بهادری او نیك بختي پیدا کوی.

**څلورمه نکته:**

په موجوده دور کښې ځوانی د ضرب المثل په طور باندې پیش کولې شي او په مستقبل کښې دي سره غټ غټ امیدونه تړلې شی. دا د امت د طاقت ستني دی. د حکومت او سلطنت دپاره ګلونه دي. د وطن دپاره ذخیره ده. د ټولو خاندانونو دپاره ثمره او میوه ده. د مقابلے دپاره قوت او طاقت دې. د دوی په رګونو کښې تازه او ګرمه وینه چلیږی. وجود ئې د طاقت نه ډك وی. د دوی د دماغو رنړه د معارفو درجاتو لره ترقي ورکوی او نوي نوي څیزونه په وجود کښې راځی. د دوی په کارنامو باندې د ظاهری امیدونو تحقیق موقوف وی.

تاریخ دا ثابته کړې ده چې د امت په اصلاح دعوت، ازادۍ او انقلاباتو کښې د ځوانانو کردار انتهائی اهم دې. هم ځوانانو د ظالمانو او سرکشو په خلاف په میدان جنګ کښې ډیرې مهمې کارنامې تر سره کړې دی. د اهل دعوت او اهل اصلاح سره دوی په اول صف کښې شامل وی. هم دا ځوانان د ملك او قوم د تعمیر او ترقۍ ضامن وی او ملك لره د اوسپنې شان مضبوط بنیادونو باندې اودروی. دا ځوان په خپل کردار ګفتار، د حوصلې په لوړوالي، او په نه بدلیدونکو ارادو باندې دنیا خپله عاشقه جوړوی او د ټول انسانیت دپاره مثال او نمونه جوړیږی.

**پنځمه نکته:**

د ځوانۍ په زمانه کښې د ځوانانو عقل او فکر پښخیږي، خو ځینی وخت کښې د دوی نه داسې عادتونه ظاهره شی چه دوی لره د نورو نه ممتاز کوی، لکه ظاهری محبت، خپل ځان لره د ثابتولو کوشش، تکبر، د سرکشۍ غلبه، د تقلید مخالفت، د عادتونو او ادابو مخالفت، د اجتماعي ترتیب طرف ته د نقل او حرکت نه د لرې کیدلو سعي او کوشش، د لوبو تماشو محبت او د نتیجې نه لاپرواه کیدل وغیره وغیره. د دې په التہ په ځینو ځوانانو کښې عمده او ښهٔ خوئیونه هم وی لکه ایثار او قربانی، د مقصدونو د حاصلولو دپاره ډیره زیات جذبه، د دیني کارونو دپاره خپل ځان هیرول وغیره.

## د ځوانانو ضرورت او افادیت

په اخرت کښې د خلاصۍ او د الله د نزدیکت ذریعه نه ځوانی ده او نه بوډاوالې بلکه ایمان او عمل صالح دې. ارشاد خداوندی دې چه:

"چه څوك هم نیك عمل کوی که سړې وی او که ښځۀ خو په دې شرط چې ایمان ئې راوړې وی نو مونږ به هغه ته په دنیا کښې پاك ژوند ورکو او په آخرت کښې به ورته د ښۀ عمل په بدله کښې ضرور اجر ورکوو". (النحل: ۹۷ )

د قیامت په ورځ به د انسانانو درجه بندی د ځوانئ او بوډا والي په اعتبار سره نه وی بلکه د ایمان او عمل په اعتبار سره به وي لکه څرنګه چې الله فرمائيلي دی:

"او تاسو به په درې قسمه باندې شئ. ښی لاس والا به وی او څومره ښه به وی ښی لاس والا. ګس لاس والا به وی او څومره بد به وی ګس لاس والا او په عمل کښې مخکښې کیدونکی به په درجو کښې هم مخښکې وی او هم دا خلق به الله ته نیزدې وی".(الواقعه: ۷-۱۱ )

په دنیا کښې هم د مرتبو د مختلف والی دار و مدار نه په ځوانئ باندې دې او نه په بوډا والی بلکه په اهلیت باندې دې.

"د سیدنا عمر فاروق رضي الله عنه د مجلس شوریٰ ارکان به د قران ماهرین وو خواه که ځوانان به ؤو او که بوډاګان".(بخاري شریف )

د دې اصولی او بنیادی حقیقت باوجود په اسلامي تحریکونو کښې د مسلمان ځوانانو د ضرورت، اهمیت او افادیت (فائدې) نه انکار نه شی کولی. ظاهره ده چه هیڅ یو نظام او هیڅ یو فکر ته د عملی جامې ورغوستولو دپاره د علمی او فکری قوت سره د جسمانی قوت هم ډیر دخل وی. صرف په علم، تحقیق، فکر او نظر باندې انقلابات نه شی راوستلې کیدې او نه صرف په جسمانی قوت او د ځوانئ په شور او زور سره پائیدار تعمیری انقلابات راوستلې کیږی، بلکه د دواړو قوتونو په

خپل مینځ کښې په تعاون او اتفاق سره به تعمیری انقلابات راځی. الله تعالیٰ چه د بنی اسرائیل دپاره طالوت کله سپه سالار (امیر الجیش، د فوج مشر) مقرر کوو نو هغوی اوئیل چه دا په نسل او خاندان کښې هم زمونږ نه کم دې او د دهٔ سره ډیر مال هم نشته، نو بیا دهٔ لره په مونږ د حکومت کولو حق څرنګه حاصل دې؟ په جواب کښې د هغوي نبی علیه السلام وئیلی وو چه الله تعالي په تاسو دا ځکه امیر مقرر کړو چه دهٔ لره ستاسو په مقابله کښې په علم او جسم دواړو کښې پراخی ډیره ورکړې شوي ده. (البقرة: ٢٤٧ )

یعني د دهٔ سره جنګی او عسکری تجربه او مهارت او دینی بصیرت هم ستاسو نه ډیر دې او دهٔ ته په جسمانی قوت، صحت او د قدوقامت په اعتبار سره هم په تاسو پورته والې حاصل دې. د دې ایت تعلق اګر چه د جنګ او عسکری جدوجهد سره دې خو دعوتی او تحریکی جدوجهد هم محنت غوختونکې کار دې د کوم د پاره چه د دماغی او ذهنی استعداد سره سره د جسمانی او اعصابی قوت ضرورت هم وی. د زړهٔ، دماغو، جسم او اعصابو د یو بل نه متاثره کیدل او د یو بل محتاجه کیدل یو واقعی امر دې، د کوم نه چې انکار نه شی کیدلې. البته دا صحیح ده چې د عسکری جهاد دپاره د جسمانی قوت او ځوانې ویني ډیر ضرورت وی او د دعوتی جدوجهد دپاره د علمی او فکری قوت ضرورت زیات وی.

# د ځوانۍ طاقت

د انسان په ژوند کښې د ځوانۍ مرحلې لره د طاقت او قوت د ټولو نه لوئيه مرحله شمارلې شي. ځوان د يو پوره جسدي طاقت مالك وي. بيا دا هم امكان شته چې ځوان د دې طاقت نه فائده واخلي او د خير او ښيګړې طرف ته روان شي، د دې مېوه حاصله کړي، او د دې نه فائده مند شي. امت ته هم خير اورسي او نور هم ډير اهم مقصدونه ترسره شي او دا هم ممكن ده چې ځوان خپل دا طاقت په شر او فساد كښې اولګوي بيا په خپله هم په غلطه لاره ځي او نورو لره د سمې لارې نه د اړولو سبب هم جوړيږي. دا ځوان خپل ځان لره هم په هلاكت كښې اچوي او د خپل چاپير چل د خلقو دپاره د پريشانۍ او خفګان سبب هم جوړيږي.

**د ځوان جذبات:**

كله چې انسان د ځوانۍ مرحلې ته اورسي نو د دهٔ جذبات هم انتهائي درجې ته رسيدلې وي. د انساني ژوند په لمحو كښې دا د ټولو نه خطرناكه لمحه وي ځكه چه د هغهٔ خواهشونه، شهوت او جذبات په هغهٔ كښې موجونه وهي. بيا د دهٔ عقل او فكر په تيزۍ سره ترقي كوي. د دې حالاتو په نظر كښې دا يره وي چه ځوان چرته فحاشو، منكراتو او په ذليله كارونو كښې اخته نه شي، ځكه چه كهٔ هغه د تباهۍ په دې كنده كښې پرېمخې ورپريوتو نو بيا راوتل دهٔ دپاره محال دي او دا رنګه د ځوان ټول ژوند ګران شي.

## د ځوان اميدونه:

د هر ځوان بلها اميدونه او ارزوګاني وی. هغه اوچت خوبونه ويني. د هغه په ژوند کښې جلدی (تيزی) او د هغهٔ په عمل کښې خود سری (هر کار د خپل طبيعت مطابق کول) وي، د دې وجې نه د ځوانئ دور د تعليم او تربيت دپاره ډير اهم وی. د معارفو او خبرونو نه د ځان خبرولو په لحاظ سره هم دا مرحله ډير اهميت لری، خو عام طور باندې مشاهده ده چې ځوانان په دې عمر کښې په غلطو لارو روانيګي. د دې وجې نه ضرورت د دې خبرې دې چې د معاشرې بزرګان خلق دي ځوانان د خپلو تجرباتو نه خبر کړی، د حکمتونو نه ډك نصيحتونه دي کوی، د مور پلار په شان په شفقت دي ورسره ميلاويږی او په هره طريقه دي د دوی لاس اونيسی او په صحيح لاره دې روان کړی. هغوی دي د مضبوطو سازشونو، شيطانی جالونو او د خطرو نه ډکو مقاماتو نه لري اوساتی، دې لپاره چه هغوي د مفسداتو نه بچ شی او دي ته نيزدې هم ورنه شی.

## د ځوان امتيازي عادتونه:

د ځوانئ په مرحله کښې د ډيرو امتيازی خبرو سره د ځوانانو واسطه راځی. په هغي کښې څهٔ دا دی تکبر، غرور، زيب او زينت (ځان ښائسته کولو) خواهش، خپل ځان د غټ ثابتولو کوشش، په خپلو عادتونو اعتماد، د تقليد نه مخ اړول، په ماحول کښې خپل ځان ظاهره ولو د پاره په هر قسمه جائز حد باندې ورتيريدل. خپل وجود طرف ته متوجې اوسيدل او هم د دې طرف ته هر وخت نظر ساتل. ځان

بې پرواه کول، د لوبو ټوقو سره محبت، بغیر د څهٔ سوچ نه کارونه کول او نتیجې ته نهٔ کتل وغیره.

د ځوانانو میلان دَ مادی قوتونو طرف ته هم ډیر وی. علمی مینه ئې کمه وی، تجربات ئې د نیش برابر وی خو صرف په هوائی خیالاتو باندې ځان په هر څهٔ پوهه کولو یو ناکامه کوشش په دهٔ کښې موجود وی. د دې وجې نه په ډیر عمر والا باندې دا لازمی ده چې د ځوانانو رعایت اوکړی، په محبت او مهربانئ سره د هغوی لاس اونیسی. هغوی لره په وعظ او نصیحت باندې دین طرف ته رغبت ورکړی خو په دې اندازې سره چه د هغوي ذوق مجروحه نه شی او د هغوي جذباتو ته هم څه نقصان اونه رسولې شی.

## د ځوانانو سره خاص احکامات:

شریعت د ځوانانو دَ احوالو رعایت، د هغوی د شان اهتمام او د هغوی د رشد او هدایت د پاره څهٔ احکام خصوصی طور باندې د هغوی دپاره بیان کړی دي، د هغوی د پاره ئې څه عملی لارې واضح کړي دی، د هغوي دپاره ئې څه تدبیرونه ښودلي دی. هغوی په سمه لاره باندې د بوتلو دپاره د هغوی لاس نیوي ئې کړې دې دې دپاره چه هغوی ته او د هغوی په ذریعه ټول امت ته کامیابی او سعادت میلاؤ شی، په هغې کښې د څه احکامو په ترتیب سره دلته تذکره کولې شی.

## ځوانی او عبادت:

اسلام د دې خبرې ښهٔ اهتمام کړې دي چې ځوانان دې د الله عبادت طرف ته متوجې کړې شي کوم چې د انسانی ژوند هدف او

مقصد اصلی دی. په قران پاك کښې دي "وَ مَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَ الْاِنْسَ اِلَّا لِيَعْبُدُوْنَ" (سورة ذاريات ) مونږ پيرى او انسان هم د عبادت دپاره پيدا کړي دي. ځکه چې عبادت د اسلامی عقيدې دپاره عملی حقيقت دې، د دې په صداقت باندې دليل او د انسان د رښتونی مسلمان کيدو نښه ده.

عبادت د ايمان دپاره د غذا او غښتيدو ذريعه ده. عبادت د مومنانو په زړونو کښې نور او د هدايت د شعاګانو نافذ کولو دپاره ډير برابر او اهمه لاره ده. بيا مومن خير ته د خير په نظر ګورى، د هغې پابندی کوى. بدي، بدئ ګڼړي او د هغې نه ځان ساتی او نورو ته هم د ځان ساتلو تلقين کوى. بس عبادت د عام مسلمان او خصوصاً د ځوان د اصلاح دپاره او د هغه په فکر او سلوك کښې د کوږ والی او بدليدو نه د حفاظت پاره کاميابه ذريعه ده. په عبادت کښې په همت او قوت باندې صبر کول او تکليفونه برداشت کولو عادت پيدا کيږی. په قران کښې دي:

وَاسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ وَاِنَّهَا لَكَبِيْرَةٌ اِلَّا عَلَى الْخٰشِعِيْنَ [سورۃ بقرہ]

" د مونځ او صبر په ذريعه مدد طلب کړئ، بې شکه مونځ ګران دې مګر په عاجزی کوؤنکو باندې نه دې".

## د عبادت اثر:

د عبادت په اجتماعی توګه باندې ډير زيات اثر وی. د خلقو د تعلقاتو او رابطو ذريعه عبادت دې. په خپل مينځ کښې د تعاون او محبت، د يو بل دپاره قربانی او مهربانی، په تکليفونو کښې د يو بل

مرسته کول، ښائسته سلوك او د يو بل دپاره هر قمسه تکليف زغمل، دا هم د عبادت په ذريعه ممکن دی. دا رنګه د هر عبادت مستقل اثر دې. مونځ د بې حيائي او بدو کارونو نه منع کوی. زکوٰة د نفس نه د پاکۍ ذريعه ده، د فسق او ګناهونو نه خلاصې ميلاويږی، روژه د ژبې حفاظت، د نورو دپاره احساس او د فقيرانو او غريبانو د امداد سبق ښودلو دپاره يو تربيتي کورس دې.

په عبادت سره د الله رضا، د خير طرف ته مينه او په نيکو کارونو کښې زړه لګيدل پيدا کوی. عبادت انسان د حرامو کارونو نه لرې ساتی. په انفرادی او اجتماعی توګه باندې انسانيت لره د نقصان رسيدلو نه هم بچ کوی.

اسلام ځوانانو لره د اطاعت او خير طرف ته متوجې کړي دی چه ځوانه طبقه (سړی او ښځې) په دې خطرناکه مرحله کښې د ګناهونو نه بچ شی. د جسمانی، فکری، نفسياتی، او روحانی په هره توګه باندې د فساد نه محفوظ شی. د هر ځوان نفس چې د کومو فسق او فجوز او ګناهونو طرف ته شهوت لری د هغې نه هم چې څومره ممکنه وی پرهيز اوکړی. اسلام ځوانانو ته د بدو ځايونو نه د بچ کيدو تلقين هم کړې دې، په کوم کښې چې نن سبانی ځوانان اکثر مصروف په نظر راځی. ځوانان په نامناسبه مجلسونو او ځايونو کښې خپل وخت، ځوانی او قوت ضائعه کوی. خپل مال هم بربادوی د بدو اخلاقو هم ښکار کيږی، د الله تعالیٰ سره تعلق او د فرائضو او واجباتو نه هم غافله کيږی، په مادی خوندونو او جسمانی خواهشاتو کښې پريوځی. هغوی سره د څۀ وعدې يره نه وی، د څه شرافت او اخلاقو لحاظ نه کوی او په خپله

تباهۍ کښې د حد نه ورتير وځي او بيا هله د غفلت د خوب نه راويخيګي چې کله وخت د لاس نه وتلې وى، هر څيز ضائعه شوې وى.

*در زندگی بکوش ہمیں دم غنیمت است        زیراکہ روزرگ بکس آشکارانیست*

"هم دا د ژوند وخت غنيمت دې څه کوشش اوکه ځکه چې د سبا د ورځې چا ته خبر دې؟"

## د ځوان عبادت:

رسول الله صلی الله عليه و سلم په ځوانۍ کښې عبادت کوؤنکی د هغه اُوؤه 7 کسانو سره ذکر کړي دي د کومو دپاره چې ډير لوئې زيري (بشارت) دي. نبی صلی الله عليه و سلم فرمائيلي دي:

**سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللهُ فِيْ ظِلِّهٖ يَوْمَ لَا ظِلَّ اِلَّا ظِلُّهٗ اَلْاِمَامُ الْعَادِلُ وَالشَّابُ نَشَأَ بِعِبَادَةِ اللهِ تَعَالٰى وَرَجُلٌ قَلْبُهٗ مُعَلَّقٌ فِي الْمَسَاجِدِ وَرَجُلَانِ تَحَابَّا فِي اللهِ اجْتَمَعَا عَلَيْهِ وَتَفَرَّقَا عَلَيْهِ وَرَجُلٌ دَعَتْهُ اِمْرَأَةٌ ذَاتَ مَنْصَبٍ وَجَمَالٍ فَقَالَ! اِنِّيْ اَخَافُ اللهَ، وَرَجُلٌ تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ فَاَخْفَاهَا حَتّٰى لَا تَعْلَمَ شِمَالُهٗ مَا تُنْفِقُ يَمِيْنُهٗ، وَرَجُلٌ ذَكَرَ اللهَ خَالِيًا فَفَاضَتْ عَيْنَاهُ۔ [بخاری و مسلم]**

"اوؤه کسان داسي دى چې هغوى ته به الله تعالىٰ د خپل عرش د لاندي دَ هغه ورځ سورې (سايه) ورکوى په کومه ورځ چې به د هغه سورى نه علاوه بل سورې نه وى"

١: عادل بادشاه.

٢: هغه ځوان چه په ځوانۍ کښې د الله په عبادت کښې غټ شو.

٣: هغه سړې د چا زړهٔ چې په جومات کښې لګيدلې وى.

٤: هغه خلق چه د الله د پاره مينه کوى هم په دې يوځائې کيږى او هم په دې جدا کيږى.

٥: هغه سړې کوم لره چې یو منصب او ښائست والا خزۀ بدکارئ طرف ته راوبلي او دې ورته اووائی چې زۀ د الله نه ویریږم.
٦: هغه سړې کوم چې داسې په پټه صدقه اوکړي چه کس لاس ته هم پته اونه لګی چې ښیئ لاس څه صدقه کړل.
٧: هغه سړې چې په تنهائي کښې الله یاد کړي او د سترګو نه اوښکې اوبهیګی.

دا خبره هم په نظر کښې ساتل پکار دی چې د ځوانئ عبادت د نور عمر د عبادت نه سخت او ګران دې، ځکه چې د شهوت غلبه وی، د عبادت نه د لري کولو ډیر سببونه وی. بس عبادت په دې عمر کښې په ځان لازمول د ټولو نه اعلیٰ تقویٰ ده. د دې وجې نه مشهوره ده چې د ځوانئ عبادت سرۀ زر (سونا) ده او یو شاعر هم ډیر ښائسته شعر وائیلے دې:

*وقت پیری گرگ ظالم می شود پرہیزگار*
*در جوانی توبہ کردن شیوہ پیغمبری*

"په ځوانئ کښې عبادت کول د پیغمبرانو طریقه ده، په بوډا والی کښې خو ظالم شرمخ(بھیړیا) هم پرهیزګار جوړ شی".

**د عبادت ترغیب:**

عبادت نفس لره د وسوسو او ګناهونو نه پاکوی او د خالق او مخلوق په مینځ کښې یو مضبوط او پوخ تعلق جوړوی. انسانی نفس خصوصاً د ځوان نفس ګناه ، نافرمانئ او جرمونه کولو طرف ته میلان ساتی. عبادت هغه مهذب جوړوی.

## ځوان او جومات:

عبادت د ځوان ژوند په يو ښه ترتيب سره منظم کوی، د دهٔ فکر لره د الله عز وجل اطاعت او د هغه مخښې ته د عاجزئ کولو طرف ته متوجې کوی، دا اسمانی تربيتی نظام دی چه ځوان ته د هغه د قوت او طاقت نه فائده اغيستل ښائې دې دپاره چې هغه د خپل ژوند د مقصد نه خبر شی. په دې سلسله کښې يوه خاص خبره دا هم ده چه د عبادت ځائې جومات دې، چې د مومن د پاره د پناه ځائې او د محبت ځائې دې، د دهٔ د سترګو يخ والې دې، په جنت کښې د داخيليدو لاره ده، د اسلام اوله مدرسه جومات دې د کوم نه چې د علم او ايمان نور پرقيږي. هم په دې کښې تعليم او تربيت حاصلولو سره د جهاد او دعوت لښکرې راوځی. نو چې کله ځوان د جومات سره تعلق ساتی نو د ده مقصد متعين وی، د ده عزت به محفوظ وی. د ده دپاره به رڼړه موجوده وي کومه چې به دهٔ لره د هدايت په لاره روانوی. نبی کريم صلی الله عليه و سلم د دې تاکيد څه داسې فرمائيلې وو:

اِذَا رَأَيْتُمُ الرَّجُلَ يَعْتَادُ الْمَسَاجِدَ فَاَشْهِدُوْا لَهٗ بِالْاِيْمَانِ۔ [ترمذی عن ابی سعید]

"کله چې تاسو يو سړې اووينئ چې جومات ته ځی راځی نو د هغه د ايمان ګواهی ورکړی".

دا خبره هم ډيره خوشحاله ونکی ده چې هغه ځوان کوم چې د الله سره ، د خپل پروردګار سره، د خپل خالق سره او د خپل محبوب رب سره تعلق جوړوی، ايمان د دهٔ په زړهٔ کښې ورننوځی. د هغه په اطاعت کښې غټيګې، د هغه په عبادت کښې مشغوله اوسی نو الله تعالیٰ په

هغه ځوان د فرشتو په مينځ کښې فخر کوی، ځکه چې هغه خپل خواهشاتو باندې خپله پوهه غالبه کړه. خپل ايمان لره ئې په شهواتو باندې قبضه ورکړه. په هغه سيده لاره ئې روان کړو په کوم چې الله تعالي خوشحاليږی او راضي کيږی. داسي سيده لاره په کومه چې الله تعالي خپل انعام يافته بنديګان روان کړی او هغوي ته ئې لارښودنه کړی.

## د ځوانئ د عبادت فائده:

د عبادت يو لويه فائده دا هم ده چې په دې سره د ځوان د طاقت، قوت او ژوند تحفظ کيږی، د شك ځايونه، خطرناك ولونه او فاسد فكری او جنسی رجحانات كوم طرف ته چې د ځوان توجهو وی او په هغې كښې د اخته كيدو دپاره چې ځوانانو ته جالونه خورولې شی. د هغې دپاره د خواهشاتو اوورنه لګولې شی. جنسي خيالات او بې هوده ارزوګانې د هغه دپاره ښائسته كولې شی دې دپاره چې هغه د اسلام نه لري كړې شی، د هغه قوت او طاقت منتشر كړې شی، د هغه وخت او عمر برباد كړې شی، عبادت د دې ټولو نه د ځوان حفاظت كوي. د دې وجې نه اسلام دا اراده لرى چې والدين، استاذان او د ذمه وارو خلقو په ذمه واريانو كښې يوه ذمه وارى د اولاد تربيت هم شامل كړی .

## د عبادت انعام:

كله چې په ځوان كښې د عبادت ماده (عنصر) راغله نو د هغه اميدونه پوره شول او د امت غرض او هدف هم پوره شو. په حديث قدسى كښې راغلى دى چې:

وَمَا تَقَرَّبَ اِلَیَّ عَبْدِیْ بِاَفْضَلِ مِمَّا اِفْتَرَضْتُهٗ عَلَیْهِ- وَمَا یَزَالُ عَبْدِیْ یَتَقَرَّبُ اِلَیَّ بِالنَّوَافِلِ حتیٰ اُحِبَّهٗ- فَاِذَا اَحْبَبْتُهٗ کُنْتُ سَمْعَهُ الَّذِیْ یَسْمَعُ بِهٖ، وَبَصَرَهُ الَّذِیْ یُبْصِرُ بِهٖ- وَیَدَهُ الَّتِیْ یَبْطِشُ بِهَا، وَرِجْلَهُ الَّتِیْ یَمْشِیْ عَلَیْهَا- وَلَئِنْ سَاَلَنِیْ لَاُعْطِیَنَّهٗ- وَلَئِنْ اسْتَعَاذَنِیْ لَاُعِیْذَنَّهٗ-

[بخاری عن ابی ہریرہ]

"الله تعالي فرمائی چې زما بنده زما نيزديکت صرف په هغه فرائضو سره حاصلولې شی کوم چې ما په دهٔ باندې فرض کړي دي. او زما بنده همېشه د نفلونه په ذريعه زما نيزديکت حاصلوی تر دې چې زهٔ هغه دوست جوړ کړم. کله چې زهٔ هغه دوست جوړ کړم نو زهٔ د هغه غوږ جوړ شم په کوم چې هغه اوريدل کوی. دهغه سترګه جوړه شم په کوم چه هغه ليدل کوی. د هغهٔ لاس جوړ شم په کوم چې هغه نيول کوی. دهغه خپه جوړه شم په کوم چې هغه تلل کوی. هغه که زما نه څه اوغواړي نو زه ورله ورکوم که پناه اوغواړی نو پناه ورکوم".

بس ځوان عبادت کوؤنکې د الله د رضا مطابق اوری او ګوری. اوس د هغهٔ په لاسونو غټې غټې کارنامې تر سره کيږی. که دا د علم طرف ته توجهو کوی نو پورته والې اووړي لکه څه رنګه چه په مدرسو او جامعاتو کښې د دې مشاهده کړې شوي ده او کهٔ دي جهاد او قتال کوی نو مخکښې مخکښې او د اولنی صف په جنګيدونکو کښې وی. کوم عمل چې هم کوی نو کامياب او لوړ سري وی او د الله په نزد ، د دوستانو په نزد او د خپلو همزولو په نزد محبوب جوړ شي.

## د ځوان دپاره نکاح:

د انسان سره د پوره طاقت، د هغه د جوش نه ډك قوت او د هغه سره چې د ځوانې کومه خزانه ده، اسلام د هغې هم په جائز او مباح

طریقې سره د پاکو وسائلو په ذریعه خرچ کولو لاره ښودلې ده دې دپاره چه انفرادی او اجتماعی نفع په عمل کښې راوستلې شی. اوس که ځوان د وادهٔ نه معذوره وی نو اسلام هغه دلته هم یواځې نه دې پرېخودې، بلکه د هغه دپاره ئې داسې تدبیر ښودلې دې د کوم په ذریعه چې انسان د خپل قوت او طاقت د خزانو حفاظت اوکړې شی کنه نو انسان به دا فضول ضائعه کړې وی، حرام، د تباهئ په ځایونو او د بې هودګئ په ژورو کندو کښې به پریوتې وی. د کوم نتیجه چه سخته، فاسده، خطرناکه او بیا د هغې نه بچاؤ هم ناممکن وی. د هغې نه لرې اوسیدل هم ګران او ناممکن وی. نو ځکه نبی صلی الله علیه و سلم فرمائیلې دی:

**یَا مَعْشَرَ الشَّبَابِ! مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمُ الْبَآئَةَ فَلْيَتَزَوَّجْ فَإِنَّهُ أَغَضُّ لِلْبَصَرِ، وَأَحْصَنُ لِلْفَرْجِ، وَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ فَعَلَيْهِ بِالصَّوْمِ فَإِنَّهُ لَهُ وِجَآءٌ.** [بخاری عن ابن مسعودؓ]

"اې ځوانانو! په تاسو کښې چې د چا طاقت وی نو هغه دې وادهٔ اوکړي ځکه وادهٔ نظر لره خکته کونکې دې او په دې سره د شرمګاه ښه حفاظت کیږي. او د چا چې طاقت نه وي نو هغه دې روژې نیسی چه په هغې کښې د ده دپاره خصې کیدل(محفوظ پاتې کیدل) دی".

اسلام دا حکم په ځوانه طبقه (سړې او ښزهٔ) باندې فرض کړې نه دې، بلکه دا ئې د مور پلار په ذمه واریانو کښې شامل کړې دې د دې وجې د نبی صلی الله علیه و سلم ارشاد دې:

**حَقُّ الْوَلَدِ عَلَى الْوَالِدِ أَنْ يُّحْسِنَ اِسْمَهُ وَأَدَبَهُ - وَأَنْ يُّزَوِّجَهُ إِذَا بَلَغَ -**

[ بیہقی عن ابن عباسؓ]

"د بچې په پلار دا حق دې چې د هغه ښائسته نوم کیږی او هغه ته ادب اوښائي او کله چې هغه بالغ شی نو د هغه نکاح اوکړی".

په دې سلسله کښې اسلام د واده کولو په معامله کښې هم والدينو ته لارښودنه کړي ده په يو روايت کښې دی نبی صلی الله عليه و سلم فرمائيلی:

**اِذَا جَآءَ كُمْ مَنْ تَرْضَوْنَ دِيْنَهٗ وَخُلُقَهٗ فَزَوِّجُوْهُ۔ اِنْ لَّمْ تَفْعَلُوْا تَكُنْ فِتْنَةٌ فِى الْاَرْضِ وَفَسَادٌ كَبِيْرٌ۔** [ترمذی عن ابی ہریرہؓ]

"کله چې تاسو ته يو داسي رشته راشی د کوم دين او اخلاق چې تاسو ته ښه ښکاره شی نو د نکاح بندوبست کوئ. کهٔ تاسو داسي نه کوی نو په زمکه کښې به فتنه او لوئې فساد جوړ شی".

په يو بل روايت کښې ئې فرمائيلي دی:

**تُنْكَحُ الْمَرْأَةُ لِاَرْبَعٍ۔ لِجَمَالِهَا وَمَالِهَا وَنَسَبِهَا وَدِيْنِهَا۔ فَاظْفُرْ بِذَاتِ الدِّيْنِ تَرِبَتْ يَدَاكَ۔**

[بخاری مسلم عن ابی ہریرہؓ]

"د ښځې سره د څلورو وجو نه نکاح کولې شی. د هغې د ښائست د وجې نه يا د هغې د مال يا نسب يا د دين د وجې نه. بس د هغې د ديندارئ د وجې نه د هغې سره واده کولو باندې کاميابي حاصله کړئ (په شفقت سره ئې اوفرمائيل) چې ستاسو لاسونه په ښاورو ککړ وی".

## قيادت او سرداری:

اسلام ځوانان د امت سرمايه ګرځولي ده. دا د امت د لښکرو قوت او طاقت، د هغوی د عزت قلعاګانې، د هغوی د عزت او نوم نګهبان او بهترين هتيار دی. رسول الله صلی الله عليه و سلم قولاً او عملاً د دې ترغيب ورکړی دی. د نبی صلی الله عليه و سلم اکثر ملګری ځوانان وو. ځکه چې د ځوانانو عقل پاك او صفا او دا د

کهولاؤ زړه مالکان وی په کوم کښې چې فضول فکرونه نه وی. سخا تقلید نه وی، کهوتړه زړهٔ نه وی. دا هغه خلق وو چې د اسلام په قبلولو کښې مخکښې وو. د دین په ښوورولو کښې بهادري ښکاره کولو والا او قرباني ورکولو والا او د دې دپاره هر قسمه تکلیف او په رونړ تندی سره سینې پورې لګونکې وو. رسول الله صلی الله علیه و سلم د ځوانانو حقیقت ، د هغوی جذبات او د هغوی قدر او قیمت پیژندلې وو. نبی صلی الله علیه و سلم په هغوی باندې په جهاد کښې ، دعوت کښې، معرکو او غزواتو کښې اعتماد اوکړو. هغوی ئې په جنګونو کښې اولیږل،د دښمنانو د قتلولو دپاره ئې منتخب کړل. او هغه ئې داسې داسې لښکرونو امیران او قائدین جوړ کړه په کومو کښې چې مشران صحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین وو، د مهاجرینو او انصارو شیخان (مشران) وو. د دې وجې نه د خپل مرګ نه مخکښې د شام طرف ته نبی صلی الله علیه و سلم یو لښکر ترتیب کړو د کوم قائد چې د اوولسو 17 کالو یو ځوان اسامه بن زید رضي الله عنه وو او په دې لښکر کښې د عمر بن خطاب رضي الله عنه په شان جلیل القدر صحابی هم موجود وو. دغه رنګه د هجرت نه مخکښې مدینې والاؤ ته د دین ښودلو دپاره ئې ځوان مصعب بن عمیر رضی الله عنه لیږلے وو. د فتح مکه نه پس د مکه والی او قاضی ئې ځوان عتاب بن اسید رضی الله عنه جوړ کړو. معاذ بن جبل رضی الله عنه او علی بن ابی طالب رضی الله عنه ئې د یمن طرف ته د قاضی په توګه اولیږلو. او دا دواړه نوي نوي ځوانان وو. زید بن ثابت رضي الله عنه د وحي مشهور

لیکهونکې وو هغه هم نوې ځوان وو. دهغه رنګه په جنګ احد کښې هم نبی صلی الله علیه و سلم د ځوانانو په رایه باندې عمل کړې وو او د غزوه احد دپاره میدان ته اووتې وو او منافقینو دا وئیل او د میدان جنګ نه واپس شو چې رسول الله صلی الله علیه و سلم د ځوانانو په مشوره باندې عمل اوکړو او زمونږ رائۓ ئې نظر انداز کړه.

**ځواني غنیمت:**

د ځوانۍ مرحله د انسانی ژوند اهمه مرحله وی. ځوان د یو زبردست قوت او طاقت مالك وی د کوم حفاظت چې لازم دې. دا قوت ضائع کول نه دی پکار. د دې وجې نه اسلام ځوانانو لره د اطاعت او د علم د حاصلولو طرف ته متوجې کوی. ځوانی یو داسې قوت دې چې د دې د فوت کیدلو نه پس د دې هیڅ څه بنهٔ بدل نشته. نبی صلی الله علیه و سلم ځوانانو ته داسې سبق ورکړې دې چې:

**اِغْتَنِمْ خَمْسًا قَبْلَ خَمْسٍ،حَيَاتَكَ قَبْلَ مَوْتِكَ وَصِحَّتَكَ قَبْلَ سَقْمِكَ،وَفَرَاغَكَ قَبْلَ شُغْلِكَ، وَشَبَابَكَ قَبْلَ هَرَمِكَ،وَغِنَاكَ قَبْلَ فَقْرِكَ۔** [بیهقی عن ابن عباسؓ]

"پنځهٔ څیزونه د پنځهٔ څیزونو نه مخکښې غنیمت اوګڼړۍ. د مرګ نه مخکښې ژوند، د بیمارۍ نه مخکښې صحت، د مصروفیت نه مخکښې فراغت، د بوډاوالي نه مخکښې ځوانی او د غریبۍ نه مخکښې مالداری".

د دې حدیث مطلب دا دې چې ځوانان دې خپلې ځوانۍ غنیمت اوګڼړی دې دپاره چې هغه د خپل مستقبل حفاظت اوکړې شي او الله چې کوم نعمتونه دهٔ ته ورکړي دی د هغې نه فائده واخلی. خاص کر ځوانان د دعوت او عمل په میدان کښې د الله د راضی کولو دپاره

ملا اوتړی. ځکه چې دا میدان خو دخطرو نه ډك دې. اسانه نه ده بلکه قربانی، جان او مال خرچ کول پکښې وی. صبر او جهاد، مجاهدې، شهادت او بوجونه پورته کول پکښې وی. په ټولو خلقو کښې صرف په ځوانانو کښې دا طاقت وی چې هغه دا خبرې برداشت کولې شي او رسول الله صلی الله علیه و سلم هم دوی په دعوت مکلف کړي دے. تاریخ هم ګواه دې چې د دې ذمه واریانو چې څهٔ رنګه حق دې هغه رنګه دا فریضه اداء کولو واله هم ځوانان وو چې د ملك او ملت دپاره ئې هر څه په داؤ اولګول او په خپلو ځانونو ئې لوبې اوکړې.

د دې خبرو خلاصه دا ده چه ځوان د خپل نفس حفاظت کوی نو د دې اثر به هغه په خپل غټ عمر کښې هم ګوری او په اخرت کښې به بیا د خپل رب مخښې ته لوړ سړې وی او کوم ځوان چې په خپله ځوانئ کښې په حرامو کارونو کښې اخته وو او په شهوتونو کښې ډوب وونو هغه خپل ځان په هلاکت کښې واچوو. خپل وخت، خپل عمر ئې ضائع کړو، خپل د ایمان نور ئې مړ کړو، په خپل جسم کښې ئې کمزوری او بزدلی ښکاره کړه. اوس به د هغه مستقبل تور، انجام بد وی او د خپل ځان ملامته کولو سره به ورته هیڅ په لاس نه راځي زر به هغه د الله په عذاب کښې ګرفتار وی چې د دنیا د ټولو مصیبتونو نه سخت او زیات تکلیف ورکونکې دې.

**د ځوانانو او شیوخو، بزرګانو په مینځ کښې رابطه:**

اسلام د دې خبرې هم سبق ورکړې دې چې د داسې معاشرې بنیاد کیخودې شي د کوم افراد چې د یو بل سره د تعاون کولو د جذبې

نه ډك وی. رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمائیلي دی:

**مَثَلُ الْمُؤْمِنِيْنَ فِيْ تَوَادِّهِمْ وَتَرَاحُمِهِمْ وَتَعَاطُفِهِمْ مِثْلُ الْجَسَدِ، إِذَا اشْتَكَى مِنْهُ عُضْوٌ دَاعٰى لَهٗ سَائِرُ الْجَسَدِ بِالسَّهْرِ وَالْحُمّٰى۔** [مسلم عن النعمان بن بشیرؓ]

"محبت ، رحمت او مهربانۍ کښې د مسلمانانو مثال د یو جسم په شان دې چې کله یو اندام ته تکلیف وی نو د جسم ټول اندامونه په ویخیدو او په تبه کښې د دې مرګرتیا کولو باندې تیار شی".

شیخ سعدی رحمة الله علیه دا داسې بیان کړې ده:

*بنی آدم اعضائے یک دیگر ند — که در آفرینش زیک جوهر ند*
*چو عضوے بدرد آورد روزگار — دیگر عضو ہارا نماند قرار*

نبی کریم صلی الله علیه و سلم په دې ارشاد سره دا ښودلې ده چې د انسانیت ټولو طبقو، جماعتونو، جنسونو، قومونو او قبیلو په مینځ کښې یو بل سره تعاون کول پکار دی. د ټولو لاسونه به یوځائې وی، زړونو به ئې د یو الله تعالیٰ په رسۍ سره مضبوط تړلې شوی وی، په دې سلسلې کښې شریعت د داسې لارې ښودنه کړې ده چې دې مقصد ته ا ورسوی او د هر طرف نه دې ته رایوځائې شی. په دې سره به د ځوانانو او مشرانو په مینځ کښې رابطه مضبوطه وی. کوششونه او طاقتونه به یو ځائې وی. د یو بل د ذوق او کیفیت کوم چې په دې کښې یو اهم عنصر دې رعایت به کولې شی. د دې وجې نه شریعت په مشرانو دا لازم کړې ده چې هغوی په ماشومانو او ځوانانو باندې رحم کوی. په ماشومانو او ځوانانو ئې لازم کړې ده چې هغه به د مشرانو او بوډاګانو عزت کوی. رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمائیلی دی:

لَيْسَ مِنَّا مَنْ لَّا يُوَقِّرُ كَبِيْرَهٗ وَيَعْطِفُ عَلٰى صَغِيْرِهٖ۔ [ترمذی عن انسؓ]

"هغه زمونږ نه نه دې چې د مشرانو عزت او په ماشومانو رحم نه کوی".

دا رنګه په مشرانو دا لازم دی چې د دوی د طرف نه ماشومانو او ځوانانو ته دې تعلیم ، تربیت او تهذیب میلاویږی دې دپاره چې هغوی دا ذمه واری پورته کړی او بیا دا ځوان د دوی نه روستو د قیادت او مشرئ دپاره تیار وی او خپل مینځ کښې د تقسیمیدو نه ، د اولاد د راتلونکی خاندان د کشمکش او جګړو نه بچ شی.

نن مونږ د کوتاهئ او غفلت له کبله د ځوانانو ضائعه کیدل ، په هغوی کښې بې قراری، ګډوډ والې او انتشار وینو. په اجتماعیت کښې ضعف او کمزوری، په خپل مینځ کښې جګړې او د اتحاد او اتفاق کمې د دې وجې نه دي. تر دې چه د یو کور افراد او خلق په خپل مینځ لاس کښي او ګریوان (په جنګ) دی. ټول مسلمانان په څو ډلو او مخالف جماعتونو کښې تقسیم شو، رور د رور دښمن، لور د مور پلار او کور دښمنه. د دې ټولو خطرو نه د بچ کیدو لاره هم دا ده چې مونږ اسلامی تعلیمات په فکری ، اعتقادی غرض دا چې په هر لحاظ سره لازمی کړو. د نظم و نسق او عبادت و شریعت په هر لحاظ سره په دې باندې عمل کوؤنکی جوړ شو. د اسلام مطابق د ځوانانو تربیت امت لره یو کولې شی.

**ځوانان قیمتي سرمایه:**

ځوانان د امت سرمایه، د مستقبل امید او د وطن ذخیره ده. د امت د اجتماعی ژوند د کار روزګار د شاه رګ او دَ مستقبل د بنیاد

دپاره يو ژوندې اندام دې. هم دا ځوان دې چه د ده نه غټ غټ اميدونه کولې شی، مثلاً د عوامو فائده، د ملك دفاع او د مقدس ځايونو ازادی. هم دا ځوان دې چه د بهادرئ چينه ده، د غړمبيدونکی زمری په شان چست او چالاکه او د وطن او کلی حفاظت کونکې او نګهبان دې.

هم دا ځوان دې چې د ارزوګانو پوره کيدو ځائې دې. په مستقبل کښې د خاندان د سر تاج ، د حکومتی منصبونو ذمه وار، د شاهی تخت او تاج جنډا پورته کونکې، د علم د دروازو کولاوهونکې، د معرفت د خزانو چابيانې حاصلونکې، د اسلام او دعوت شمع بلونکې او د راتلونکې افرادو دپاره د تير شوې اسلافو او مشرانو صحيح جانشين او نائب دې.

## د اسلام د ځوانانو متعلق د رسول الله صلی الله عليه و سلم احاديث

د ځوانانو باره کښې د رسول الله صلی الله عليه و سلم د ارشاداتو نه معلوميږي چې نبی صلی الله عليه و سلم په خپل اسلامی تحريکونو کښې د ځوانانو ضرورت او اهميت محسوس کړې دې، خو کله کله ځوانان داسې هم وي چې د اسلامې تحريکونو کار ته نقصان رسوی او د هغې رُخ د يو مسلمان قوم پرستئ سياسی تحريك طرف ته دَ اړولو ذريعه ثابتيدې شی. او داسې ځوانان هم وی چې د اسلامې تحريك کار مخکښې بوځي، د هغې مټ او لاس جوړيږی او په حقيقې معنو کښې د اسلام د پاسبانانو کردار اداء کوی، د دې وجې نه رسول الله صلی الله عليه و سلم خاص توګه باندې د ځوانانو د تربيت، ترغيب او فضيلت متعلق هدايات او ارشادات فرمائيلی دی. په دې کښې لس 10

حدیثونه د اصل عربي متن او ترجمې سره نقل کولې شی دې دپاره چې ځوانان ئې یاد کړی او دا د خپل ځان دپاره د لارې ډیوه اوګرځوي او په قران کریم کښې چې د کومو ځوانانو ذکر شوې دې د هغوي د کارنامو نه هم سبق حاصل کړی.

1. سیدنا ابو هریره رضی الله عنه فرمائی چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمائیلی دی "اووه قسمه خلق دی کوم چې به الله تعالي د قیامت په ورځ د خپل رحمت په سایه کښې ساتی په هغې کښې یو دې:

**شَابٌّ نَشَأَ فِيْ عِبَادَةِ اللهِ.**

"هغه ځوان د کوم غټیدل او پرورش چهٔ د الله په عبادت کښې شوې وی". (بخاري و مسلم)

په سنن سعید بن منصور کښې د سیدنا سلمان فارسي رضي الله عنه د روایت الفاظ داسي دي:

**سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللهُ فِيْ ظِلِّ عَرْشِهٖ ـ ـ ـ ـ وَشَابٌّ اَفْنٰى شَبَابَهٗ وَنَشَأَ فِيْ عِبَادَةِ اللهِ**

[فتح الباری ص۸۵ج۲]

"اووه قسمه خلق دی چې هغوی به الله تعالي د قیامت په ورځ د خپل عرش په سایه کښې ساتی. په دې کښې یو هغه ځوان دې چې خپله ځواني او خپل ارمانونه او خوشحالیاني ئې د الله په عبادت کښې پوره کړي وی".

په دې حدیث کښې ځوانانو ته د هغوی د ژوند او ځوانۍ اصل مقصد او مصرف ورپه یاد کړې دې کوم چه د الله تعالي عبادت دې. عبادت صرف د ځوانانو د ژوند مقصد نه دی بلکه د ټولو انسانانو او

پیریانو د پیدایښت مقصد دې لیکن د ځوانئ په حالت کښې چه څه رنګه د نفس او شیطان نه بچ کیدل ګران وي، نو د دې وجې نه رسول الله صلی الله علیه و سلم او فرمائیل چې کوم ځوان خپله ځوانی په عبادت کښې تیروی او خپلې ځوانئ او جوش او چُستئ د الله د بندګئ په کارونو کښې پوره کوی نو هغه ته به د عرش په سوری کښې ځائې ورکړې شی یعنې هغه ته به د کرامت او شرافت اعلي مقام ورکړې شی. داسې ځوان بغیر د څه شك نه د الله د ولایت په مقام او مرتبې باندې وی د چا ځوانی چې پاکه او صفا پاتې شوي وی او د خپل رب په عبادت کښې تیره شوی وی. یاد ساتل پکار دی چه عبادت صرف دَ مونځ، روژې نوم نه دې بلکه هر وخت دَ غلامئ، بندګئ او تابعدارئ نوم عبادت دې. البته دا حقیقت دې چې په جامع مفهوم او د دین په جامع تصور کښې مونځ، روژه، زکوٰة، حج او جهاد ته بنیادی حیثیت حاصل دې.

۲۔ عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ رضی اللہ عنہ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صلی الله علیه وسلم اِنَّ اللهَ لَيُعْجِبُ عَنِ الشَّابِ الَّذِیْ لَيْسَ لَهٗ صَبْوَةٌ۔ [مسند احمد:۱۵۱/٤ و مسند ابو یعلی: ۲۸۸/۳]

"سیدنا عقبه بن عامر رضی الله عنه نه روایت دې چې رسول الله صلی الله علیه و سلم اوفرمائیل: بې شکه الله تعالي د هغه ځوانانو په حالت باندې خوشحالیږی په کومو ځوانانو کښې چه دَ بدو خواهشاتو طرف ته میلان موجود نه وی"

یعني د کوم ځوان طبیعت چې د ځوانئ باوجود د ګناه طرف ته مائله نه وی، د هغه حالت چې الله اوګوری نو خوشحالیږی چې د ده

ځواني ځومره عجيبه ده چه د ځوان کيدلو باوجود د د پوخ عمر د سنجيده او پرهيزګاره خلقو په شان د وقار نه ډك ژوند تيروی.

۳۔ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ ﷺ قَالَ قَالَ لَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی الله علیه وسلم يَا مَعْشَرَ الشَّبَابِ مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمُ الْبَاءَةَ فَلْيَتَزَوَّجْ فَاِنَّهٗ اَغَضُّ لِلْبَصَرِ وَاَحْصَنُ لِلْفَرْجِ وَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ فَعَلَيْهِ بِالصَّوْمِ فَاِنَّهٗ لَهٗ وِجَاءٌ۔ [بخاری و مسلم كتاب النكاح]

"د سيدنا عبد الله بن مسعود رضی الله عنه نه روايت دې چې رسول الله صلی الله عليه و سلم مونږ ته اوفرمائيل اې ځوانانو! په تاسو کښې چه څوك د نكاح وس لرى نو هغه دې واده اوكړى ځكه چې دا نظرونو لره په قابو كښې دَ ساتلو ذريعه ده او شرمګاه لره د ګناه نه د بچ كولو ذريعه ده او څوك چې د نكاح وس نه لرى نو هغه دې روژې نيسى ځكه چې روژه جنسي شهوت لره كموى".

دا هدايت د ځوانانو پاكئ(عفت) او عصمت لري د محفوظ پاتي كولو دپاه وركړې شوې دې چه د يو مسلمان ځوان ډيره قيمتي خزانه ده. په ازدواجي ژوند سره د ځوان عفت او پاكدامنی او د شرم او حيا دولت محفوظ كيږى او د ځانله والی ژوند اختيارولو سره بدې اخلاقی بيمارياني پيدا كيږى او زياتيږى. عيسائي راهبانو چې د فطرت خلاف د ښځو نه د جدا اوسيدو او واده نه كولو كومه طريقه ايجاده كړى وه هغه په اخره كښې د هغوی د عبادت په ځانله كوټو كښې د جنسي جرائمو زياتولو ذريعه ثابته شوه او نن هم د هغوی د جنسی بے لاركو قيصې شائعه كيږى. اسلام دين فطرت دې نو ځكه اسلام د ازدواجي ژوند اختيارولو حكم كړې دې او د ځانله والی (تجرد) ژوند مذمت ئې كړې دې او كه ځوانانان د واده كولو طاقت نه لرى نو هغوی ته ئې

د روژو نیولو ترغیب ورکړې دې دپاره چې طبعي شهوت کم شی او د ځان کنټرلولو عادت پیدا شی.

۴۔ عَنْ اِبْنِ عَباسٍ رضی اللہ عنہ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی الله علیه وسلم اِغْتَنِمْ خَمْسًا قَبْلَ خَمْسٍ حَيَاتَكَ قَبْلَ مَوْتِكَ وَ صِحَّتَكَ قَبْلَ سَقْمِكَ وَ فَرَاغَكَ قَبْلَ شُغْلِكَ وَ شَبَابَكَ قَبْلَ هَرَمِكَ وَغِنَاكَ قَبْلَ فَقْرِكَ۔ [مسند حاکم ص ۳۰۴ ج۴ ووافقه الذهبی رحمه الله]

"سیدنا ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دې چې رسول الله صلی الله علیه و سلم اوفرمائیل: پنزهٔ څیزونه د پنزهٔ څیزونو د راتلو نه مخکښې غنیمت اوګڼړئ! ژوند د مرګ نه مخکښې، صحت د مرض نه مخکښې، فراغت د مشغولیت نه مخکښې، ځوانی د بوډاوالی نه مخکښې، او مالداری د غریبئ نه مخکښې"

ژوند، صحت، تندرستی، فراغت، ځوانی او مالی فراخی دا هغه څیزونه دی چې تلونکی دی، د دے وجې نه دا غنیمت ګڼړلو سره سره په بې مقصده او لایعني کارونو کښې د ضائعه کولو نه ځان ساتل پکار دی او دې لره د خپل مالك او مولا د خوشحالئ حاصلولو دپاره او د خپل اخرت د سمولو دپاره استعمالول پکار دی. ځوانی بیا نه راځی او په بوډا والی کښې دومره محنت نه شی کولی څومره چې په ځوانئ کښې کولې شی. د دې وجې نه په حدیث کښې د شباب لفظ ذکر په خاص توګه باندې شوې دې.

۵۔ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ رضی اللہ عنہ قَالَ النَّبِیُّ صلی الله علیه وسلم لَا تَزُوْلُ قَدَمَا عَبْدٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتّٰى يُسْأَلَ عَنْ خَمْسٍ عَنْ عُمُرِهٖ فِيْمَا اَفْنَاهُ وَعَنْ شَبَابِهٖ فِيْمَا اَبْلَاهُ وَعَنْ مَالِهٖ مِنْ اَيْنَ اِكْتَسَبَهٗ وَفِيْمَا اَنْفَقَهٗ وَعَنْ عِلْمِهٖ مَا عَمِلَ فِيْهِ. [ترمذی کتاب الرقاق]

"د سیدنا عبد اللّٰه بن مسعود  رضي الله عنه نه روایت دې چې رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه و سلم اوفرمائیل:

"د قیامت په ورځ د هیڅ یو بنده قدمونه د خپل ځائې نه خوځیدې نه شی تر څو پورې چې د هغه نه د پنځۀ څیزونو په باره کښې تپوس نه وی شوی. د عمر په باره کښې چې په کومو کارونو کښې دې پوره کړې وو، د ځوانئ په باره کښې چې په کومو کارونو کښې دې تیره کړي وه، د مال په باره کښې چې د کوم ځائې نه دې ګټلې وو او په کوم ځائې کښې دې خرچ کړې وو او د علم په باره کښې چې څومره عمل دې پرې کړې وو؟".

په انساني ژوند کښې عمر، ځوانئ، مال او علم ته بنیادي حیثیت حاصل دې، دا څلور واړه څیزونه د خلاصی او سعادت وسیله هم ثابتې دې شي، که د دې شکر اداء کړې شي او د عذاب او بدبختئ ذریعه هم ثابتې دې شی که د دې ناشکری اوکړې شی.کومو ځوانانو چې خپله ځوانی په غفلت، اواره ګردئ او حیوانی خواهشاتو پوره کولو برباده کړي وی نو هغه به سراسر په تاوان کښې وی لیکن چې  کومو خوش نصیبه ځوانانو چې خپله ځواني د اللّٰه په بندګئ او د هغه د دین په لوړوالي کښې تیره کړي وي نو هغه به د ټولو نه زیات په فائده کښې وی.

٦۔ عَنْ اَبِیْ اُمَامَۃَ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ قَالَ قَالَ النَّبِیُّ صلی اللہ علیہ وسلم مَا مِنْ نَاشِیٍٔ یَنْشَأُ فِی الْعِبَادَۃِ حَتّٰی یُدْرِکَہُ الْمَوْتُ اِلَّا اَعْطَاءَ اللّٰہُ اَجْرَ تِسْعَۃٍ وَّ تِسْعِیْنَ صَدِیْقًا۔

[المعجم الاوسط للطبرانی طبع ریاض١٩٨٥ء ص ٤٣٦ج ١]

"سیدنا ابو امامه باهلي رضي الله عنه فرمائي چې نبی کريم صلی الله علیه و سلم اوفرمائيل:
نشته هیڅ يو ځوان چې د هغه غځوالې او پرورش د الله په عبادت کښې کيږی تر دې چې هغه لره مرګ راشی مګر الله تعالي به هغه ته د نهه نوی 99 صاديقينو اجر ورکړی."

صديقين هغوي ته وئيلې کيږی چې په ايمان او عمل کښې کره، رښتونی، صفا او حقه خبره کونکی، ديانت دار، د سنت او شريعت په سختئ سره پابندی کونکی وی، د دوی مرتبه د انبياء عليهم السلام پسي ده ا وهم دوی ته د الله وليان وائی. په ځوانئ کښې د عبادت پابندی کول د ډير لوئي عزم ، همت او ضبط نفس تقاضي کوی او کوم ځوان چې تر مرګه پورې خپل دا عزم او ضبط برقرار اوساتو نو دا نه صرف صديق او ولي الله جوړيږی، بلکه د ده اجر د نهه نوي 99 اولياؤ او صديقينو برابر به وی کومو چې د صديقيت دا مقام په بوډاوالی کښې حاصل کړې وی.

۷۔ عَنْ وَاثِلَةَ بْنِ الْاَسْقَعِ ﷺ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صلی الله علیه وسلم قَالَ خَيْرُ شَبَابِكُمْ مَنْ تَشَبَّهَ بِكُهُوْلِكُمْ وَشَرُّ كُهُوْلِكُمْ مَنْ تَشَبَّهَ بِشَبَابِكُمْ۔

[مسند ابو يعلى طبع بيروت ۱۹۸۸ء ص۴٦۷ج۱۳،المعجم الكبير للطبرانی ص۳ج۲۲]

"د سيدنا واثله بن اسقع رضي الله عنه نه روايت دې چې رسول الله صلی الله علیه و سلم اوفرمائيل: ستاسو په ځوانانو کښې بهترين ځوانان هغه دي چې د پوخ عمر والا په شان پوخ کردار والا وی او

ستاسو په پوخ عمر والا کښې بد ترین خلق هغه دي چې د ځوانانو په شان ناپوخ او کچه کردار والا وی".

د کهولت (د ځوانئ او بوډاوالي په مینځ کښې چه کوم عمر وی) عمر د دیرشو 30 او د پنځوسو 50 کالو په منځ کښې وي. په دې عمر کښې عامه توګه باندې د عقل، مزاج، طبیعت او اعصابو کښې پوخ والې راځی، ماشومانو او کچه کردار او ګفتار عادتونه ختمیږي او د مضبوط والی او سنجیدګئ د باوقار او ذمه وار ژوند دور شروع کیږی خو څه خوش قسمته داسي هم وی چې د ځوانئ په عمر کښې پاخه وی. یعني په عمر کښې خو کچه او کم وی خو په کردار کښې پاخه وي. داسي ځوانانو ته رسول الله صلی الله علیه و سلم "بهترین ځوانان" وئیلي دی چه ډیر لوئې اعزاز دې او ډیر لوئې سعادت دې. بل اړخ ته څه بد قسمته داسي هم وی چه پوخ عمر کښې هم د کچه کردار مالکان وي او د لوفرو ځوانانو په شان ژوند تیروی. داسي زوړ عمر والا خلقو ته رسول الله صلی الله علیه و سلم "بدترین خلق" وئیلي دي چه ډیر بد خطاب دې او ډیره لویه بد بختي ده.

۸۔ عَنْ اِبْنِ عُمَرَ رضی اللہ عنہ عَنِ النَّبِيِّ صلی الله علیه وسلم قَالَ اِنَّ اللهَ یُحِبُّ الشَّبَابَ الَّذِیْ یُفْنِیْ شَبَابَهٗ فِیْ طَاعَةِ اللهِ عَزَّوَجَلَّ۔ [حلیة الاولیاء و طبقات الاصفیاء طبع بیروت ۱۹۸۷ء ص۳۶۰ج۵]

"سیدنا ابن عمر رضي الله عنه نقل کوی چې نبی کریم صلی الله علیه و سلم فرمائیلی دی: بې شکه الله تعالیٰ د هغه ځوان سره محبت کوی کوم چې خپله ځوانی د الله په اطاعت کښې فنا کړي وي".

"فنا فی الله" د صوفیاؤ یو اصطلاح ده کوم چه غالی او جاهل قسمه صوفیا په غلطه معني کښې استعمالوی خو د دې صحیح مفهوم دا دې چې د زړهٔ نه د الله اطاعت کول او د هغه د رضا او محبت په طلب کښې خپل خواهشات قربانول. نو چې کوم ځوان د الله د رضا د حاصلولو دپاره د هغه په اطاعت کښې خپله ځواني فنا کوي نو هغه په صحیح معنو کښې د "فنا في الله" په درجه باندې دې، الله د ده سره محبت کوي او هغه په حقیقي معنو کښې ولي الله وي.

۹۔ عَنْ طَلْحَةَ قَالَ قَالَ النَّبِیُّ صلی الله علیه وسلم اِنَّ اللهَ یُبَاهِیْ بِالشَّابِ الْعَابِدِ الْمَلَائِکَةَ یَقُوْلُ اُنْظُرُوْا اِلٰی عَبْدِیْ تَرَکَ شَهْوَتَهٗ مِنْ اَجْلِیْ۔[کنز العمال ص۷۷٦ ج ١۵]

"سیدنا طلحه رضي الله عنه وائي چې نبی صلی الله علیه و سلم فرمائي : بې شکه الله په عبادت ګزار بنده باندې د فرشتو په وړاندې فخر کوی او فرمائي چې زما دې بنده ته اوګورې کوم چې زما دپاره خپل نفسانی خواهشات پریخي دي".

د دې نه لوئې سعادت بل څه کیدې شی چې الله تعالي د خپلو فرشتو په مجلس کښې په خپله د چا د خیر ذکر اوکړی او د هغه په عبادت او بندګئ باندې فخر اوکړی. دا اوچت مقام هغه ځوان ته میلاویدې شي کوم چې خپله ځوانی د الله عبادت او د رسول الله صلی الله علیه و سلم په اطاعت کښې تیروی. په بې مقصده او لایعني قسمه شور شرابه او لوبو ټوقو کښې خپله قیمتي ځواني ضائعه او برباده کوی نه بلکه دې لره غنیمت اوګڼړی او د خپل اخرت دپاره ئې سرمایه جمع کوي.

۱۰۔ عَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صلی الله علیه وسلم فَضْلُ الشَّابِّ الْعَابِدِ الَّذِیْ یَعْبُدُ فِیْ شَبَابِهٖ عَلَی الشَّیْخِ الَّذِیْ یَعْبُدُ بَعْدَ مَا کَبِرَتْ سَنُهٗ کَفَضْلِ الْمُرْسَلِیْنَ عَلٰی سَآئِرِ النَّاسِ۔[الفردوس للدیلمی طبع بیروت ۱۹۹۶ء ص۱۳۲ج۳]

"د سیدنا انس ابن مالك رضي اللّٰه عنه نه روایت دې چې رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه و سلم اوفرمائیل: د هغه عبادت ګزار ځوان فضیلت کوم چې په خپله ځوانئ کښې هم عبادت کړې وی، په هغه بوډا باندې کوم چې په بوډاوالي کښې عبادت شروع کړې وي دومره ډیر دې لکه څنګه چې د اللّٰه د رسولانو فضیلت په باقي خلقو باندې دې"

دا یو ترغیبي حدیث دې د کوم مقصد چې ځوانانو لره په عبادت باندې راپارول دی او دا یو حقیقت هم دې چې د ځوانئ عبادت لره د بوډاتوب په عبادت بادنې ډیر فوقیت حاصل دې.

په دې حدیثونو کښې چې د کومو ځوانانو د فضیلت ذکر دې د دې نه مراد هغه ځوان دی کوم چې په ځوانئ کښې عبادت او د دین دعوت او اقامت کار شروع کړې وی او په بوډا والي کښې ئې هم د خپل وس مطابق هغه کار جاري ساتلې وي او تر دې چې هم په دې عبادت او دعوت په دې کار باندې د دې فاني دنیا نه تلې وی او د کومو بوډاګانو درجه او مرتبه چه د ځوانانو نه کمه ښودلې شوي ده نو د هغې نه مراد هغه بوډاګان دي کومو چه عبادت او د دعوت کار په بوډاوالي کښې شروع کړې وی او تر مرګه ئې دا کار جاري ساتلې وی خو د دوی ځوانی د عبادت او دعوت د کار نه په غفلت کښې تیره شوی وی.

**اصل طرف ته رجوع:**

د قومونو ژوند صرف د حال او مستقبل سره وابسته نه وی، د دوی ماضی هم د دوی پهچان او لار ښودنې یو موثر ذریعه وی. ژوندي او بېدار قومونه د نورو په نقل کولو کښې د خپل ماضی د نفي کولو په ځائې د هغې سره پیوست اوسیږی. د دې قومونو د سرو زرو په شان روایات نوي نسل طرف ته منتقل کیږی. زمونږ تاریخ خو د الله په فضل سره شاندار دې. د بده مرغه زمونږ حکمرانان د دې نه ناخبره او د نورو په ذهني غلامۍ کښې مبتلاء دی. نن مونږ د امت مسلمه ځوانانو ته د خپل ماضي اړخ ته د رجوع کولو دعوت ورکول غواړو.

ځوانان د هر قوم د ټولو نه قیمتي سرمایه وی. کوم قومونه چې د خپل ځوان نسل د مناسب تعلیم او تربیت اهتمام اونه کړې شي نو هغوي خپل عزتونه بېلي او د خپل روښانه مستقبل نه محرومه کیږی. بېدار مغز قیادت همېشه د نوي نسل دپاره داسي ماحول فراهم کوی، په کوم کښې چې د خپلو بنیادي عقائدو خړوبول وی. صحت منده معاشره د خپل منزل تعین کوی او ځانلوالی سره د هغې اړخ ته روان وی او د خپل روښانه ماضی سره د راتلونکي نسل رشته ساتلو پوره اهتمام کوی. د کومو امتونو حال چې د هغوی د ماضی نه بې تعلقه وی نو د هغوی مستقبل د بې یقینۍ ښکار کیږی.

**د وینا او عمل اخلاص:**

مونږ د الله په فضل سره دومره شانداره ماضی لرو چې که د هغې په رڼړا کښې مونږ د مستقبل لارې معینې کړو نو هر اړخ ته به

رنړه ښوره شي. مونږ سره د هدايت رباني دوه داسي غټې چينې موجود دي چه د هغې د موجود والى په صورت كښې مونږ هيڅ كله هم بې لارې او ذليله كيدې نه شو خو د دې دپاره شرط دا دې چې مونږ صرف په خپله ورثه باندې په فخر او ناز كولو ورك نه شو بلكه هغې لره ځان ته د ځان نه هم د عزت په نظر اوګورو. د دې اوامر او نواهى د زړه او جان نه تسليم كو او د دې جامع نظام لره بغير د څه كمي نه په پوره اخلاص سره د ژوند په هره شعبه كښې خپل كړو. په خپل پلار نيكه باندې فخر كول په ځائې دي خو هغه فخر د ننګ او عار باعث وى، په كوم كښې چې اَخلاف(روستو راغلى خلق) د خپلو اسلافو (مخوانى خلق) د لارې نه اوړيدل وى، سيدنا على رضى الله عنه بن ابى طالب څه ښه فرمائيلى وو:

إِنَّمَا الْفَتٰى مَنْ يَّقُوْلُ هَا اَنَاذَا وَلَيْسَ الْفَتٰى مَنْ يَّقُوْلُ كَانَ اَبِىْ

(ځوان سړې خو هغه دې چې په ميدان كښې راوځى او اووائې چې زهٔ د چيلنج د مقابلې دپاره موجود يم، هغه څه ځوان سړې نه وى چې په مشكل وخت كښې دا چغې وهى چې زما پلار نيكه داسې وو او داسې وو).

**اې مسلمان ځوانانو !**

په عالم اسلام كښې د عالم كفر په مقابله كښې د ځوانانو تناسب ډير زيات دې. د خپل ځوان نسل د وجې نه امت مسلمه ډيره لويه سرمايه په خپله لمن كښې لرى، خو اغيار مونږ لره زمونږ د تاريخ نه همېشه د كټ كولو كوشش كښې دى. واحسرتا! څوكيداران د غلو سره مېلاؤ شوى دى بلكه په حقيقت كښې هم غله څوكيداران جوړ

شوی دی. زمونږ تحفظ په دې خبره کښې دې چې مونږ خپل اصل او پیژنو، نه دا چې مونږ د نورو نقل اوکو. مغرب زمونږ د نظریاتو د بیخ ویستلو دپاره ښه په سوچ او پوهې سره دا منصوبه بندي کړي ده چې د امت مسلمه په ځوانانو کښې فحاشي، عریانی، بې حیائی، بدکاری او عیاشی عامه کړی . د تفریخ په نوم باندې داسې بد مواد په ذهنونو کښې اچولې کیږی کوم چې د زهر هلاهل نه هم زیات خطرناك دی. مونږ لره د خپل ځوان نسل د خپلو اسلافو سره د یوځائې کولو د پاره سنجیده کوششونه کول پکار دی. علامه محمد اقبال ډیر د زړه په درد سره د خپل زمانې په مشهور نظم "خطاب نوجوانان اسلام" کښې مسلمان ځوان ته خپل مقام ورپه یاد کړې وو، څه اشعار ئې اوګورې:

کبھی اے نوجواں مسلم تدبر بھی کیا تو نے؟
وہ کیا گردوں تھا، تو جس کا ہے اک ٹوٹا ہوا تارا
تجھے اس قوم نے پالا ہے آغوش محبت میں
کچل ڈالا تھا جس نے پاؤں میں تاج سر دارا
تمدن آفریں، خلاّقِ آئین جہاں داری
وہ سحرائے عرب، یعنی شتر بانوں کا گھوارا
گدائی میں بھی وہ اللہ والے تھے غیورا تنے
کہ منعم کو گدا کے ڈر سے بخشش کا نہ تھا یارا
تجھے آبا سے اپنے کوئی نسبت ہو نہیں سکتی
کہ تو گفتار، وہ کردار تو ثابت، وہ سیارا
گنوادی ہم نے جو اسلاف سے میراث پائی تھی

ثریا سے زمیں پر آسماں نے ہم کو دے مارا
حکومت کا تو کیا رونا کہ وہ اک عارضی شے تھی
نہیں دنیا کے آئیں مسلّم سے کوئی چارا
مگر وہ علم کے موتی، کتابیں اپنے آبا کی
جو دیکھیں ان کو یورپ میں تو دل ہوتا ہے سیپارا

مونږ هم غواړو چې ځوان نسل د دې د سعادت دور سره اوتړلې شی کوم ته چې خير القرون وئيلې شوي دي، هغه دور چې پکښې به د اسمان په زمکه مخامخ د وحي رنړه راکوځيده او په دې رنړه کښې راغتيدونکې نسل ته ئې جيل القران اوئيلو.

**حقيقي ځوان:**

ځيني خلق دا بحث چهيړی چې ځوان څوك دې. بغير د څه شك نه د عمر هغه حصه په کومه کښې چې صلاحيتونه مسلسل زياتيږی، د جسم و جان او د زړه او دماغو قوتونه په ځوانئ کښې وی او د څه کولو سودا په سر کښې سمه کړې شوي وي، دې ته د ځوانئ دور وائي. د دې معروف تعريف سره دا خبره هم په نظر کښې کيدل پکار دی چې که ځيني وخت د مياشت او کال په پيمانه سره اوتللی شی نو يو تن به د ځوان وئيلو مستحق اوګڼړلې شی خو که زړه ، جګر، جذبات او عزائم باندي اوتللې شي نو هغه ځوان به بوډا ثابت شی. د دې په الټه ځيني سپين ګيری، ډير عمر والا افراد د خپل ايمانی ګرمائش او دينی جوش د وجې نه تازه دم او د ځوان وئيلو به مستحق شی. داسي شل کله بوډاګان او اوويا 70 کله ځوانان هم بيا مونديې شی. مونږ دې ځوانانو لره

مخاطب کول غواړو د کومو ځوانئ چې هم بې داغه وی او د موثرحملې کولو صلاحیت هم لری.

*وہی جواں ہے قبیلے کی آنکھ کا تارا*
*شباب جس کا ہے بے داغ، ضرب ہے کاری*

## زمونږ هیرو څوک؟

زمونږ هیرو او مثالی شخصیات د صحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین نه علاوه څوك کیدې شی؟ دا صحابه کرام خو د اسمان هدایت ستوری وو، د رنړه منارې وی، د رسالت د ډیوې حقیقی ببوزی وو، غرض د کائناتو حاصل وو، د صحابه کرامو ژوند د هر عنوان د لاندې بیانولې شی. د صحابه کرامو د ټولو نه لویه خوبی دا وه چې هغوی په رسول الله صلی الله علیه و سلم باندے ځان قربانونکی وو او دې سره سره د رسول صلی الله علیه و سلم محبوب هم وو. مونږ ګورو چه د نبی کریم صلی الله علیه و سلم او صحابه کرامو په خپل مینځ کښې تعلق دومره مثالی وو چې د عالم تاریخ د دې د نظیر پیش کولو نه بې وسه دې. د کارکنانو په خپل قائد باندې مکمل اعتماد وو او قائد په خپلو کارکنانو باندې ناز کوو. نبی صلی الله علیه و سلم اوفرمائیل چې زما صحابه کرام د ستورو په شان دی تاسو چې د کوم یو هم پیروی کوئ نو د هدایت لاره به بیا مومئ. هغوی د کفارو په مقابله کښې سخت وو او په خپلو کښې رحم کوؤنکی وو. ولې به داسې نه وی هغوی د نبی رحمت صلی الله علیه و سلم رښتونی پیروکار چې وو.

نبی اکرم صلی الله علیه و سلم د ټول دنیا دپاره رحمت وو. نبی صلی الله علیه و سلم په خپلو باندې خو مهربان وو خو د اغیارو د پاره هم د نبی صلی الله علیه و سلم رحمت به همېشه وو. صحابه کرامو به په نبی صلی الله علیه و سلم باندې ځان قربانوو نبی صلی الله علیه و سلم ورته د دنیا د هر څیز نه ګران وو. او په هغوی کښې چا دا سوچ قدرې هم نه شو کولې چې د هغوی یو مصیبت دې لرې کړې شی او د هغې په بدلې کښې دې نبی صلی الله علیه و سلم ګرفتاره شی. په خپله رسول صلی الله علیه و سلم هم د صحابه کرامو سره دومره زیات محبت وو چې د هغې مثال چرته هم نه شی میلاوېدې. په نبی صلی الله علیه و سلم باندې ایمان راوړونکی زیات خلق بالکل نووي او لګ عمر والا وو. په تاریخ اسلام بلکه په تاریخ انسانیت کښې همېشه د حق ملګرتیا کوؤنکو کښې په هره اوله دسته کښې ځوانان په نظر راغلي دی.

د نبی اکرم صلی الله علیه و سلم صحابه د خپلو خپلو خاندانونو نه داسي یو یو د نبی صلی الله علیه و سلم ګیر چاپېره جمع شو چې تاریخ ورطه په حیرانتیا کښې ډوب شو. مشران، بوډاګان او سرداران دښمنان وو خو ځوانان د رسالت د ډیوې ببوزی جوړ شو او د نبی صلی الله علیه و سلم نه چاپېره الوتل رالوتل. د نبی صلی الله علیه و سلم نه مخکښې د نورو انبیاؤ ابتدائی ملګرو زیات شمېر هم په ځوانانو مشتمل په نظر راځی.

# کم عمر صحابهؓ او د دین اقامت

د انقلاباتو تاریخ ګواه دې چې همېشه ځوانه طبقه د دې اړخ ته مخکښې شوي ده، وجه دا ده چه د دوی ذهن او دماغ په پخوانو سانچو کښې داسې نه وی ورغورځېدل چې د هغې بدلیدل اسان نه وی. بیا په دې طبقه کښې د کار کولو ولوله او د انقلاب راوستلو امید وی، دوی عزم ځوان او همتونه اوچت ساتی. د دوی په رګونو کښې ګرمه وینه وی. هغوی د مصلحت پرستې د بیمارئ نه پاك وی او د دوی په لاس او مټ کښې هغه د اوسپنې قوت وی چې دوی لره د غر سره د ډغرې وهلو، د حالاتو رُخ تاوهلو، د مصیبتونو او مشکلاتو زغملو، په قربانیانو باندې قربانیانې ورکولو او مسلسل د سعې او کوشش کولو قابل جوړوی. دا صفتونه د هر انقلاب دپاره ضروری دی او دا صفتونه په عامه توګه باندې په ځوانانو کښې وی.

د اسلامی انقلاب تاریخ هم د دې حقیقت عادل ګواه دې. د موسیٰ علیه السلام په دعوت باندې عملاً لبیك وئیلو والا د بنې اسرائیلو څو د سر نه تیر ځوانان وو کومو چه د موسیٰ علیه السلام دعوت قبول کړو او د فرعون په شان ظالم او د خپل اختیار مالك د ظلم او ستم نښه جوړیدلو دپاره ئې خپل ځانونه وړاندې کړي وو. د بنې اسرئیلو قوم سره د دې چې ټول په ټوله مسلمان قوم وو خو د بیګار او زوال ډیر په بده طریقه ښکار شوی وو او د غلامئ په فضاء کښې تر ډیرې مودې پورې پاتې کیدو د وجې نه ئې جرات او اوچت عزم بائللې وو. د فرعون او د فرعون د قوم د ظلمونو د ښکار کیدو د وجې نه په هغوي کښې دا

حوصله نه وه پاتي شوي چې هغوی د اقتدار په خلاف څه قدم پورته کړې شي، هغوی د وخت د اقتدار په وړاندې سر په سجده شوي وو او د الله رب العالمین په ځائې د فرعون او د فرعون د قوم د یرې نه رپیدل. نو هر کله چې به د موسی علیه السلام دعوت پورته شو نو هغې لره د حق ګنړلو باوجود ځوان عزم او مصلحت نه خالی عقل والا څه ځوانان مخکښې شو سره د دې چې د قوم مشران بوډاګان هغوي لره منع کولو چې څه کوئې.... د فرعون قوم به ستاسو خلاف شی او تاسو به د ظلم او ستم په میچن کښې اوړه کړی.

فَمَآ اٰمَنَ لِمُوْسٰۤى اِلَّا ذُرِّيَّةٌ مِّنْ قَوْمِهٖ عَلٰى خَوْفٍ مِّنْ فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ئِهِمْ اَنْ يَّفْتِنَهُمْ وَاِنَّ فِرْعَوْنَ لَعَالٍ فِى الْاَرْضِ وَاِنَّهٗ لَمِنَ الْمُسْرِفِيْنَ - [یونس، ۸۳]

نو د موسی علیه السلام په دعوت باندې لبیك اونه وې مګر د هغه د قوم څو ځوانانو، د فرعون او د خپلو مشرانو د ویري باوجود چې فرعون هغوی لره په مصیبتونو کښې وانه چوی، یقیناً فرعون په زمکه کښې اقتدار لرو او ظالم او د حد نه تیروتونکې وو.

دا حال د محمد رسول الله صلی الله علیه و سلم د دعوت هم وو، په هغې باندې لبیك وئیلو والا ډیر اکثریت د ځوانانو وو، سیده خدیجه رضي الله عنها نه علاوه چه کومه بی بی محترمه هم وه ، او غیر معمولي بیبیانې وې، په اَلسّٰبِقُوْنَ الْاَوَّلُوْنَ کښې ټول خلق د څلویښتو کالو نه کم وو، په هغوي کښې د ټولو نه بزرګ سیدنا ابو بکر رضي الله عنه وو چه د ایمان راوړلو په وخت کښې په مشکل سره د اووه دیرش اته دیرش کالو وو، سیدنا عمر رضی الله عنه د دیرش دوه دیرش کالو وو،

سیدنا عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه د دیرشو کالو نه لګ زیات وو، بیا دې عمر والا خلق لګ وو کنه نو ډیر اکثریت د دیرشو کالو نه د کم عمر والا وو او په هغې کښې داسې خلق ډیر وو چې د هغوی عمر د ایمان راوړلو په وخت کښې د شلو کالو نه هم کم وو. په ایمان راوړونکو کښې د بوډاګانو شمېره ډیر کمه وه، د نیش برابر وو او دوی ایمان هم راوړو خو ډیر روسته، د خپل اولاد د ایمان راوړلو په نتیجه کښې یا د اسلامی اقتدار نه د ویریدلو د وجې، او په دې کښې هم ډیر منافقین او ضعفاء وو چې د خپل اولاد او خپلو خپلوانو د محبت د وجې نه د مسلمان معاشرې نه کټ کیدل نه غوختل. خو د اسلام په لاره کښې قربانۍ ورکولو ته تیار نه وو. او اسلام د قربانیانو مطالبه کوله. صرف دا نه، هغوی د خپل قوم ځوانان سر تیره او لیونې ګڼړل ځکه چې هغوی د رسول الله صلی الله علیه و سلم بے پناه اطاعت او د دین د اقامت په لاره کښې د هغوی په خیال خپل مستقبل او خپله دنیا تباه کوله.

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ آمِنُوا كَمَا آمَنَ النَّاسُ قَالُوا أَنُؤْمِنُ كَمَا آمَنَ السُّفَهَاءُ أَلَا إِنَّهُمْ هُمُ السُّفَهَاءُ وَلَٰكِن لَّا يَعْلَمُونَ۔ [بقرہ ۱۳]

"کله چې دې منافقینو ته اوئیلې شی چې ایمان راوړۍ لکه څنګه چې هغه مخلصو خلقو ایمان راوړې وو نو دوي وائي چې ایا مونږ ایمان راوړو لکه چې بې وقوفو ایمان راوړې؟ واورئې! یقیناً دا منافقین بې وقوف دي، خو دوي ته پته نیشته".

دا د سر نه تیر او د مصلحت نه ناخبره ځوانان وو چه د مکې د قریشو او بیا د پوره عربو سره اوجنګیدل او اخر دا چې هغوی د عربو په

زمکه باندې اسلام غالب او سر لوړی کړو. او بیا دا خلق ځوان عزم ئي اوکړو او راپاسیدل او د ایرانی شهنشاه او رومن ایمپائر سره......چې د دنیا په یو وخت کښې دوه عظیم ترین طاقتونه وو، اوجنګیدل او د هغوی اقتدار ئې په بله واړوو او د دنیا په یو متمدن غټه حصه باندې ئې اسلام غالبه او سر لوړی کړو او بیا ئې د خلافت راشده هغه بې مثاله نظام قائم کړو د کوم چې هیڅ مثال په انسانی تاریخ کښې نه مېلاویږی. اسلام او اصلاحي تحریکونو ته هم د داسي ځوان عزم او بې باکه حرارت لرونکو ځوانانو ضرورت دې.

## په هر دور کښې ځواني جذبې:

"په سورة یونس کښې لفظ ذریة استعمال شوې دې د کوم معنې چې اولاد دې. مونږ د دې ترجمه "ځوان" کړي ده. خو په اصل کښې د دې خاص لفظ په استعمال سره چې قران مجید کومه خبره بیانول غواړی هغه دا ده چې په دې د خطرو نه ډکې زمانه کښې د حق ملګرتیا کونکی او د حق جنډې اوچتونکی لره خپل راه نما منلو جرأت څه هلکانو او جینکو خو اوکړو مګر د پلار نیکه او د قوم مشرانو خلقو ته د دې توفیق نصیب نه شو. په دوی باندې مصلحت پرستی او د دنیوی اغراضو بندګئ او د ځان سلامتی غوختل څه داسي پرته وه چې هغؤی د داسي حق ملګرتیا اونهٔ کړه د کوم لاره چې دوی ته د خطرو نه ډکه ښکاریده، بلکه التہ ئې ځوانان منع کول چې د موسی علیه السلام خواته مه ځئ تاسو به په خپله هم د فرعون په غضب کښې مبتلاء شئ او په مونږ باندي به هم افت راولې.

دا خبره په خاص توګو قران ښکاره کړي او بیان کړي د دې وجې نه چې د مکې د ابادئ نه هم د محمد صلی الله علیه و سلم ملګرتیا د پاره چې

کوم خلق رامخکښې شوي وو هغه د قوم بوډاګان او مشران نه وو بلکه ځو باهمته ځوانان وو. هغه ابتدائي مسلمانان چې د دې ایت د نازیلدو په وخت کښې د ټول قوم د سخت مخالفت په مقابله کښې د اسلام د رښتیاوالی حمایت ئې کوو او د ظلم او ستم په دې طوفان کښې چې د چا سینې د اسلام دپاره شپول جوړ شوی وو په هغې کښې مصلحت لټونکې بوډا یو هم نه وو بلکه ټول په ټوله ځوانان وو. علی ابن ابی طالب، جعفر طیار، زبیر، طلحه، سعد بن ابی وقاص، منصعب بن عمیر او عبد الله بن مسعود رضی الله عنهم اجمعین په شان خلق د اسلام د قبلولو په وخت د شل کاله نه د کم عمر وو. عبد الرحمن بن عوف ، بلال او صهیب رضی الله عنهم اجمعین عمرونه د شلو او دیرشو په مینځ کښې وو. ابو عبیده بن جراح، زید بن حارثه، عثمان بن عفان او عمر فاروق رضی الله عنهم اجعمین د دیرشو او پنزۀ دیرشو کالو په مینځ عمر کښې وو.د دوی نه زیات په عمر کښې ابو بکر رضی الله عنه وو او د هغه عمر هم د ایمان راوړلو په وخت کښې د اته دیرشو کالو نه زیات نه وو. په ابتدائی مسلمانانو کښې صرف د یو صحابي نوم مونږ ته مېلاویږی د چا عمر چې د نبی صلی الله علیه و سلم نه زیات وو، یعنی سیدنا عبیده بن حارث رضی الله عنه او غالباً په پوره ټولګي کښې عمار بن یاسر رضی الله عنه د نبی صلی الله علیه و سلم همزولې (عمر کښې برابر) وو.

**زمونږ حقیقی اسلحه:**

ځوانانو صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین په اسلامی انقلاب راوستول کښې د نبی صلی الله علیه و سلم پوره ملګرتیا اوکړه.

نبي صلی الله علیه سلم ته په دې خپلو صحابه کرامو باندې ډیر ناز وو. د دې وجې نه نبي صلی الله علیه و سلم به وخت په وخت د هغوی حوصله زیاتوله. د نن مسلمان ځوانانو لره خپله رشته د دې شاندار تاریخ سره یوځائې کول پکار دی کنه نو مغربي فحاشی او عریانی او مشرقي جهالت او ازادی به مونږ لره زمونږ د اصل نه کټ کړي او د تباهۍ تختې ته به مو اورسوی. زمونږ په تولو دینی شعائرو پسې ټوقې کولې شي، زمونږ د مقدس ځایونو توهین کولې شی، زمونږ پاکیزه شخصیات او د انبیاء کرامو خلاف بکواسات کولې شی. دا ټولې هربې زمونږ په زخمونو د مالګې دوړولو په شان دی او زمونږ د اعصابو د امتحان سازش هم دې. مونږ د دوی مقابله کولې شو لیکن زمونږ حکومتونه نااهل دی. مونږ لره په خپلو صفونو کښې اتحاد پیدا کولو سره سره په هر محاذ د دې بدتمیزۍ د دې طوفان مقابله کول ضروری دی. زمونږ اسلحه د قران او سنت په رنړه، د نبي صلی الله علیه و سلم ژوند مبارك او د صحابو او صحابیاتو ایمان زیاتونکی واقعات دی. مونږ لره خپل اصل اړخ ته رجوع (واپس کیدل) کول ضروری دی کنه نو زمونږ قیصه به هم نه وي په قیصو کښې.

نہ سمجھو گے تو مٹ جاؤ گے دنیا سے مسلمانوں!
تمہاری داستان تک بھی نہ ہو گی داستانوں میں

# صحابه کرام رضي الله عنهم، د رڼا مُنارې

انسان د مختلفو څیزونو سره محبت کوی. دخپل ځان نه واخله تر رشته دارو، دوستانو او نفس لره مرغوبه کونکی څیزونه، هر څیز زړه لره مائله کوی. خاندان، قبیله او خپله برادري طرف داري هم د انسان په وینه کښې شامله ده. د اسلام غوختنه د خپلو منونکو نه هم دا ده چې هغه د هر څه نه زیات د الله او د هغه د رسول صلی الله علیه و سلم، دینِ اسلام او جهاد في سبیل الله سره محبت اوکړي.

په قرآن مجید کښې د الله تعالي ارشاد دې:

" نبی صلی الله علیه و سلم اووایه چې که ستاسو پلار، او ستاسو ځامن، او ستاسو رونړه او ستاسو ښځې او ستاسو خپل خپلوان او ستاسو هغه مال چې تاسو گټلي دې، او ستاسو هغه کاروبار د کوم د تاوان نه چې تاسو یریږئ، او ستاسو هغه کور چې ستاسو خوښ دی، تاسو لره د الله او د هغه د رسول او د هغه په لاره کښې د جهاد نه زیات خوښ دې نو انتظار کوئ تر دې چې الله خپله فیصله ستاسو وړاندې راوړی او الله فاسقو خلقو ته لارښودنه نه کوی". (سورة التوبة : ٤ )

د عربو په کوم ماحول کښې چې نبی صلی الله علیه و سلم راؤلیږلے شو، هغه ناشنا قسمه د جاهلیت معاشره وه. د دې مکمل شکل بدلول د اسلام داسې معجزه ده، د کوم انکار چې هیڅ یو سلیم الفطرت انسان نه شی کولې. صحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین مثالی مومنان وو. هغوی هر کار په انقلاب سره کړې.

## ځوانان صحابه او اسلامي انقلاب:

صحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین د انبیاء علیهم السلام نه روستو د ټولو نه اعلیٰ او د ټولو نه زیات پاکیزه نفسونه وو. تاریخ د صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین د معاشرې په شان هیڅ یو معاشره نه ده لیدلي، دې بزرګانو خپل ټول ژوند د حق په تابعدارئ، د دین په دعوت، او د الله د کلمې په پورته والی کښې لګولي او د دین د اقامت دپاره داسې بې مثاله قربانیانئ ورکړي چې تاریخ د دې د مثال پیش کولو نه عاجزه دې. د رسول الله صلی الله علیه و سلم د أسوه حسنه نه روستو د دوی اسوه حسنه زمونږ دپاره بهترینه أسوه حسنه ده، په خاص توګه په دې اړخ چې هغؤی نبی او رسول نه وو خو په ایمان او د الله د رسول د اطاعت په نتیجه کښې هغوی دې مقام ته رسیدلی وو چې د هدایت د اسمان نمر او سپوږمئ جوړ شو.

د نبی اکرم صلی الله علیه و سلم راوستلې شوې عظیم الشان انقلاب د دنیا د تاریخ یو ناشنا اوبې مثاله انقلاب وو. هغې په حقیقی معنو کښې د تاریخ رُخ بدل کړو. د عیسیٰ علیه السلام تمنګانې چې اې خدایه ستا مرضي ستا په زمکه باندې هم داسې نافذ شی لکه څنګه چې په اسمانونو کښې نافذ ده، یو ډیره پاکیزه او مقدس دعا وه، داسې دعاګانې ټولو انبیاؤ غوختلی وی، او د هغې قبولیت د نبی اخر الزمان صلی الله علیه و سلم په دور سعید کښې اوشو.

دا عظیم الشان انقلاب د الله په خاص نصرت او تائید سره ممکن شو. په دې کښې د صحابه کرامو کردار هم په هیڅ صورت نظر

انداز کولے نه شي، په خاص توګه د ځوان او کم عمر صحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین. حقیقت دا دې چې د اسلام دعوت اوریدلو سره د دې طرف ته په تیزۍ سره ورتلونکو کښې د کم عمر خلقو اکثریت وو. هغوی د اسلام په قبلولو کښې هم وړاندې والې اوکو او د اسلام د دفاع فریضه اداء کولو کښې د شهادت درجه موندو کښې هم مخکښې شو. د عظیم الشان تاریخ نه څو مثالونه ستاسو په خدمت کښې پیش کولې شي کوم چې ځوانانو صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین د تاریخ په تختۍ باندې نقش کړی دی.

**د اسلام قبلول:**

د نبی کریم صلی الله علیه و سلم په پاك سیرت کښې یو واقعه نقل کړې شوي ده چې نبی صلی الله علیه و سلم د الله په حکم باندې د بنو هاشم ټولو خلقو لره خپل خواته په دعوت راوبلل. په دې موقع باندې نبی صلی الله علیه و سلم هغوی لره اسلام او ایمان اړخ ته هم دعوت ورکړو. څنګه چې د نبی صلی الله علیه و سلم د ژبې مبارکې نه دا دعوت راووتو نو د نبی صلی الله علیه و سلم تره ابو لهب ناراضه شو او د نبی صلی الله علیه و سلم په خلاف ئې تقریر شروع کړو. باقی ټوله مجمعه خاموشه وه. په دې کښې یو کمزورې شان اواز د یو ګوټ نه راپورته شو چې په تاریخ کښې به همیشه یاد ساتلې شی.

د لس کاله عمر هاشمی بچې ، کوم چې تاریخ په شیر خدا، حیدر کرار، علی المرتضیٰ او فاتح خیبر په نوم باندې ژوندې کولو سره په خپلو صفحو کښې محفوظ کړو، هغه په دې وخت کښې د سترګو د تکلیف

په مرض کښې مبتلاء هم وو او د کم عمر کيدو د وجې نه د مشرانو وړاندې په ژبه پرانيستو باندې د ده خپې هم رپيدې. هغه په پوره همت او جرأت سره اووې " اے د الله رسول صلى الله عليه و سلم! زهٔ سره د دې چه کمزورې ماشوم يم خو زهٔ دا اعلان کوم چې ټول عمر به د نبی صلى الله عليه و سلم ملګرتيا کوم". نبی صلى الله عليه وسلم چې د خپل ترهٔ ځوی دا اعلان واوريدو نو ډير خوشحاله شو. د نبی صلى الله عليه و سلم د زړه نه به د دې سعادت مند دپاره ځومره دعاګانې اوتی وی، کيدی شی چې مونږ د دې تصور هم اونه کړې شو. د صداقت او رښتونولئ نمونې علی بن ابی طالب رضی الله عنه خپله وعده په ښه طريقه پوره کړه . د هجرت په شپه په ډيرو خطرو کښې د نبی صلى الله عليه و سلم په بستره سملاستل وي يا په بدر او اُحد کښې خپل ځان قربانولو سخت منزل، د خيبر او خندق مشکل ترينه معرکې وی يا فتح مکه يا روستو د بُتونو ماتولو تاريخی لمحه وي، په هر اهم او نازك وخت کښې هغه رښتونې ثابت شو. تاريخ ګواه دې چې هيڅ يو مشکله مرحله داسې نه ده راغلې په کوم کښې چې هغه سينه نه وی مخامخ کړې .

د مدينې د انصارو هم ډير اوچت مقام دې. هغوی د اسلام د دفاع او دينی خدمت په باب کښې د سبقت درجه بيا موندلې ده. دې خلقو د مدينې نه د سفر سامان اوتړو او مکې ته راغلل او د اسلام د قبلولو عظيم الشان روايت ئې قائم کړو. بيعت عقبه زمونږ د تاريخ يو روښانه باب دې. په دې موقع باندې د يثرب د هغه خلقو د مينځ نه يو کم عمر ځوان يو داسې تقرير ايمان زياتونکې تقرير اوکړو چې د

دانش او شعور سره سره د عزيمت او بسالت يو بهترين مثال دې. دا وو اسعد بن زراره رضي الله عنه ، هغه اوفرمائيل:

"اودريږئ! ائ يثرب والو! مونږ خلق چې د دوی خواته راغلي يو نو په دې پوهې سره راغلي يو چې دا د الله رسول دې او نن دوی لره د دې ځائې نه بوتلل د ټولو عربو دښمني په سره اغيستل دی. د دې په نتيجه کښې به ستاسو ماشومان قتليږی او تورې به په تاسو وروليې شي. د دې وجې نه که تاسو د دې د برداشت کولو طاقت لرئ نو د دوی لاس اونيسئ او د دې ثواب د الله په ذمه دې او که تاسو ته ځانونه زيات ګران دی نو بيا پريږدئ او صفا صفا عذر اوکئ ځکه چې اوس وخت عذر کول د الله په نزد ډير قبليدې شی."

د اسلام د قبلولو نه روستو صحابه رضی الله عنهم اجمعين او صحابيات رضی الله عنهم ډيرې قربانيانې ورکړي دی. قدم په قدم په هغوی امتحان وو او د الله په تائيد او نصرت سره هغوی په هر امتحان کښې کامياب شو. د نبی کريم صلی الله عليه وسلم د هجرت سفر د انسانی تاريخ يو عظيم الشانه واقعه ده. په دې سفر کښې چې تر کومه د سيدنا ابو بکر صديق رضی الله عنه کردار ډير اوچت او پورته په نظر راځی نو هلته د ځوان صحابی سيدنا علی المرتضی رضی الله عنه جرأت او تدبر هم د يادولو وړ دې. چې د نبی صلی الله عليه و سلم په بستره باندی په اطمينان سره اوده شو او په سبا ورځ چه محاصره کونکو دښمنانو د هغه نه پښتنه اوکړه چه نبی صلی الله عليه و سلم کوم ځائې دې نو غاخ ماتې جواب ئې ورته ورکړو چې څوکيداری تاسو کوله او

پښتنه زما نه کوې. هم تاسو اووائې چه هغه چرته دې. کافر په دې جواب باندې په شرمندګئ او خاموشئ سره واپس لاړل.

هم دې د هجرت سفر د پاره د سفر سامان تیارولو والا صحابیه سیده اسماء بنت ابی بکر رضی الله عنهما دې وخت په مشکل ده پنځیشتو شپږیشتو کاله وه. هغې د سامان د تړلو په وخت کښې د خپل کمر بند نه یو ټکړ کټ کړه او څه تېلې ئې پرې اوتړله. د دې وجې نه هغې ته ذَاتُ النِّطَاقَيْن وائی. په هغې باندې څه ناشنا امتحانونه راغلل چه پلار ئې په سفر لاړو، نیکه او رور ئې لا تر اوسه په حالت کفر کښې وو او دښمنان د هغوی په درشل باندې په زرګو! بدبخته ابو جهل هم په دې موقع باندې د سیده اسماء رضی الله عنها لره په مخ سپیړه ورکړې وه، د کومې د وجې چې د هغې د غوږ موندرئ ماته شوه او لرې پرېوته خو هغه د دې باوجود په خپل دین او ایمان باندې مطمئنه او ثابت قدمه پاتې شوه.

سیدنا عمر رضی الله عنه د اسلام په شروع کښې د نبی کریم صلی الله علیه و سلم سخت دښمن وو او یو ورځ د نبی صلی الله علیه و سلم د قتلولو په اراده د کور نه اوتې وو. د هغوی په اسلام راوړلو کښې د هغه د ښور فاطمه بنت خطاب رضی الله عنها بنیادی کردار دې، چې د دۀ نه مخکښې مسلمانه شوې وه. سیدنا عمر رضي الله عنه هغه ډیره اوهله خو هغه په خپل دین باندې مظبوطه اودریده او په ډیر جرأت سره ئې اوفرمائیل چې اې عمره! تا زمونږ هډوکی ماتولې شې، زمونږ غوښه د هډوکو نه بېلولې شې خو مونږ د اسلام نه نشې اړولې.

خو دي انقلاب، جرأت او استقامت د سیدنا عمر رضي الله عنه زړهٔ د مومو په شان نرم کړې وو. اوس هغه مکمل توګه باندې بدل شوې وو، د اسلام د پاره د هغه زړه او دماغ کهولاو شوي وو. د دې واقعې په وخت کښې د سید فاطمه رضي الله عنها عمر پنزهٔ دیرش کاله وو.

د نبی صلی الله علیه و سلم لور او خاتون جنت فاطمه بنت محمد صلی الله علیه و سلم، نبی صلی الله علیه و سلم ته ډیره محبوبه وه. نبی صلی الله علیه و سلم به فرمائیل چې فاطمه زما د زړه ټکړه ده. سیده فاطمه رضی الله عنها په دې وخت کښې په مشکل سره د شپاړسو کالو وه، کله چې د هغې مور بی بی سیده خدیجة الکبرىٰ رضی الله عنها وفات شوه. په دې زمانه کښې چې کله ظالمانو په نبی صلی الله علیه و سلم باندې لاس پورته کول شروع کړل نو ډیر کرته به سیده فاطمه رضی الله عنها د نبی صلی الله علیه و سلم د دفاع د پاره حرم شریف ته رسیدله. یو وارې چه کله نبی صلی الله علیه و سلم خپل کور ته داخل شو نو د نبی صلی الله علیه و سلم په سر او جامو باندې د دښمنانو غورځولې شوي خاوره او دَ ګندګئ اثرات وو. سیده فاطمه رضی الله عنها د نبی صلی الله علیه و سلم سر مبارك وینځلو او سترګي ئی دَ اوښکو نه ډکي وي. نبی صلی الله علیه و سلم خپل لور ته تسلی ورکړه او وے فرمائیل:

"د زړهٔ سره ویریږه مهٔ، الله به ستا پلار بې یار او مددګار نه پریږدی".

## د اسلام دفاع:

په غزوه بدر کښې د یو طوفان او زورور قوت په مقابله کښې نبی کریم صلی الله علیه و سلم درې سوه دیارلس صحابه کرام د ځان سره کړل او د مدینې نه اووتو. په دې جنګ کښې څوارلس صحابه کرام شهیدان شوي وو. په هغې کښې اولنې نوم د عمیر بن ابی وقاص رضی الله عنه لکهلې شوې دې. نبی صلی الله علیه و سلم چې د جنګ دپاره کله د مدینې نه اوتوو نو د نبی صلی الله علیه و سلم نظر په عمیر باندې اولګیدو، چې په فوج کښې شریك وو. نبی صلی الله علیه و سلم هغه ته واپس د کور تلو حکم اوکړو او وے فرمائیل، ته ډیر ماشوم ئې، په جنګ کښې به مشکلات راځی خو عمیر رض د نبی کریم صلی الله علیه و سلم لمن مبارکه اونیوله او په ژړه شو. هغه د شهادت دومره تمنا کوله چه د کور په ځائې میدان جهاد ته ئی تګ غوښتل. دا د سیدنا سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه وړوکې ورور وو او د هغه سره ئې اسلام قبول کړې وو او د مکې نه ئې مدینې ته حجرت کړې وو حال دا دې چه مور پلار ئې لا په کفر ولاړ وو.

سیدنا سعد بن ابی وقاص رض هم د خپل ورور ښه برابر سفارش اوکړو چه هغه ته په جهاد کښې د شرکت کولو اجازت مېلاو شی. نبی کریم صلی الله علیه و سلم اجازت ورکړو. په میدان جنګ کښې سیدنا عمیر رض د عربو د ټولو نه لوئی جنګجو او پهلوان عمرو بن عبدود په مقابله کښې اوتو، دا سړې د یو زر تجربه کار جنګجوانو برابر ګنړلې شو. د دې الله د دښمن سره جنګیدو کښې د ځوان صحابی کوم

ته چه د مدينې په کوڅو کښې د خپل شهادت او د جنت خوشبوئي راتله، د شهادت مقام ورته حاصل شو.(دا خبره دې واضحه وی چه دا عمر بن عبدود په خندق ورآوختې وو او په مدينه باندے ئې حمله کړي وه او د سيدنا علی رضی الله عنه په لاس قتل شوې وو.)

☆ بره د شهيد مثال بيان شو نو اوس د يو غازی حال هم اوګورئي. په جنګ بدر کښې سيدنا علی رضی الله عنه د هيرو په شان مدينې ته واپس شو، د هغه عمر په دې وخت کښې ځليرويشت کاله وو. دا د هغه د ژوند اوله معرکه وه، د دې نه مخکښې د جنګ کولو څه تجربه ئي نه وه. هغه په مبارزت کښې وليد بن عتبه قتل کړو او په عام جنګ کښې ئي د ډير دښمنانو کوپړئ والوزولې. په احد ، خندق او نورو ټولو معرکو کښې د هغه دَ بهادرئ جوهر زياتيدو. په خيبر کښې خو هغه وو چه د هغه په لاس د يهوديانو قلعه فتح شوه او مرحب د هغه د ضرب حيدري نوړئ جوړه شوه او جهنم ته اورسيدو.

په غزوه احد کښې اوويا صحابه کرام شهيدان شو، چې په کښې اکثر ځوانان وو. نبی کريم صلی الله عليه و سلم چه کله د غزوه احد نه واپس مدينې ته راروان وو نو د اوس مشر سيدنا سعد بن معاذ رضی الله عنه د نبی کريم صلی الله عليه و سلم سره سره وو. د سيدنا سعد رضی الله عنه ځوان ورور عمرو بن معاذ په ميدان جهاد کښې کښې شهيد شوې وو. په مدينه کښې صحابياتو د نبی صلی الله عليه و سلم د شهادت خبر اوريدو سره د غم په حالت کښې د احد طرف ته راوتلې وې. سيدنا سعد رضی الله عنه اووې "يا نبی کريم صلی الله

عليه و سلم، زما مور بي بي راروانه ده" سيده ام سعد د مديني عزتمنده ښزۀ وه، کله چه رانيږدې شوه نو نبی کريم صلی الله عليه و سلم خپل اس اودرولو او هغې ته د سلام کولو نه پس ئیِ اوفرمائيل: " اې ام سعد ستا د ځوان ځوی عمرو بن معاذ په شهادت باندې زۀ تا ته تعزيت کوم او تاله مبارکی هم درکوم ." ام سعد چه د خپل ځوی د شهادت خبر واوريدو نو پښتنه ئې اوکړه، "اې نبی کريم صلی الله عليه و سلم زما ځوې چرته تلې دې؟ هغه خو د يو څيز تمنا کوله او هغه وو جنت". نبی کريم صلی الله عليه و سلم ورته اوفرمائيل: اۍ ام سعد رضی الله عنها! تاته دې زيرې وی او ستا اهل او عيال ته دي هم زيرے وی، شهيدان جنت ته تلي دی او يو جنت نۀ څو جنتونه هغوي ته ورکړې شوي دی او شهداء به د خپل اهل او عيال په باره کښې الله ته سفارش کوی او الله به د هغوی سفارش قبلوی".( په يو بل روايت کښې نبی کريم صلی الله عليه و سلم ارشاد فرمائيلې دی هر شهيد به د خپل اهل او عيال او خپلوانو نه اوويا تنه بغير حسابه جنت ته بوځی.) ام سعد رضی الله عنها چه دا واوريدو نه وے وائيل" يا نبی کريم صلی الله عليه و سلم! مونږ خوشحاله يو او د داسي اوچت مقام بيا موندلو نه پس د ژړه فرياد څه ضرورت دې."

سيدنا عمرو بن معاذ رضي الله عنه د ضرار بن خطاب (سيدنا عمر رضي الله عنه ورور) شهيد کړې وو، چه تر دې وخته پورې کافر وو. د سيدنا عمرو بن معاذ رضی الله عنه په باره کښې دا مشهوره وه چه هغه د بل څه څيز دومره تمنا نۀ وه څومره چه د جنت وه. د دې

وجې نه د ټوقو کولو په انداز کښې د هغه قاتل د ګوزار کولو په وخت کښې اووې"ځا چه د ځوانې، غټو سترګو واله حورې سره ستا وادهٔ اوکم." د الله نبی صلی الله علیه و سلم اوفرمائیل چه عمرو رضی الله عنه د جنت د ټولو نعمتونو نه فائده اخلی. غټو سترګو والا حورې هم د هغه په تقدیر کښې دی. د شهادت په وخت کښې د سیدنا عمرو رضي الله عنه عمر دوه دیرش کاله وو.

(غزوه احد، محمد احمدباشمیل، صفحه ۲۳۸،۲۳۹ )

اې مسلمان ځوانه! دا دی زمونږ هیروګان او د عقیدت راګرځیدو سړی. مونږ چه په کومه لاره باندې روان یو، بغیر د څه شك نه د هغه خلقو د ښپو نقش دې. د نن دور مونږ لره زمونږ د اسلافو نه د کټ کولو دپاره هره د سامری فتنه او د نمرود اوور ئې راغیستې او میدان ته راوتلي دی. اوس دا زمونږ سوچ او د فیصلې کولو وخت دې چه مونږ د دې جهګړې او فساد په طوفان کښې لاهو شو او د دنیا او د اخرت د تاوان سودا اوکړو او یا دې لره پریږدو او د خپلو اسلافو د سرو زرو تاریخ ژوندې کړو، د کوم په نتیجه کښې چه به زمونږ اخرت هم محفوظ شی او په دنیا کښې به هم مونږ پورته او لوړ سړی شو. سوچ اوکړئ او په خپل زړهٔ او دماغو سره د دې جواب ورکړئ.

## په دین باندې تکلیفونه او استقامت:

یو ځوان صحابی سیدنا خباب بن الارت رضی الله عنه د سابقین الاولین نه وو. وئیلې شي چه شپږم مسلمان دې. د ام انمار غلام وو. د اینګرانو (لوهار) والا پیشه ئې وه، اوسپنه به ئې په اُور کښې سره کړه او

د هغې نه به ئې تورې جوړولې او د غلام کیدلو په وجه به ئې خپله ټوله ګټه خپل اقا ام انمار ته ورکوله.

کله چه دې صحابی اسلام راوړو نو ام انمار به دهٔ ته سخت تکلیفونه ورکول. ډیر کرته داسې اوشوه چه په اُور کښې سره شوي اوسپنه به ئی راواغیستله او هغه لره به ئی پرې په سر باندې داغونه ورکول. دا ټول تکلیفونه به ئې د کلمه توحید او دین اسلام د وجه نه برداشت کول ورپه غاړه وو.

د کفارو د مشرانو په حکم د مکې لوفرانو به خباب رض اونیو او د غرمې په سخته ګرمئ کښې به ئی ورته د اوسپنې زغره وررواغوستوله اود حرې په ګرمه زمکه به ئې واچوو او واهو به ئی او تپوس به ئی ترې کوو چه مَا تَقُوْلُ فِيْ مُحَمَّد صلى الله عليه وسلم۔

"د محمد صلی الله علیه وسلم په باره کښې ستا سه خیال دې."

هغه رضي الله عنه به دا جواب ورکوو:

عَبْدُ اللّٰهِ وَرَسُوْلُهٗ جَآءَنَا بِالْحَقِّ لِيُخْرِجَنَا مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّوْرِ -

"چه محمد صلی الله علیه و سلم د الله بنده او رسول دې، مونږ ته ئې دین حق راوړې دې دې دپاره چه مونږ د تیارو نه د رنړه طرف ته راؤ اباسي."

دا جواب چه به ئې واوریدو نو نور به هم غصه شو او سزا به ئی ورته نوره هم سخته کړه. بیا به ئې ترې تپوس اوکړو:

وَمَا تَقُوْلُ فِي اللَّاتِ وَالْعُزّٰى "د لات او عزیٰ په باره کښې ستا سه خیال دې".

نو هغه به جواب ورکوو: صَنَمَانِ أَصَمَّانِ أَبْكَمَانِ لَا يَضُرَّانِ وَلَا يَنْفَعَانِ

"دا دواړه چاړاګان او کانړۀ بتان دي نه فائده ورکولې شي او نه نقصان".
دا جواب چه به ئې واوريدو نو هغه لوفر ځوانان به د غصې نه پاګل شو او هغه ته به ئې هر قسمه تکليف ورکولو چه خپله غصه پرې يخه کړی.

يو واري خو داسي اوشوه چه سيدنا خباب رضي الله عنه په بټۍ کښې کار کوی، سکروټې لمبې وهی، د مکې کافرانو هغه اونيو او په هغه سکروټو باندې ئې سملولو او په سينه ئې ورته درنه ګټه کيخوده. د سيدنا خباب رضی الله عنه د تکليف اندازه اولګوئ، په هغه به څه تير شوي وی، د هغه ټوله ملا اوسوځيده، د وجود نه ئې ويني وغيره روانې وې او د هغه وينو وغيره د وجې هغه سکروټې مړې شوي.

د سيدنا خباب رضي الله عنه د پاره دا تکليف واقعی ناقابل برداشت وو، د تکليف د سختۍ نه بې ځانه وو، خيال ورغې چه د نبی کريم صلی الله عليه و سلم په خدمت کښې حاضر شی، دهغه سوځيدلي ملا سره د نبی صلی الله عليه و سلم خواته راغلو. نبی صلی الله عليه و سلم په دغه وخت کښې په حطيم کښې ملاست وو. سيدنا خباب رض نبی صلی الله عليه و سلم ته ټول حالات واورول او ډير په منت سره ئې ورته عرض اوکړلو:

اَلَاتَدْعُوْا اللهَ لَنَا يَا رَسُوْلَ اللهِ

اې د الله رسوله ! تاسو به زمونږ دپاره دعا نه کوې؟ اخر دا د تکليفونو دا ورځې به کله ختميږی.

نبي صلی الله علیه و سلم راپاسیدو او کیناستو او وے فرمائیل چه خباب رضي الله عنه ! دومره زر اویریدې.

لَقَدْ كَانَ مَنْ قَبْلَكُمْ لَيُمْشَطُ اَحَدُهُمْ بِاَمْشَاطِ الْحَدِيْدِ مَا دُوْنَ عَظْمِهٖ وَلَحْمِهٖ مَا يَصْرِفُهٗ ذَالِكَ عَنْ دِيْنِهٖ۔

"ستاسو نه مخکښې هغه خلق هم تیر شوي دی د کومو په وجودونو چه د اوسپنې ګمنزې چلولې شوي وي کومې چه د هغوي د هډوکو او غوښو نه ورتیرې کړې شوي وي وجود ټوله غوښه کوزه کړې شوې وه مګر هغوی بیا هم په خپل دین باندې مظبوط ولاړ وو."

وَيُوْضَعُ الْمِنْشَارُ عَلٰى فَوْقِ رَأْسِ اَحَدِهِمْ فَيَشُقُّ وَمَا يَصْرِفُهٗ ذَالِكَ عَنْ دِيْنِهٖ۔

او داسې خلق هم تیر شوي دی چه د هغوی په سرونو باندې اره چلولې شوې وې،د هغوی پوره جسم شلولې شوې وو خو بیا هم د هغوی په استقامت کښې کمزورتیا نه وه راغلې. خباب! صبر کوه یو ورځ داسې راتلو والا ده چه الله به ضرور دې دین لره غالبه کړی.

عبد الله بن حذافه سهمی رضی الله عنه د نبی صلی الله علیه و سلم ځوان او جلیل القدر صحابی وو. دا هغه صحابی دې چې کسریٰ ته ئې د نبی صلی الله علیه و سلم نامه مبارکه وړې وه. په 19 کښې سیدنا عمر فاروق رضی الله عنه یو لښکر د روم قیصر د مقابلې د پاره لیګلې وو. د روم قیصر د مسلمانانو د بهادرئ او د ایمانی جرأت قیصې اوریدلې وې. خپلو فوجیانو ته ئې حکم اوکړو چه په هر څه طریقه د مسلمانانو څه تنان بندی کړئ او ماته ئې راولې چه زهٔ د هغوي سره مخامخ خبرې اوکړې شم.

د خدائې کول داسې وو چه د قیصر روم سپایانو په دهوکه څه مسلمانان بندی کړل چه په هغې کښې عبد الله بن حذافه سهمی رضی الله عنه هم وو. د هغه فوجیانو اووې چه دا د ټولونه نه اهم سړې دې او دا د محمد صلی الله علیه و سلم نیزدې او اعتمادی سړې دې. قیصر روم هغه په خپل دربار کښې حاضر کړو. هغه ته ئې په غور سره اوکتل او وئے وئیل چه زهٔ ستا مخښې ته یو خبره وړاندې کوم او هغه دا چه ته عیسائیت قبول کړه.

فَخَلَّيْتُ سَبِيْلَكَ وَ اَكْرَمْتُ مَثْوَاكَ

نو زهٔ به تا ته ډیر عزت درکړم او پریږدم دې.

سیدنا عبد الله رضي الله عنه جواب ورکړو هَيْهَاتَ "دا نهٔ شی کیدې"

اِنَّ الْمَوْتَ لَاَحَبُّ اِلَیَّ اَلْفَ مَرَّةٍ مِمَّا تَدْعُوْنِیْ اِلَیْهِ

"د کوم څیز اړخ ته چه تهٔ ما رابلې د هغې په مقابله کښې یو زر مرګونه ماته ډیر خوښ دي ".

قیصر اووې چه ته یو ښهٔ ځوان او پوهه سړې ئې، که زما خبره اومنې نو زهٔ به تا په بادشاهئ کښې هم شریك کړم. په بیړو کښې بندی عبد الله مسکې شو او وئے فرمائیل چه زهٔ د نبی صلی الله علیه و سلم رښتونې غلام یم.

وَاللهِ لَوْ اَعْطَيْتَنِیْ جَمِيْعَ مَا تَمْلِكُ وَجَمِيْعَ مَا مَلَكَتْهُ الْعَرَبُ عَلٰی اَنْ اَرْجِعَ عَنْ دِيْنِ مُحَمَّدٍ صلی الله علیه وسلم طَرْفَةَ عَيْنٍ مَا فَعَلْتُ۔

په الله قسم چه که تهٔ خپلې ټولې خزانې بلکه د عربو هم ټولې خزانې راؤړې او زما په قدمونو کښې ئې واچئ او زما نه دا مطالبه

اوکړی چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم لمن یو ساعت د پاره پریګده نو ماته دا سودا هیڅ کله هم قبوله نه ده.

قیصر اووې نو بیا به زهٔ تا قتل کړم. وے فرمائیل هغه ستا خوښه ده. بیا هغه حکم اوکړو چه دې دي په سولئ کړې شی. او د د په وجود دې د تورو او نیزو ګوزارونه اوکړې شی. سیدنا عبد الله بن حذافه سهمی په سولئ زوړند کړې شوې دې د وجود نه ئې وینه بهیږی او هغه بار بار د دهٔ مخکښې ته عیسائیت پیش کوی او دې انکار کوی. بیا قیصر حکم اوکړو چه دے دي د سولئ نه راکوز کړې شی او یو غټ د کړاهئ تال راوړې شو چه په هغې کښې ئی تیل واچول او ګرم ئیې کړو. کله چه تیل اوخوټکیدو نو په دې کښې د مسلمانانو دوه بندیان واچولې شو. په لګ وخت کښې د هغوی د وجود غوښه ویلی شوه او صرف د هډوکو ډانچه پاتې شوه. دا ټول منظر سیدنا حذافه رض ته اوښودې شو او بیا ئی ورته عیسائیت پیش کړو چه ستا هم دا حشر کیدې شی ګورې عیسائیت قبول کړه.

فَكَانَ أَشَدَّ إِبَاءً لَهَا

"هغه د مخکښې نه هم زیات په سختې سره انکار اوکړو".

کله چه قیصر په هر طریقه ناامیده شو نو مایوسه شو او حکم ئې اوکړو چه اوس دا هم ویسې او په دغه کړاهي کښې ئې واچوې. کله چه هغه د کړاهي خواته یوړې شو نو د هغه په سترګو کښې اوښکې راغلې. قیصر ته فوراً اطلاع ورکړې شوه چه إِنَّهُ قَدْ بَكَى چه د محمد صحابی په ژړه شوې دې. قیصر دا خیال شو چه زهٔ اوس خبره جوړه شوه. فوراً د هغه

مخښې ته حاضر کړې شو، نو هغه بیا عیسائیت قبلولو پیشکش اوکړو، نو هغه بیا انکار اوکړو. او وے وئیل وَيْحَكَ فَمَا الَّذِىْ اَبْكَاكَ اِذَنْ۔ نو بیا په ژړه ولې شوې؟

سیدنا عبدالله بن حذافه رض جواب ورکړو چه ژړلې ما د دې وجې نه دی چه زما په زړهٔ کښې دا خیال راغلې چه 'نن زما سره صرف دا یو جان او ساه دهٔ چې زهٔ ئې د الله په لاره کښې قربانومه'.

وَقَدْ كُنْتُ اَشْتَهِىْ اَنْ يَّكُوْنَ لِىْ بِعَدَدِ مَا فِىْ جَسَدِىْ مِنْ شَعْرٍ اَنْفُسٍ فَتُلْقٰى كُلُّهَا فِىْ هٰذَا الْقَدْرِ فِىْ سَبِيْلِ الله۔

"کاش چه ما سره دومره جانونه او ساهګانې وې څومره چه زما په وجود باندې ویخته دی نو ما به یو یو د الله په لاره کښې قربان کړې وې. ژاړم خو په دې خپل کم غوختو باندې چه ساه او جان صرف دا یو دې".

قیصر چه د هغه دا جواب واوریدو نو ډیر متاثره شو او په زړهٔ کښې ئې تسلیم کړه چه یقیناً د محمد صلی الله علیه و سلم منونکی ډیر لوئې او اوچت خلق دی.

اوس هغه اوې چه زهٔ ستاسو عظمت او جرات ته سلام کوم . ته زما سر خکول کړه نو زهٔ به تا پریږدم . سیدنا عبد الله څه وخت سوچ اوکړو او بیا ئې اوفرمائیل چه صرف زهٔ نه بلکه ټول بندیانو لره به پریږدې. هغه اقرار اوکړو. سیدنا عبد اللهرض فرمائی چه ما په زړهٔ کښې سوچ اوکړو چه یو طرف ته صرف د ده سر خکولول دي او بل طرف ته د ټولو مسلمانانو ازادی ده. لَاضَيْرَ فِىْ ذَالِكَ عَلَىَّ۔

"په دې کښې څه خاص نقصان نیشته".

بيا زهٔ نيزدې شوم او د هغه سر مي خکول کړو. نو هغه د وعدې مطابق ټول قيديان ازاد کړل. سيدنا عبد الله بن حذافه^رض^ چه کله مدينې ته تشريف راوړو نو خليفه دوئم سيدنا عمر فاروق رضى الله عنه د دې ټولې واقعې تپوس اوکړو نو هغوى ورته واقعه واوروله.

سيدنا عمر رضى الله عنه ډير خوشحاله شو. هغه ئې په منبر باندې کينو او وے فرمائيل:

حَقٌّ عَلٰى كُلِّ مُسْلِمٍ اَنْ يُّقَبِّلَ رَأْسَ عَبْدِ اللهِ بْنِ حُذَافَه وَأَنَا اَبْدَأُ بِذَالِكَ ثُمَّ قَامَ وَقَبَّلَ رَأْسَهٗ

"د هر مسلمان د پاره ضروری ده چه هغه پاسی او د عبد الله بن حذافه رضي الله عنه سر مبارك خکول کړی او د دې شروع زهٔ کومه. بيا عمر فاروق رضي الله عنه پاسيدو او د هغه سر مبارك ئې خکول کړو.

بيا روستو ټولو مسلمانانو د هغه سر خکول کړو او دا منظر د کتلو وو.

د اسلام په ابتدائي دور کښې اکثر غريبو خلقو اسلام قبول کړې وو. زيات تعداد د غلامانو او وينځو وو. بيا په دې غريبانو چه کوم ظلمونه اوشو د هغه مثال په پوره تاريخ کښې نه مېلاويږي. سړي خو دې لا څه کښې کومو ښځو چه اسلام قبول کړې وو په هغوى هم د ظلمونو انتها شوي وه.

په دې وينځو کښې يوه وينځه د سيدنا عمر^رض^ وينځه زنيره رضي الله عنها هم وه کومې لره چه الله دَ ايمان دولت ورکړې وو. حال دا دې چه سيدنا عمر رضي الله عنه په هغه وخت کښې د اسلام د دولت نه محرومه وو. د اسلام قبلولو په جرم کښې عمر^رض^ په هغې باندې د ظلم او ستم انتها کړي وه. هغې ته به سحر ماښام سخت تکليفونه ورکولې کيدل او

د اسلام نه د اوریدو دپاره هر قسمه حربه ئې استعمال کړه تر دې چه دومره ئې اوهله چه د هغې د سترګو نظر لاړو او دا ړنده شوه. په ځائې د دې چه قریش په دې کار باندې خپیمانې وې هغوي دا وائیل شروع کړل چه:

مَا أَذْهَبَ بَصَرَهَا إِلَّا اللَّاتُ وَالْعُزّٰى

چه اوګورئ لات او عزیٰ څنګه ړنده کړه، دې په هغه نه منل، د هغوی په شان کښې به ئې ګستاخی کوله د دې وجې نه هغؤی ورته سزا ورکړه. سیدنا زنیره رضی الله عنها به د دوی په جواب کښې وې چه نه داسې هیڅ کله هم نه ده.

وَمَا يَدْرِي اللَّاتُ وَالْعُزّٰى مَنْ يَعْبُدُهُمَا

لات او عزیٰ د څه نه خبر دی چه څوك د هغوی عبادت کوی او څوك نه کوی، هغوی خو نه اوری او نه وینی، او نه د نفع او نقصان څه اختیار لری . کفارو به وائیل چه ستا رب دې ستا مدد اوکړی کنه، هغه ستا مدد ولې نه کوی. زنیرې به وائیل:

رَبِّيْ قَادِرٌ عَلٰى رَدِّ بَصَرِيْ

زما رب زما د نظر په واپس کولو باندې قادره دے ، په دے کښې به د هغه خپل څه حکمت وی . اخر یو ورځ زنیرې د درد نه ډك انداز باندې د خپل رب نه سوال اوکړو چه الله دا مشرکان مالره طعنه راکوی، زما مدد اوکړه. الله د هغې دعا قبوله کړه او د هغې نظر ئې واپس کړو. بیا قریشو دا وائیل شروع کړل : هٰذَا سِحْرُ مُحَمَّدٍ چه دا د محمد جادو دې. (نعوذبالله). بیا اخر یو ورځ سیدنا ابوبکر رضی الله عنه د سیدنا عمر رضي الله عنه نه

زنیره واغیسته او د الله د رضا دپاره ئی ازاده کړه . بیا به کفارو وائیل چه که په دې دین اسلام کښې څه خېر او بهتری وې نو د زنیرې په شان یو کم مرتبې والا او کمزوري وینزه به ورته زمونږ په شان د شریفانو او عزمندو خلقو نه ولي مخکښي کیده. کله چه مونږ په شان عزت مندو او عقلمندو اسلام قبول نه کړو نو پته اولګیده چه دا دین څه قابل قبول او قابل فخر څیز نه دې . په دې باندې الله تعالي د هغوی د رد دپاره دا ایت نازل کړو.

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَوْكَانَ خَيْرًا مَّا سَبَقُوْنَآ اِلَيْهِ

"کفارو د اهل ایمان باره کښې وئیل چه که په اسلام کښې څه بهتری او ښه والې وې نو دا خلق به په دې معامله کښې زمونږ نه نه مخکښي کیدې ".

د ام المومنین سیده ام سلمه رضی الله عنها اصل نوم هند وو. د قبیله بني مخزوم د سردار لور وه. دا قبیله په سخاوت او میلمستیا کښې مشهور وو. د دې اولنې نکاح د عبد الله بن عبد الاسد (ابو سلمه) سره شوې وو. د اسلام په ابتدائي دور کښې دې دواړه ښځې او خاوند اسلام قبول کړو او هغه ټول مشکالات او تکلیفونه ئې برداشت کړل کوم چه به په اهل اسلام باندې کولې شو. دوي کره یو هلك پیدا شو د کوم نوم چه سلمه کیخودې شو. او د دې وجې نه د هغوی کنیت ابو سلمه او ام سلمه شو. دواړه ښځے او خاوند په خپل مینځ کښې ډیر زیات محبت وو، د قریشو د ظلم نه تنګ شو نو دواړو حبشې ته حجرت اوکړو. د هغې ځائې نه واپس شو نو دوئم هجرت ئې مدینې منورې ته اوکړو.د کوم

تفصيلي بيان چه سيده سلمه رضی الله عنها په خپله کوي چه کله ابو سلمه رضي الله عنه د مديني د هجرت اراده اوکړه نو په خپل اوښ باندې ئې سامان اوترړو او ماله او زما ځوي لره ئې په اوښ باندې سواره کړو او په خپله ئې د اوښ مهار اونيو او مديني طرف ته روان شو. اوس لا مونږ د مکه د ابادې نه اوتي نه وو چه زما قبيله بنو مخزوم ته پته اولګيده. نو هغوي فوراً په غصه کښې راغلل او زما خاوند ته ئې وې چه تا ته ستا د ځان اختيار خو شته چه کوم ځائې ته دې خوښه وی نو زهٔ خو مونږ خپله جينۍ ولې تاسره د تلو دپاره پريږدو چه هغه هم در په در ګرځي .

وَهِيَ بِنْتُنَا فَعَلَامَ نَتْرُكُكَ تَأْخُذُهَا مِنَّا وَتَسِيْرُ بِهَا فِي الْبِلَادِ۔

دا ئي اووې او په هغه باندې راجمع شو او د هغه نې ئې د اوښ مهار واغيستو او زهٔ ئې په زوره واپس راوستم. زما خاوند يوائې مديني ته هجرت اوکړو. سره د دې چه زما د خاوند جدائی ماله د برداشت کولو قابله نه وه خو بيا هم ما د صبر او همت نه کار واغيستو او خاموش پاتې شوم. اوس لږ وخت تير وو چه زما سخر ګنئ عبد الاسد والاؤ زما د مور په کور باندے دعوي اوکړه او جهګړا ئي شروع کړه چه تاسو ته د خپلې جينۍ اختيار خو شته خو دا هلك سلمه زمونږه نوسې دې دا مونږ لره راکړی. دغه رنګه هغوی زما نه زما ځوې هم واغيستو . اوس زهٔ زما خاوند او زما ځوی مونږ درې واړه جدا جدا شو. زما حالت څه بل شان نيمه پاګله شان شوم. زهٔ به روزانه هغه ځائې ته تلم په کوم کښې چه زما نه زما خاوند او زما ځوی جدا شوي وو او هلته به کيناستم او په ګهنټو به مې ژړل تر دې چه ماښام به شو. دغه شان په ژړه ژړه کښې يو کال تير

شو. نه زهٔ د خاوند خواله تلې شوم او نه زما ځوئ ماته مېلاو شو. يو ورځ زما يو د ترهٔ ځوې زما په حال باندې خفه شو او زمونږ قبيله ئې پوهه کړه.

اَلَا تُطَلِّقُوْنَ هٰذِهِ الْمِسْكِيْنَةَ فَرَّقْتُمْ بَيْنَهَا وَبَيْنَ زَوْجِهَا وَبَيْنَ وَلَدِهَا

چه تاسو لره په دې مسکينه ښزهٔ باندې رحم نه راځي تاسو د دي نه د دې خاوند او ځوې جدا کړي دا تاسو څومره لوئې ظلم کړې دې. هغه دوي لره پوهول تر دې چه د دوی زړونه نرم شول او دوی ماته اجازت راکو چه

اِلْحَقِيْ بِزَوْجِكِ اِنْ شِئْتِ

چه که ته د خپل خاوند خواله تله غواړې نو تلې شی. خو ما خپل ځوې پريخودې وی او ځنګه تلي وې. ځينو خلقو بنوی عبد الاسد (زما سخرګنئ) پوهه کړل او هغوی په ما رحم اوکړو او زما ځوې سلمه ئې ماته واپس کړو. ما د سورلئ اوښ تيار کړؤ او ځوې مي په غيږ کښې واغيستو او يواځې په اوښ سوره شوم او د مديني اړخ ته روانه شوم. کله چه زهٔ مقام تنعيم ته اورسيدم نو هلته يو شريف سړې عثمان بن طلحه مابيا موندو نو زما نه ئې پوښتنه اوکړه:

اِلٰى اَيْنَ يَا بِنْتَ زَادِ الرَّاكِب

"اې د سخي سردار لور چرته روانه ئې"؟

ما جواب ورکړو مديني منورې ته د خپل خاوند خواته ځم. هغه سوال اوکړو.

اَوَمَا مَعَكِ اَحَدٌ

"ولي تا سره هيڅ څوك نيشته، ته يواځې روانه ئې".

ما عرض اوکړو چه د الله د ذات نه علاوه هيڅ څوك هم نيشته . هغه اوفرمائيل:

وَاللهِ مَا اَتْرُكُكِ اَبَدًا ثُمَّ اَخَذَ بِخِطَامِ بَعِيْرِىْ وَانْطَلَقَ۔

" په الله قسم داسي يواځې تالره تللي نشم ليدې بيا ئې زما د اوښ مهار اونيوو او مخکښي مخکښې روان شو."

په الله قسم ما د عثمان نه زيات شريف سړې څوك نه دې ليدلې. کله چه به د کوزيدو وخت راغلو نو زما اوښ به ئې کيناؤو او په خپله به يو طرف ته شو. نو زهٔ به کوزيدم او کله چه به په اوښ د سوريدو وخت راغلو نو په اوښ به ئې سامان بار کړو او اوښ به ئې زما خواته کيناؤ. او ماته به ئې اوفرمائيل "اِرْكَبِى" چه سوره شه. کله چه به زهٔ په سورلۍ سوره شوم نو د اوښ مهار به ئې اونيو او مخکښې به روان شو، تر دې چه زهٔ ئې زما د خاوند خواته قباء ته اورسولم او په خپله مکې مکرمې ته واپس لاړو.

# د دین دعوت

## د سیدنا ابو هریره رضی الله عنه خپلې مور ته دعوت ورکول:

سیدنا ابو هریره رضي الله عنه فرمائي چه زما مور مشرکه وه. مه به هغې ته د اسلام دعوت ورکوو. یو ورځ ما هغې ته دعوت ورکو، هغې ماته د نبی صلی الله علیه و سلم په باره کښې ډیرې نازیبا خبرې اوکړې، زۀ په ژړا د نبی صلی الله علیه و سلم په خدمت کښې حاضر شوم او عرض مي اوکو یا رسول الله صلی الله علیه و سلم ما به خپلې مور ته د اسلام دعوت ورکوو نو هغې به انکار کوو نن ما هغې ته دعوت ورکو نو نو هغې ماته د ستاسو په باره کښې ډیرې نازیبا خبرې اوکړې . اے نبی صلی الله علیه و سلم ته د الله نه دعا اوکړه چه الله د ابو هریره مور ته هدایت اوکړی. ما د نبی صلی الله علیه و سلم دعا واغیسته او په خوشحالئ کور ته لارم. هلته چه اورسیدم نه ما دروازه کهولا وهل اوغوښتو خو هغه بنده وه. زما مور زما د قدمونو اواز واوریدو نو هغې اووې ابو هریره لږ صبر اوکړه. ما د اوبو د پریوتو اواز واوریدو( یعنی زما مور په اسلام کښې د داخیلیدو دپاره غسل کوو) زما مور کرته واغوسته او په ډیر تلوار کښې ئې لوپټه وانه غوستې شوه او دروازه ئې کهولا و کړه او وائې وئیل: اې ابو هریره رض اَشۡهَدُ اَنۡ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاَشۡهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبۡدُهٗ وَرَسُوۡلُهٗ۔ زۀ واپس رالم او د نبی صلی الله علیه و سلم په خدمت کښې حاضر شوم او نبی صلی الله علیه و سلم ته مې اووې. نبی صلی الله علیه و سلم د الله شکر اداء کړو او د خیر دعاء ئې اوکړه.

سیدنا ابو هریره رضی الله عنه اوفرمائیل چه کوم مسلمان سړې او ښځۀ زما نوم واوری نو ماسره محبت کوی. راوی فرمائي ما عرض اوکړو چه تاته د دې ځنګه پته لږی؟ نو سیدنا ابو هریره^رض^ اوفرمائیل چه کله زۀ د خپلې مور د ایمان په خوشحالئ کښې په منډه د نبی صلی الله علیه و سلم خواته رالم او ما د خوشحالئ نه ژړل لکه څنګه چه به ما مخکښې د غم نه ژړل. نو ما اووې ائ د الله رسوله تا ته دې زیرې وی الله تعالیٰ د ابو هریره مور لره د اسلام هدایت ورکړو. بیا ما اووې اې د الله رسوله تاسو د الله نه دعا اوکړئ چه الله زما او زما د مور محبت د ټولو مسلمانانو سړو او ښځو په زړۀ کښې واچوی. نو نبی صلی الله علیه و سلم هم دغه رنګه دعا اوکړه ائ الله ! د دې خپل وړوکي بنده او د ده د مور محبت د هر مومن سړي او ښځې په زړه کښې واچوې. نو د دې وجې نه چه کوم مسلمان زما نوم واوري نو هغه زما سره محبت کوي.

## د سیدنا ام سلیم^رض^ ابوطلحه ته دعوت ورکول:

سیدنا انس رضی الله عنه فرمائی چه سیدنا ابو طلحه رضی الله عنه د اسلام راوړلو نه مخکښې (زما والده) سیده ام سلیم رضی الله عنها ته د نکاح پیغام ورکړو هغې اووې ائ ابو طلحه ایا تا ته پته نیشته چه ته د کوم خدائ عبادت کوې هغه خو د زمکې نه راټوکیدلې ونه ده. هغه اووې او. ام سلیم اووې د ونې عبادت کولو باندې تاته شرم نه درځی. که تۀ مسلمان شې نو زۀ ستانه د اسلام نه علاوه د هیڅ قسمه مهر مطالبه نه کوم. هغې اووې ټهیك ده زۀ سوچ کوم او روان شو او لږ وخت روستو راغې او کلمه شهادت: اَشْهَدُ اَنْ لاَّ اِلٰهَ اِلاَّ اللهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّداً عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ ئې اووې نو

سیده ام سلیم رضی اللّٰه عنها اووې اۍ انس زما نکاح د ابو طلحه سره اوکړه. نو انس رضی اللّٰه عنه د هغې نکاح اوکړه.

## د سیدنا ضمام بن ثعلبه رض قبیله بنو سعد بن بکر ته دعوت:

سیدنا عبد اللّٰه ابن عباس رضی اللّٰه عنه فرمائی چه قبیله بنو سعد بن بکر سیدنا ضمام بن ثعلبه رضی اللّٰه عنه خپل نمائند مقرر کړو او د نبی صلی اللّٰه علیه و سلم په خدمت کښې ئې اولیږلو. هغه چه مدینې ته اورسیدو نه د جومات په دروازه کښې ئې خپل اوښ کیناؤ او د هغې په خپو کښې ئې رسۍ واچوله او بیا جومات ته ورداخل شو. دغه وخت نبی کریم صلی اللّٰه علیه و سلم د خپلو صحابو سره ناست وو. سیدنا ضمام ډیر مضبوط او ګنړو ویختو واله سړې وو. د هغه په سر د ویختو دوه زلفې وې. راغې او د نبی کریم صلی اللّٰه علیه و سلم او صحابو مخکښې اودیریدو او پښتنه ئې اوکړه په تاسو کښې ابن عبد المطلب کوم یو دې؟ نبی کریم صلی اللّٰه علیه و سلم اوفرمائیل زهٔ ابن عبد المطلب یم. هغه اوفرمائیل ایا ته محمد صلی اللّٰه علیه و سلم ئې؟ نبی کریم صلی اللّٰه علیه و سلم اوفرمائیل او . هغه اووې اۍ ابن عبد المطلب زهٔ به ستانه څه تپوس کووم او په دې تپوس کښې به سختی کوم خو ته به خفه کیږی نه . نبی کریم صلی اللّٰه علیه و سلم اوفرمائیل نه زهٔ به نه خفه کیږم ته چه څه پښتنه کوې اوکه. هغه اوې چه زهٔ تاله د هغه اللّٰه واسطه درکوم چه ستا هم معبود دې او ستا نه د مخکښنو او روستنو هم معبود دې. ایا اللّٰه ته زمونږ طرف ته نبی جوړ کړې ئې او رالیګلې ئې؟ نبی کریم صلی اللّٰه علیه و سلم اوفرمائیل او

هم دا خبره ده.بیا هغه اووې چه زهٔ تاله د هغه الله واسطه درکوم چه ستا هم معبود دې او ستا نه د مخکښنو او روستنو هم معبود دې چه ایا الله تاته د دې خبرې حکم کړې دې. چه ته مونږ ته د دې خبرې حکم اوکړه چه مونږ صرف د هغه عبادت کوو او د هغه سره څوك دې نه شريك کوو او هغه بتان پریږدو د کومو چه به زمونږ پلار نیکهٔ عبادت کوو. نبی صلی الله علیه و سلم او فرمائیل په الله قسم چه هم دا خبره ده. بیا هغه اووې چه زهٔ تاله د هغه الله واسطه درکوم چه ستا هم معبود دې او ستا نه د مخکښنو او روستنو هم معبود دے. ایا الله تاته د دې خبرې حکم کړې دې چه مونږ دې دا پنځهٔ مونځونه کوو؟ نبی صلی الله علیه و سلم اوفرمائیل او. بیا هغه د زکوة روژې ، حج، او د اسلام د نورو فرائضو باره کښې پښتنه کوله او هر واری به ئې د الله واسطه ورکوله او پښتنه به یئ کوله. کله چه د دې سوالاتو نه فارغ شو نو وے وئیل: اَشْهَدُ اَنْ لاَّ اِلٰهَ اِلاَّ اللهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّداً عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ او زهٔ به دا ټول فرائض ادا کوم او د کومو خبرو نه چه تا منع کړي ده د هغې نه به ځان بچ کوم او زهٔ به په دې کښې د خپل طرف نه څه کمه زیاتې نه کومه. بیا د خپل اوښ طرف ته د تلو دپاره روان شو نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه که دې دوه زلفو والا سړي رښتیا وئیلے وی نو دا به ضرور جنت ته داخیلیږی. نو هغه د خپل اوښ طرف ته راغې د هغې رسې ئې کھولاؤ کړه او واپس لاړو. کله چه خپل قوم ته اورسیدو نو ټول د هغه خواته جمع شو، نو د ټولو نه اول هغه دا اووې لات او عزیٰ دې بد وی. خلقو اووې اې ضمام خاموش اوسه، هسې نه

چه د داسې وئیلو د وجې نه ته په برص یا په پاګل پن کښې مبتلا شې. هغه اووې دا لات او عزې په الله قسم نهٔ نقصان رسولې شي او نه فائده. الله خپل رسول صلی الله علیه و سلم رالیږلے دې او په هغه ئې یو کتاب رانازل کړې دې او الله تاسو دهغه کتاب په ذریعه د دې شرك نه راویستلې ئې په کوم کښې چه تاسو مبتلا وائې او بیا ئې کلمه د شهادت هغوی ته واوروله: اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّداً عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ او هغه چه تاسو ته د کومو کارونو حکم کړې دې او د کومو کارونو نه چه ئې منع کړې ئې نو هغه ټول احکام مې د هغه نه تاسو ته راوړې دی. راوی فرمائې چه د ماښام کیدو نه مخکښې د دې ابادې هر سړې او ښځهٔ مسلمان شوی وو. سیدنا ابن عباس رضی الله عنه به فرمائیل چه د سیدنا ضمام بن ثعلبه نه بهتر د هیڅ یو قوم نمائنده مونږ نه وو لیدلې.

**د سیدنا عروه بن مسعود رض قبیله ثقیف ته دعوت ورکول:**

سیدنا عروه بن زبیر رضی الله عنه فرمائی چه کله خلقو په ۹ هجرئ کښې د حج تیارې شروع کړو نو سیدنا عروه بن مسعود رضی الله عنه د نبی کریم صلی الله علیه و سلم په خدمت کښې مسلمان شو او حاضر شو او د نبی صلی الله علیه و سلم نه ئې د دې خبرې اجازت اوغوختو چه هغه د خپل قوم خواته واپس لاړ شی. نبی صلی الله علیه و سلم اوفرمائیل ماسره یره ده چه هغوی به هغه ته قتل کړې. هغه اووې هغوي زما دومره احترام کوې چه که هغوی زما خواته راشی او زهٔ اوده یم نو ما قدرې ویخه وی هم نه. نو نبی صلی الله علیه و سلم هغه ته اجازت ورکړو. هغه د مسلمانئ په حالت کښې د ماسخوتن په وخت

کښې خپل قوم ته اورسیدو. ټوله قبیله د هغه د سلام کولو دپاره راغله . ده هغه ټولو ته د اسلام دعوت ورکړو. قوم په هغه باندې قسما قسم الزامونه اولګول او هغه ئې غصه کړو او هغه ته ئې ډیرې نازیبا خبرې اوکړې. او بیا ئې هغه شهید کړو. نو کله چه نبی صلی الله علیه و سلم دا خبر واوریدو نو وے فرمائیل چه عروه هم د هغه (حبیب نجار ) په شان دې د کوم تذکره چه په سورة یٰسین کښې ده چه هغه خپل قوم لره د الله طرف ته دعوت ورکړو نو هغوی دې شهید کړو. ډیر اهل علم دے واقعې لره په تفصیل سره ذکر کوی او په دې کښې دا هم روایت شوي دي چه سیدنا عروه رضي الله عنه د ماسختن په وخت کښې طائف ته راورسیدو او خپل کور ته داخل شو. قبیله ثقیف راغله او هغه ته ئې د جاهلیت په طریقه سلام اوکړو. هغه خلقو لره په دغه طریقه د سلام کولو نه منع کړو او هغوی ته ئې اووې چه د جنت والو په طریقه سلام کوئ او السلام علیکم و رحمة الله و برکاته وائی. قوم هغه لره قسما قسم تکلیفونه ورکړو او د هغه بې عزتي ئې اوکره، خو دهٔ برداشت کول. د قوم خلق د هغه د خواه نه لاړل او د هغه په خلاف ئې مشوره کوله تر دې چه سحر شو. سیدنا عروه د خپل کور چهت ته اوښتو او د سحر اذان ئې اوکړو .د ثقیف قبیلې خلق د هر اړخ نه راغلل. د بنو مالك د اوس بن عوف نوم سړي هغه په داسي غشي اویشتو چه د مرئ په رګ کښې ئې اولګیدو او د هغې وینه اونهٔ ودریده نو د غیلان بن سلمه او کنانه بن عبد یا لیل او حکم بن عمرو او بنو احلاف سردارانو راپاسیدو او هتیار ئې واغوستو او جمع شو او

داسې ئې اوې یا خو به مونږ ټول مړهٔ شو یا به د عروه بن مسعود په بدله کښې د بنو مالك لس سرداران مړهٔ کړو. سیدنا عروه چه کله دا منظر اولیدو نه وے وائیل چه زما د وجه نه تاسو هیڅ څوك مه قتلوې. ما خپله وینه خپل قاتل ته د دې وجې نه معاف کړه چه د دې وجې نه ستاسو صلح باقي پاتې شی. دا زما قتل خو په ما د الله خاص انعام دې او هغه ماته د شهادت مرتبه راکړه او زهٔ د دې خبرې ګواهی ورکوم چه محمد صلی الله علیه و سلم د الله رسول دې . هغوي ماته وائیلے وو چه تاسو به ما قتل کړئ بیا هغه خپل خاندان واله رأوبلل او ورته ئې اوئیل چه زهٔ مړ شم نو مه دا هغه شهیدانو سره خخ کړئ چه د نبی کریم صلی الله علیه و سلم سره ستاسو د خوا نه د تلو نه مخکښې شهیدان شوی وو نو هغه مړ شو او د هغه خاندان والاؤ هغه لره د هغه شهیدانو صحابه سره دفن کړو.

## د سیدنا زیاد بن حارث رض د خپل قوم په نوم خط:

سیدنا زیاد بن حارث صُدائی رضی الله عنه فرمائی چه زهٔ د نبی کریم صلی الله علیه و سلم په خدمت کښې حاضر شوم او په اسلام مې د نبی صلی الله علیه وسلم سره بیعت اوشو. ماته پته اولګیده چه نبی صلی الله علیه وسلم یو لښکر زما قوم طرف ته لیږلے دې. ما عرض اوکړو ائ د الله رسوله ! لښکر واپس راوغواړئ زهٔ د دې خبرې ذمه واري اخلم چه زما قوم به مسلمان هم شی او ستاسو اطاعت به هم کوی. نبی صلی الله علیه و سلم اوفرمائیل ته لاړ شه او هغه لښکر واپس راوبله. ما اوفرمائیل اې د الله رسوله زما سورلئ ډیره ستړې ده.

نبی کریم صلی الله علیه و سلم یو سړې اولیږلو او هغه لښکر ئې واپس کړو. ما خپل قوم ته خط اولیکهو هغوی مسلمان شو او د هغوی یو وفد دا خبر راوړو او د نبی صلی الله علیه و سلم په خدمت کښې حاضر شو. نبی صلی الله علیه وسلم ماته اوفرمائیل اې صدائې روره واقعي ستا قوم ستا خبره منی ، ما اوفرمائیل په دي کښې زما هیڅ څه کمال نیشته بلکه الله تعالیٰ هغوی ته د اسلام هدایت ورکړو. نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل ایا زۀ تا د هغوی امیر جوړ نه کړم. ما اووئیل جوړ کړۀ اې د الله رسوله . د دې وجې نه نبی صلی الله علیه و سلم زما د امارت باره کښې یو خط اولیکهو اوماته ئې راکړو. ما اووې اې د الله رسوله د هغوی په صداقاتو کښې ماته څه حصه مقرر کړۀ . نبی صلی الله علیه وسلم اووې صحیح ده او د دې باره کښې ئې ماته یو بل خط اولیکهو او رائی کړو. دا ټوله واقعه په یو سفر کښې راپیښه شوي وه.بیا نبی صلی الله علیه و سلم په یو ځائی کښې پړاؤ واچاؤ. د هغې ځائی خلقو د خپل صدقاتو د عامل باره کښې نبی صلی الله علیه وسلم ته شکایت اوکړو او وے وائیل چه زمونږه او د دوی د قوم په مینځ کښې د جاهلیت په زماته کښې جهګړه شوي وه چه د هغي د وجه نه ده مونږ سره سختی کړي ده نبی صلی الله علیه و سلم اوفرمائیل ایا هغه داسي کړي دی، هغوی اووې او .نبی صلی الله علیه و سلم خپل صحابه مخاطب کړه او وے فرمائیل او زۀ هم په دوی کښې ووم چه د مومن سړي دپاره په امیر جوړیدو کښې هیڅ خیر نیشته. د نبی کریم صلی الله علیه و سلم دا خبره زما په زړۀ کښې کیناسته بیا د نبی کریم صلی الله

عليه و سلم خواته يو بل تن راغلو او وے وئيل چه ماته څه راکړئ . نبی کریم صلی الله علیه و سلم اوفرمائيل چه څوك سره د مالدارئ نه د خلقو نه غواړی نو دا غوختل د هغه د سر درد او د خيټي بيماري جوړيږی. هغه سړي اووې ماته د صدقاتو نه څه راکړئ. نبی کریم صلی الله علیه و سلم اوفرمائيل. چه الله تعالیٰ د صدقاتو د تقسيم باره کښې د نبی او د هغه نه علاوه په بل چا فيصله نه ده کړي . بلکه د دې باره کښې ئي په خپله فيصله کړي ده او په اته قسمه خلقو کښې صدقات تقسيم کولو حکم کړې دې. که ته په هغه اته قسمه خلقو کښې ئې نو چه تاته درکړم . نو دا خبره هم زما په زړهٔ کښې کيناسته، نو ماته خيال راغلو چه زهٔ خو مالداره يم او ما د نبی کریم صلی الله علیه و سلم نه د صدقاتو باره کښې اوغوختو. مخکښې اوګد حدیث دې په کوم کښې چه دا هم دی چه نبی کریم صلی الله علیه و سلم کله د مونځ نه فارغ شو نو زهٔ د نبی کریم صلی الله علیه و سلم په خدمت کښې حاضر شوم. ما اوئيل اې د الله رسوله ماته په دې دواړو خبرو کښې معافی اوکړه نبی کریم صلی الله علیه و سلم اوفرمائيل تاباندي څه اوشو نو ما اوې ائ د الله رسوله ما نبی کریم صلی الله علیه و سلم نه داسې اوريدلي دي چه د مومن سړي دپاره په امير جوړيدو کښې هيڅ خير نيشته او زهٔ په الله او د هغه په رسول باندې ايمان لرم. او ما نبی صلی الله علیه و سلم لره يو سائل ته د وينا په وخت کښې داسې اوريدلي دی چه کوم سړې سره د مالدارئ نه د خلقو نه غواړی نو دا غوختل د هغه د سر درد او د خيټې بيماري جوړيګي. او زهٔ مالداره يم او بيا هم ما د

نبی کریم صلی الله علیه و سلم نه سوال اوکړو. نبی کریم صلی الله علیه و سلم اوفرمائیل خبره خو هم دغه ده که ستا خوښه وي نو دا خط د ځان سره کیده او که خوښه دي وي نو واپس ئې کړه. ما اوئیل چه زهٔ خو ئي واپس کومه. نبی کریم صلی الله علیه و سلم ماته اوفرمائیل ماته یو داسي سړې راؤاخایه چه هغې لره ستاسو د ټولو امیر جوړکړم. په راتلونکي وفد کښې ما د یو سړي نوم واغیستو. نبی کریم صلی الله علیه و سلم هغه امیر جوړ کړو.

## د سیدنا خالد بن ولید رض د اهل فارس په نوم خط:

سیدنا ابو وائل رضی الله عنه فرمائي چه سیدنا خالد بن ولید رضی الله عنه اهل فارس ته د اسلام دعوت ورکولو دپاره دا خط اولیکهو.

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

د خالد بن ولید له طرف نه د رستم، مهران او د فارس د سردارانو په نوم. چا چه د هدایت تابعداري اوکړه په هغوی دې سلام وی. امابعد مونږ تاسو ته د اسلام دعوت درکوو. که تاسو د اسلام راوړلو نه انکار کوئ نو ماتحت شئ او رعیت جوړ شئ او جزیه ورکوئي ، او که تاسو د جزیه ورکولو نه هم انکار کوئي نو ماسره یو داسي جماعت دې چه د الله د لارې مرګ دومره محبوب ګڼړي څومره چه اهل فارس شراب محبوب ګڼړي او چا چه د هدایت اتباع اوکړه په هغه دې سلام وی. حضرت شعبی رحمة الله علیه فرمائي چه ماته بنو بُقلیه د سیدنا خالد بن ولید هغه خط اولوستو چه هغه د اهل مدائن په نوم لیکهلې وو. او

هغه دا دې. د خالد بن وليد له طرف نه د اهل فارس د صوبيدارانو په نوم. چا چه د هدايت اتباع اوکړه په هغه دې سلام وی.امابعد ټول تعريفونه هغه الله لره دی کوم چه ستاسو يووالې تس نس کړو او ستاسو ملك يې واغيستو او ستاسو تدبيرونه يې کمزوري کړل، د کتلو اصل خبره دا ده چه کوم سړې زمونږ په شان مونځ کوی او زمونږ قبلې طرف ته مخ کوی او زمونږ د لاسونو ذبح کړې شوې خوری نو هغه به مسلمان وی. هغه ته به هم هغه حقونه مېلاويږی کوم چه مونږ ته حاصل دی او په هغه به هم هغه ذمه وارياني عائد وی کومې چه په مونږ باندې دی.امابعد کله چه تاسو ته زما دا خط در اورسی نوماته ګانړه څيزونه راوليګئ دې دپاره چه خبره پخه شی. او د دې خبرې يقين اولرئ چه مونږ ستاسو د هر څه ذمه وار يو. که داسې نه وی نو په هغه ذات قسم د کوم نه علاوه چه بل معبود نيشته زۀ به ستاسو طرف ته يو داسې جماعت دراوليګم چه هغه د مرګ سره دومره محبت کوی څومره چه تاسو د ژوند سره کوئ. کله چه د اهل فارس صوبيدارانو ته دا خط واورولې شو نو هغوی ډير تعجب اوکړو. دا د ۱۲ هجرئ واقعه ده.

**د اسلام حميت:**

د مومن بنده شان دا دې چه هغه خپل ذاتی، خاندانی، قبائلی او قومی عصبيتونو نه بالاتر کيږی. هغه خپل ځان د الله او د هغه د رسول صلی الله عليه و سلم د احکامو داسې تابع کوی چه د صبغة الله تصوير او تفسير جوړيږی. هر مومن بنده لره د خپل دين سره داسې تعلق پکار دې چه د هغه خلاف هيڅ سازش، حرکت او منصوبه هيڅ کله برداشت

نه کړې شی. د اسلام په مقابله کښې چه کوم قوتونه په عمل کښې وی، په هغوی کښې جاهلی عصبیتونه وو، کوم چه قران حمیت جاهلیه ګرځولي دی. د دي په مقابله کښې د اهل ایمان په زړهٔ کښې د الله او د هغه د رسول او د اسلام د شعائرو دپاره یو حمیت وو ، کوم ته چه حمیت اسلامیه وئیلې شی. کله چه به هم د اسلام خلاف اواز پورته کیدو ټوله مسلمان معاشره د لوئی نه واخله تر وړوکي پورې او د سړونه واخله تر ښځو پورې به د دفاع دپاره تیاریدل. هر یو فرد په یو داسي قالب کښې پریوتو کوم ځائي کښې چه به په خپله د هغه تربیت کیدو.

**سیدنا زبیر بن العوام رضی الله عنه:**

په مکه کښې یو وارې دا افواه خوره شوه چه نبی کریم صلی الله علیه و سلم شهید کړې شوې دې. ځوان صحابي سیدنا زبیر بن العوام رضي الله عنه د کوم عمر چه په دې وخت کښې اتلّس نورلس کاله وو، خپله توره ئې راوغیسته او د کور نه اووتو. د نبی کریم صلی الله علیه و سلم د خیریت معلومولو دپاره اول د هغه کور ته لاړو. کله چه هلته اورسیدو نو نبی کریم صلی الله علیه و سلم ئې په خیریت اولیدو، په وجود کښې ئې ساه راغله خو په مخ باندې ئې د حمیت اسلام هغه سروالي منډې وهلې.

نبی کریم صلی الله علیه و سلم ترینه پښتنه اوکړه: زبیره توره دې د قاش نه بهر ولي ده؟ نو هغه اووې "یا رسول الله ما اوریدلي وو چه کافرانو نبی کریم صلی الله علیه و سلم شهید کړې دې". نبی کریم صلی الله علیه و سلم اوفرمائیل: که هغوي زهٔ شهید کړې وې نو تا به څه

کول؟ عرض ئې اوکړو "زهٔ به د هغوی سره تر آخری سلګئ پورې جنګیدې" نبی کریم صلی الله علیه و سلم د دې ځان فدا کولو دا جذبه اولیده نو ډیر خوشحاله شو او ورسره ورسره ئې د شفقت نه په ډك انداز زبیر رضي الله عنه ته حکم اوکړو چه خپله توره په قاش کښې کیده او په دې ځان پوهه کړه چه الله لاتر اوسه پورې مونږ ته د وسلې (اسلحه) اوچتولو اجازت نه دې کړې. سیدنا زبیر رضی الله عنه خپله توره په قاش کښې کیخوده او بیا په پوره مکی ژوند کښې ئې هغه د قاش نه بهر نه وه راویستلې.

**ماشوم مجاهد، د مستقبل سپه سالار:**

د نظریاتو جنګ په مختلفو محاذونو باندي کیږی. د ټولونه نازکه او ګرانه مرحله په اعصابی محاذ باندي مخي ته راځي. په دې موقع باندې خپل اعصاب مظبوط ساتل او د وخت مناسب صحیح هتیار استعمالول ډیر ضروری وی. په غزوه بدر کښې د کامیابې نه پس د نبی صلی الله علیه و سلم په حساس زړهٔ کښې فورا په مدینه کښې موجود زنانو، ماشومانو، کمزورو او معذورو خیال راغلو. نبی صلی الله علیه و سلم ته پته وه چه هغه خلق د جنګ د وجې نه څومره پریشانه وو. نبی صلی الله علیه و سلم په خپله اوښه قصوه باندې، چه ډیره تیز رفتاره وه، زید بن حارثه ته د سوریدو حکم اوکړو او عبد الله بن رواحه ته د هغي په خپل اوښه د سوریدو حکم اوکړو او وائي فرمائیل" څومره زر چه کیدې شي مدینې ته ځان اورسوې. یو د بره طرف نه مدینې ته داخل

شئ او بل د خكته طرف نه او د اهل مدينه ته د فتح خوشخبري واوروئ.

دا دواړه صحابه د فاتح فوج نه مخکښې مديني ته داخل شو. اتفاقًا په هغه ورځ د نبی صلی الله علیه و سلم لور او د سيدنا عثمان ابن عفان رضي الله عنه بي بي مبارکه سيده رقيه رضي الله عنها وفات شوي وه. د هغې جنازه شوي وه او په جنت البقيع کښې ئې تدفين شروع وو. سيدنا زيد بن حارثه ته په دې خبر زړهٔ دردونکی خفګان اورسيدو. منافقينو ته د خپل خباثت ښکاره کولو موقع په لاس ورغله. هغوی اووې "اومو كتل مونږه نه وئيل چه محمد صلی الله علیه و سلم قتل شوې دې. زيد ځان بچ کړې دے او د هغه په اوښه باندې راتختيدلې دې. منافقينو د اول نه په مدينه کښې دا افواهګانې خورولې چه قريشو هغه خلقو ته عبرتناك شكست ورکړې دې. ډير په بده ئې د هغوی قوت د خاورو سره ميلاؤ کړې دې، او محمد ئې (نعوذبالله) قتل کړې دې."

سيدنا اسامه بن زيد رضي الله عنه د دې منافقانو خبرې اوريدې. په دې وخت کښې د سيدنا اسامه رضي الله عنه عمر لس كاله وو. هغه چه خپل پلار اوليدو نو په منډه د هغه خواته ورغلو او پښتنه ئې تري اوکړه چه د جنګ څه نتيجه شوه. هغه اووې "بچيه الله مونږ لره فتح راکړه". دا خبره چه واوريده نو اسامه رضی الله عنه د هغه منافقينو طرف ته لاړو او په ډير جرأت سره ئې اووې" اوس چه تاسو خبرې کولې، ډير زر به د دې انجام اوګورئ. د الله نبی به اوس په فاتحانه شان

سره مدينې ته داخل شي". منافقينو چه د ده خبره واوريده نو په رپيدو شو او ډير په معذرت سره ئې ورته اووې" الله قسم مونږ داسي خبره نه ده کړي، مونږ خو د نورو خلقو حواله ورکړي وه." بيا دا اسامه دې چه د اتّلسو کالو په عمر کښې د نبی صلی الله عليه و سلم د طرف د يو لښکر مشر جوړ کړې شو.

## د عمير بن سعد رضي الله عنه عظمت:

د غزوه تبوك چه کوم واقعات په د تاريخ او حديثو په کتابونو کښي محفوظ دي په هغې کښې يو زړه سوزونکي او ايمان زياتونکي واقعه دا ده چه په واپسي کښې منافقينو نبی صلی الله عليه و سلم لره په يوګرانه وادئ کښ د تيرولو په وخت په يو کډه کښې غورځولي سازش اوکړو او د نبی صلی الله عليه و سلم نه مخکښې هلته مورچه واچوله او کيناسته. کله چه منافقينو دا سازش کولو نو يو وړوکي انصاری مجاهد عمير بن سعد رضی الله عنه د هغوی خبرې اوريدي. هغه د نبی صلی الله عليه و سلم په خدمت کښې د هغوی د سازش ښکاره کړو. نبی صلی الله عليه و سلم چه کله د هغوی نه د دې خبرې وضاحت طلب کړو نه هغوی بلکل انکار اوکړو او منکر شو. هغوی قسمونه اوخوړل او وائي وئيل چه داسي څه خبره خو هغوی کړي هم نه ده او هغه ماشوم صحابی باندې ئي التہ الزامونه اولګول چه دې ماشوم په خبره پوهه شوې نه دې. او دا قصه ئې د خپل ځان نه جوړه کړي ده.

د سورة توبه په ايات نمبر٧٤ کښې دې خبرې طرف ته اشاره شوې ده.

"دا خلق په الله قسم کوی او وائي چه مونږ هغه خبره نه ده کړي او حال دا دې چه دوی خواه مخواه هغه کافرانه خبره کړي ده. هغوی د اسلام راوړولو نه روستو د کفر ارتکاب کړې دې او هغې د هغه څه کولو اراده کړې ده ، کوم چه هغوی اونه کړې شو. اوس هم که دوی د دې خپل کار نه قلار شی نو دا دوي دپاره بهتر ده او که دوی قلار نه شو نو الله به دوی لره انتهائي دردناکه سزا ورکړی.په دنیا کښې هم او په اخرت کښې هم او په زمکه کښې هیڅ څوك نیشته ، چه د دوی حمایتی او مددګار وی."

دا سازش کونکي جلاس بن سوید بن صامت او د هغه ملګری وو. کله چه د دوی نه تپوس اوکړې شو نو دوی بالکل منکر شو. د دوي خبرو اوریدو والا او نبی صلی الله علیه و سلم ته اطلاع ورکولو والا مخلص او صاحب حمیت صحابي عمیر بن سعد رضي الله عنه وو کوم چه یتیم شوې وو او د هغې مور د جلاس سره نکاح کړي وه. هغه فکر مند شو ځکه چه د هغه خبره د دې وجه نه اونهٔ منلې شوه چه هغه ماشوم دې . سره د دې چه نبی صلی الله علیه و سلم په هغه اعتماد وو خو نبی صلی الله علیه و سلم د مصلحت په بنا باندې خاموشي اختیار کړه. نبی صلی الله علیه و سلم باندې چه کله بره ذکر شوې ایت نازل شو نو نبی صلی الله علیه و سلم د عمیر بن سعد رضی الله عنه اننګې د محبت نه اوتپوو او د هغه په غوږونه ئې خپل لاس کیخودو او وے فرمائیل: "دې غوږونه چه څه اوریدلي وو نو هغه رښتیا وو".د دې

واقعه تفصیل تفسیر ابن کثیر د دې ایت لاندې تشریح کښې نقل کړې دي.

**ماشوم انصاری، مصعب رضی اللّٰه عنه:**

په دې واقعه کښې دا تفصیل هم میلاویږي چه په یو موقع باندې بره ذکر کړې شوي جلاس په قبا کښې څه بدي خبرې هم کړې وې چه محمد صلی الله علیه و سلم چه څه وائي که دا رښتیا وي نو بیا خو مونږ د خرو نه هم بدتر یو. د جلاس مېرني ځوي مصعب رضی الله عنه دا خبر نبی کریم صلی الله علیه و سلم ته اورسوو نو په دې باندې هم جلاس او د هغه ملګرو په دروغه قسم اوخوړو. د روایاتو مطابق د ایات د نازیلیدو نه روستو د مصعب رضي الله عنه په عزت کښې ډېره اضافه اوشوه او جلاس لره هم الله د توبه توفیق ورکړو او هغه مخلص مسلمان جوړ شو.

**زید بن ارقم رضی اللّٰه عنه:**

هم داسي واقعه د یو بل ځوان صحابی سیدنا زید بن ارقم رضی الله عنه په باره کښې هم نقل کړې شوي ده، په کوم کښې چه زید رضي الله عنه نبی صلی الله علیه و سلم لره د منافقانو دیو سازش نه خبردار کړو. هغې هم قسم اوکړو. دا درې واړه صحابه د کومو نومونه چه بره ذکر شو کم عمر وو.د دوی د حمیت اسلامیه په باره کښ الله وحی نازله کړه.

نن د اسلام دښمنان هره ورځ د اسلام او د اسلام د شعائرو په خلاف زړۀ ازارونکي خبرو باندې د خپل دننه خباثت پوره او ښکاره

اظهار کوی چه په هر کور کښې لیدې او اوریدې شي. که زمونږه د ځوان نسل عقیده په اسلام او د اسلام د شعائرو سره د ژور محبت او عقیدت په بنیاد باندې وی نو هر مسلمان بچې او لور به په خپله دې پراپیګنډې لره شیطاني عمل اوګرځوي او رد به ئې کړي. د بده مرغه د بنیادي تربیت کښې د کمي په بنا باندي مسلمان یا خو د تشویش (الجهن) ښکار شي او یا ډې پریس شي او یخي ساه ګاني اخلي. د څه ځوانانو خو د دې پراپیګنډې سره عملاً ذهن سازي اوشي. د دې ماتول دا دي چه مونږ خپل اصل اوپیجنو، د هغې د قدر او قیمت احساس پیدا کړو او د مرعوبیت نه راوځو او په خپل دین باندې فخر اوکړو.

## د رسول صلی الله علیه وسلم د مینی عملی نمونې:

د یو مومن بنده د ټولونه لوئي خواهش دا وی چه د قیامت په ورځ هغه د نبی صلی الله علیه و سلم په خواه کښې او د هغه د جنډې د لاندې ځائي بیا مومي. بې شکه دا یو خه، مثبته او نیکه تمنا ده. د دې تمنا د حاصلولو دپاره د نبی صلی الله علیه وسلم سره تعلق، محبت، اطاعت او وفاداری هم داسي مطلوب ده چه په هغې کښې څه کوټ نه وی. صحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین واقعي په دې عظیم معیار باندې پوره وو چه هغوی به د قیامت په ورځ د نبی صلی الله علیه وسلم خي او ګس اړخ ته وی. هر مومن که په اخلاص سره د صحابو د قدمونو په نقش باندې روان شی نو د هغه په باره کښې هم دا ګواهي ورکولې شی. مونږ لره په سنجیده او سوړ زړهٔ او مازغو سره دا سوچ کول پکار

دی چه مونږ د دې سوال حوالې سره په کوم ځائی کښې ولاړ یو. د صحابو مثالونه د مطالعه او غور او فکر دپاره ستاسو په خدمت کښې پیش کولې شي. د عمل دپاره د همت ملا تړل په مونږ کښې د هر یو خپل خپل انتخاب دې.

**خا ندان، والدین او د رسول صلی اللّٰه علیه و سلم محبت:**

د خپل خاندان خاص کر د مور او پلار په خلاف څه قدم پورته کول ډیر مشکله مرحله وی. د ځوانانو صحابو دا کمال دې چه هغوی د خپل خاندان سره محبت، د والدینو سره بې پناه ادب او احترام مظاهره او د هغوی د مکمل توقیر باوجود د اللّٰه او د هغه د رسول صلی اللّٰه علیه و سلم په مقابله کښې مشرك ، منافق او کافر مور پلار پورې پریخي وو. په قران کریم کښې د اهل ایمان د نبی کریم صلی اللّٰه علیه و سلم سره تعلق په سورة الاحزاب ایت نمبر٦ کښې اللّٰه تعالي داسي بیان کړې دې:

اَلنَّبِیُّ اَوْلٰی بِالْمُؤْمِنِیْنَ مِنْ اَنْفُسِهِمْ

"بې شکه نبی کریم صلی اللّٰه علیه و سلم د اهل ایمان د پاره د خپل ځان نه هم مقدم دې ".

په خپله د نبی کریم صلی اللّٰه علیه و سلم خپل ارشاد مبارك دې "په تاسو کښې یو تن تر هغه وخته پورې مومن نه شی جوړیدې تر څو چه زهٔ هغه ته د هغه د مور پلار، اولاد او ټولو انسانانو نه زیات محبوب نه شم. (متفق علیه ، باب الایمان)

## د ازر په کور کښې ابراهيم عليه السلام:

الله تعالیٰ په قرآن مجید کښې فرمائیلی دی چه هغه د ژوندي نه مړ پیدا کوی او د مړ نه ژوندې پیدا کوی کله د لوئی او سخت کافرانو او بدترین منافقانو په کورونو کښې الله تعالي نبی او جنتی بندګان پیدا کیږی او کله د نبی او نیکانو په کور کښې بد خلق پیدا کیږی. د عبدالله ابن ابی ابن سلول په منافقت کښې چاته څه شك نه وو .دا هغه سړې دې چه د د نبی صلی الله علیه و سلم او صحابه کرامو په باره کښې دا وئیلي وو" د دې خلقو مثال هم داسې دې لکه یو سړې سپې اوساتي او هغه سپې خپل مالك لره ماتولو دپاره منډه کړی ." هغه دا الفاظ هم وئيلي وو" په مونږ کښې چه کوم عزت والا دی هغه به دا ذلیله د مدینې نه بهر کوی". د روایاتو مطابق دا واقعه د غزوه بنو المصطلق په موقع باندې راغلي وه. په سورة المنافقون کښې د دې تفصیل موجود دې. د عبد الله ابن ابی ځوان ځوي عبد الله بن عبد الله رضی الله عنه مخلص صحابی او په رسول الله باندې ځان قربانه ونکې وو. هغه هم د خپل پلار دا خبره واوریده او چه لښکر کله واپس مدینې ته راؤرسیدو نو هغه د ټولو نه مخکښې د د یو کوځے په سر باندې اودریدو او د خپل پلار لاره ئې اونیوه او وائې وئیل چه تا اعلان کړې وو چه مدینې ته واپس اورسو نو عزت مند به ذلیله اوباسو. اوس به تاته معلوم شی چه عزت ستا دې او که د الله او د هغه د رسول صل الله علیه و سلم ، په الله قسم چه تاسو مدینې ته داخیلیدې هم نه شئ، تر څو چه د الله نبی تاسو ته اجازت اونه کړی.

اندازه اوکړئ چه دا حمیت اسلامی او غیرت ایمانی په مقابله د عصبیت جاهلیه کښې. بوډها پلار د نفاق په مرض کښې مبتلاء دې او ځوان ځوي ئی د ایمان د حلاوت په جذبې سره سرشار او د نبی صلی الله علیه وسلم په مینه باندې رنګ دې.عبد الله ابن ابی ابن سلول په دې موقع باندې ډیر اوغړمبیدو ، هغه ډیر شور او هنګامه اوکړه خو هغه لره مدیني ته د داخیلیدو اجازت تر هغه وخته پورې مېلاؤ نه شو تر څو چه رسول الله خپل جان نثار ته حکم اونهٔ کړو چه هغه دي د خپل پلار لاره پریږدی او هغه لره مدینې ته د داخیلیدو اجازت ورکړی. داسې ثابته شوه چه عزت دَ الله ، د هغه رسول صلی الله علیه وسلم او اهل ایمان دپاره دې .

## د قریشو د سردار عظیمه لور:

ام المومنین سیده ام حبیبه رضی الله عنها د ابو سفیان لور وه. ابو سفیان اوچتې مرتبې والا د مکې سردار وو. په عربو او د عربو نه بهر په هر ځائی کښې د هغه ډیر عزت وو. یو وارې ابو سفیان مدینې منورې ته راغلو دې وخت کښې لا مسلمان نه وو. هغه دنبی صلی الله علیه و سلم سره ملاقات کول غوختل. دخپل لور ام حبیبه رضی الله عنها کور ته لاړو. د نبی صلی الله علیه و سلم بستره په زمکه خوره وه نو سیده ام حبیبه رضی الله عنها هغه بستره راټوله کړله. ابو سفیان دا خبره ډیره ناخوښه اوګڼړله. هغه اووې "لورې تاته په دې بستره د خپل پلار کیناستل خوښ نه دی. ایا دا بستره د دې لائقه نه ده چه زهٔ په دې کینم یا زهٔ د دې قابل نه یم؟" هغې ورته ښکاره اوئیل"بې شکه ماته د نبی

کریم صلی الله علیه و سلم په مقدسه بستره باندې د یو مشرك کیناستل هیڅ کله هم خوښ نه دی."د سیده ام حبیبه رضی الله عنها عمر په دې وخت کښې اته دیرش کاله وو. د هغې د دې نه مخکښې دا اعزاز هم دې چه هغې د شلو یو ویشتو کالو په عمر کښې د ایمان د حفاظت په خاطر باندې حبشې ته هجرت هم کړې وو.

(انسائیکلوپیډیا ازواج مطهرات و صحابیات، صفحه ۱۹۹ ، ۱۹۸)

**غسیل الملائکه:**

په غزوه احد کښې یو ځوان صحابی شهید شو، د کوم نوم چه سیدنا حنظله رضی الله عنه وو. د هغه تعلق د قبیله خزرج سره وو. د نبی کریم صلی الله علیه وسلم رښتونې وفادار او مخلص مومن وو. عجیبه خبره دا ده چه د هغه پلار هم د عبد الله ابن ابی په شان د قبیله او د کلي یو معروف سړې وو. هغه عیسائی راهب جوړ شوې وو او د هغه د علمی وجاهت او زهد او تقوي ډیره چرچه وه. د دې سره سره هغه په خپله چالاکۍ باندې خپل ځان یو لوئی درویش ثابت کړې وو او په جاهلانو باندې ئې خپل مذهبی تقدس او رعب قائ کړې وو . د نبی کریم صلی الله علیه وسلم مدینې ته په راتلو چه څنګه عبد الله ابن ابی د هغه دښمن جوړ شو داسې ابو عامر راهب هم د نبی کریم صلی الله علیه وسلم دښمن جوړ شو. دا سړې دې، د کوم په سازش چه په مدینه کښې مسجد ضرار جوړ کړې شو. دا په غزوه احد کښې هغه کندي کنستل وې چه په هغه په وخو باندې پټې کړې شوي وي، په دې کښې په یوه کښې نبی کریم صلی الله علیه وسلم پریوتو او زخمي شوې وو.

د جنګ حنین پورې چه څومره جنګونه شوي دی ، په ټولو کښې ابو عامر کفارو او مشرکینو لره راپارولو کښې ډیر لوئی کردار اداء کړې دې. د فتح مکه نه پس د عرب د زمکه نه مایوسه شو او د شام طرف ته اوتختیدو او د هلته نه روم ته اورسیدو .د روم قیصر لره د غزوه تبوك په موقع باندې په عربو باندې حمله کولو دپاره د تیار کړي وو. د دې بدبخت په کور کښې د سیدنا حنظله رضی الله عنه په شان بهادر پیدا شو. په غزوه احد کښې سیدنا حنظله خپل پلار قتلولو کوشش هم کړې وو خو هغه اوتختیدو او د صف نه شاته پټ شو. بیا د په ابو سفیان حمله اوکړه او نیزدې وه چه هغه ئی قتل کړې وې. ده د ابو سفیان د اس خپه کټ کړه اس او سورلئ دواړه راوغورځیدو. دې د قریشو د سردار قتلولو ته نیزدې وو چه د ابو سفیان محافظین رامخکې شو او شداد بن اسود سیدنا حنظله رضی الله عنه شهید کړو. د جنګ نه پس چه کله د سیدنا حنظله پاك جسم اوچتولې شو نو صحابو د تازه اوبو قطرې د هغه د ویختو نه خکته راسه سیدلي اوکتي. نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته د دې منظر باره کښې اوئیلو شو نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل:د ده د کور والاو نه معلومات اوکړئ. معلومه شوه چه د جنګ نه مخکښې شپه د سیدنا حنظله رضی الله عنه د وادۀ شپه وه. د جهاد اعلان اوریدو سره میدان جنګ طرف ته روان شو. د جنابت غسل پرې واجب وو، خو په دې خیال سره چه جنت ته وړاندې والې نه محرومه نه شی، په تیزي سره په جهاد کښې شریك شو. د هغه بی بی جمیله بنت ابي (د رئیس المنافقین لور) مخلصه صحابیه وه.

نبي کريم صلی الله عليه وسلم ارشاد اوفرمائيلو چه فرشتو حنظله رضی الله عنه ته د جنت په اوبو غسل ورکړې دې. د دې وجي نه سيدنا حنظله رضی الله عنه ته غسيل الملائکه وئيلې شی. دا واقعه ابن اسحاق تفصيلا ليکلې ده. علامه ابن کثير هم دا په البدايه و النهايه کښې نقل کړي ده.

**دامت امين:**

په صحابه کرامو کښې سيدنا ابو عبيده بن عبد الله بن الجراح رضی الله عنه ډير اوچت مقام دې. دې په عشره مبشره کښې هم دې او نبي کريم صلی الله عليه وسلم دهٔ لره د امت مسلمه امين هم ګرځولې وو. د تاريخ په کتابونو کښې د غزوه بدر حوالې سره بيان کړې شوي دی چه ابو عبيده بن الجراح خپل پلار عبد الله بن الجراح قتل کړې وو د دې وجه صرف دا وه چه پلار ئې د کفر جنډا اچته کړي وه او جهاد ميدان ته راغلې وو او ابو عبيده خپل منډې ترړې د الله او د هغه د رسول صلی الله عليه و سلم په لاس کښې ورکړې وو.

**سيدنا مصعب بن عمير رضی الله عنه:**

د سيدنا مصعب بن عمير رضی الله عنه په سيرت کښې تقريبا ټولو سيرت ليکهونکو ليکلي دی چه د بدر په ورځ هغه خپل ورور عبيد بن عمير قتل کړې وو. د دهٔ يو ورور زراره بن عمير المعروف ابو عزيز مکی هم د کافرانو د طرف نه په جنګ کښې شريك وو. هغه چه کله يو انصاری د جنګ نه پس بندي کړو او تړلو ئې نو د سيدنا مصعب نظر هم په هغه پريوتو. د خپل انصاري ورور ته اوئيل "يا اخي دې

جنګي بندي لره مظبوط اوتړه، د ده مور پلار ډیر مالدار دی. دا چه واوریدو نو زراره په تعجب او غصې سره اووې "ستا وینه ځومره سپینه شوي ده چه ته یو غیر تن لره د خپل ورور په خلاف تیزی ورکوې." سیدنا مصعب رضی الله عنه اوفرمائیل "نا ته غلط لګیا ئې، ته زما ورور نه ئې. دا زما ورور دې ."

ظاهره ده چه اسلام او ایمان دوی لره په خپل مینځ کښې ورونړه جوړ کړي وو او د نبی کریم صلی الله علیه وسلم محبت او عقیدت د دوی زړونه په خپل مینځ کښې یو ځائی کړي وو. دا اسلامی ورورولی هم یو لوئی قوت وو او د الله او د رسول الله صلی الله علیه و سلم وفاداری هم د فتح او کامرانې ضمانت وو. نن امت د دې جوهر نه خالی لمن دي. د دې وجې نه بې وزنه پاتې شوي دي.

**د جدید دور فتنې:**

تاسو به د دې خبرې سره یقینا اتفاق کوئ چه نن امت مسلمه په هر لحاظ سره مالامال دې، خو نه د دین سره هغسې یوځائی والې شته او نه د الله او د هغه د رسول په خاطر هغسې محبت شته. په هر ځائی کښې د مسلمان وینه بهیګي خو د بل ځائی ایماندار دا ګڼړي چه زمونږ د دوي سره څه کار دې. داسې هر یو د دښمن وړاندې په نمبر نمبر نرمه نوړئ جوړیږی. د دې ذلت او سپکوالی نه د وتلو یوه لار ده او هغه دا ده چه د صحابه کرامو د خپو نقشونه خپل کړې شی. ائ کاش چه دا جذبه به څنګه راژوندئ شی؟؟؟ قرآن او سنت د ملت ابراهیم تصور ورکړو، د کلمه په بنیاد باندې یو نوي برادری او اخوت قائم کړو

خو شيطان بيا هغه د جاهلي عصبيت هغه فتنې ژوندئ کړي د کومو چه نبي کريم صلی اللّٰه عليه وسلم دخپلو خپو لاندې کولو اعلان کړې وو. مونږ په عربو او عجمو کښې تقسيم شو. د افغاني او توراني بتان مو په زړهٔ کښې ځائې کړل او حد دا دې چه د اسلام په نوم باندې وجود ته راغلي د دنيا واحد نظرياتي رياست پاکستان کښې هم د انجام نه نا خبره حکمرانانو دا نعره اولګوله "د ټولو نه اول پاکستان"

په دې موقع باندې حکيم الامت علامه محمد اقبال رحمة اللّٰه عليه راياديږي. هغه د زړهٔ د درد سره د ملت د هر فرد سره داسي مخاطب کوي:

غبار آلودۂ رنگ و نسب ہیں بال و پر تیرے
تو اے مرغ حرم اڑنے سے پہلے پرفشاں ہو جا
بتان رنگ و بو کو توڑ کر ملت میں گم ہو جا
نہ تورانی رہے باقی ، نہ ایرانی ، نہ افغانی

هغه په خپل فارسئ کلام کښې نور هم د اثر نه په ډك انداز کښې د خپل ملت تعارف داسي پيش کوی:

نہ افغانیم و نے ترک و تتاریم
چمن زادیم و از یک شاخساریم
تمیز رنگ و بو بر ما حرام است
کہ ما پروردۂ یک نو بہاریم

## انفاق فی سبیل اللہ اور صحابه کرام رض :

انسان چه د کوم څیزونو سره محبت کوی، په هغې کښې مال او دولت هم دې .د انسان په فطرت کښې دی چه هغه د خپل مال د زیاتولو په فکر کښې وی. که چرته نه لږ تاوان اوشی نو پریشانه کیږی. مال په خپله څه بد څیز نه دې بلکه په قران مجید او حدیثو کښې د خیر او فضل په الفاظو سره ترې تعبیر کړې شوې دی. د مال محبت که د حد نه زیات شی نو دا تباه کونکې وی. په حدیث کښې فرمائیلې شوي دی چه انسان ته د هغه صدقې زیات اجر میلاویږي، چه هغه ئې په صحیح او تندرست حالت کښې اوکړی. د انفاق په ذریعه سره د زیات نه زیات اجر موندلي دا موقع وی. وے فرمائیل: " دا هغه وخت انتظار مه کوه چه ساه دې مرئ ته راشئ، بیا ته اووې دا دې فلانکی ته ورکړې شي او دا دې فلانکی ته، دغه وخت کښې خو دا په خپله د فلانکی او د فلانکی کیږی." (د صحیحینو په حواله سره )

## ټول باغ الله لره ورکړه:

د مدینې په ځوان صحابو کښې یو نوم د ابو دحداح رضی الله عنه دې. دا د مدینې انصاری صحابی وو، ځوان وو، او ذمیداره او باغونه د ده ذریعه معاش وه. کله چه د سورة البقرة ایت نمبر۲٤٥ کښې الله رب العالمین د ایمان والاؤ نه قرض حسنه اوغوختو نو نبی کریم صلی الله علیه و سلم دا حکم صحابه کرامو رضي الله عنهم اجمعین ته اورسو. هغوی د نبی کریم صلی الله علیه و سلم د خولې مبارکې نه دهغه ایت واوریدو نه څه تعجب ورته اوشو او دې ځوان صحابی عرض

اوکړو' ائ د الله نبي کريم صلى الله عليه و سلم ايا الله زمونږ نه قرض غواړي. نبي کريم صلى الله عليه و سلم ورته اوفرمائيل، او اې ابو دحداح ، الله دا کتل غواړي چه تاسو د الله په مطالبه باندې څه جواب ورکوئ. دا اوريدل وو او چه د دې ځوان صحابي عجيبه کيفيت شو. عرض ئې اوکړو "يا رسول الله تاسو خپل لاس مخکښې کړئ. نبي کريم صلى الله عليه و سلم لاس مخکښې کړو نو د نبي کريم صلى الله عليه و سلم لاس ئې په خپل لاس کښې اونيو او وائې وائيل" زۀ تاسو ګواه جوړوم چه ما خپل باغ د کوم نه چاپيره چه چارديواري ده او په کوم کښې چه زما کور دې، خپل مالك ته قرض ورکړې دې."

امام ابن کثير رحمة الله عليه د سورة البقرة د دې ايت په تشريح کښې دا پوره ايمان زياتونکي واقعه ليکهلي ده. هغه ليکهي چه په دې باغ کښې کهجورو نيوو والا وني اووه سوه 700 وي. د تاريخ او حديثو دکتابونو مطابق په دې باغ کښې د يخو او خوګو اوبو يو کوهې هم وو. د کور(انګور) بيلي پکښ هم وې. د اعلان نه پس ابو دحداح رضي الله عنه د نبي کريم صلى الله عليه و سلم دمجلس نه پاسيدو او دهغه باغ طرف ته لاړو او خپلې بي بي ته ئې د دروازې نه اواز اوکړو. اې ام دحداح دې بختورې زنانه جواب ورکړو "لبيك زما د سر تاجه" اوئې فرمائيل خپل بچي د ځان سره کړه او د دې باغ نه راوزۀ، ما دا باغ الله له قرض ورکړې دې. دهغه عظيمې زنانه اووې "ابو دحداح تاته دې مبارك شي، تا چه کومه سودا اوکړه، په دې کښې حيڅ تاوان نيشته."

## د متی برابر کهجورو مقام:

د انفاق في سبيل الله معامله ډیر ناشنا ده. کله نا کله ډیر څیزونه د الله په لار کښې د خرچ کولو باندې لوئی درجې مېلاویږي ، خو کله نا کله په معمولي حصه اچولو والو ته په ټولو پورته والې حاصلیږی. د غزوه تبوك په موقع باندې عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه ، چه مالدار صحابه وو، تهیلئ ئې راوړې په کوم کښې چه سره زر او سپین زر او درهم او دینارونه وو. کله چه پښتنه اوکړې شوه چه څومره تعداد او مقدار دې نو هغوي نبی کریم صلی الله علیه و سلم ته عرض اوکړو "اې د الله رسوله په الله قسم چه ما شمارلې او تول کړې نه دې. الله مالره بې حسابه راکوی نو د الله په لاره کښې په شمار او په تلو ورکولو باندې ماته شرم رازي." د الله رسول صلی الله علیه و سلم اوفرمائيل: "بَارَكَ اللهُ فِيْ مَا اَعْطَيْتَ وَبَارَكَ اللهُ فِيْ مَا اَمْسَكْتَ" (تا چه د الله په لاره کښې ورکړو، الله دې په دې کښې برکت واچوي او کوم چه تا په کور کښې پریخودو، الله دې په هغې کښې هم برکت واچوي .").

هم دا موقع وه کله چه یار غار سیدنا صدیق اکبر رضي الله عنه خپله ټوله مال او دولت او جمع کړې شوي هر څه راوړي وو او د جهاد د پاره ئې جمع کړي وو او ګویا چه داسې ئې وئیلي وو:

*پروانے کو چراغ ہے، بلبل کو پھول بس*
*صدیق کے لیے ہے خدا کا رسول بس*

سیدنا عمر رضی الله عنه د خپل ټوّل مال نیم حصه پیش کړي وه، او هر چه عثمان رضي الله عنه دې نو هغه په سوونو اوښان او ساز

او سامان پیش کړې وو. د اللّٰه رسول د دهغه اوښانو په سټؤنو لاس وهلو او وائیل ئې"جبرائیل مسلسل وائي چه اې د اللّٰه رسوله صلی الله علیه و سلم عثمان که هر څه اوکړي هغه جنتي دې." او بیا د ټولو نه مخکښې کیدونکې فقیر صحابي ابو عقیل رضی اللّٰه عنه راغلو نو هغه یو څو سیره کهجورې پیش کړې. پښتنه ترې اوکړې شوه کهجورې دې د کوم ځائې نه حاصلې کړې نو عرض ئې اوکړو"د یو یهودي سره مې ټوله شپه مزدوري اوکړه او سحر چه په مزدورۍ کښې څه کهجورې میلاو شوې ، په هغې کښې مې نیمې خپلو بچو لره ورکړې او نیمې ستاسو په خدمت کښې پیش کومه. تاسو ئې قبولې کړئ." د اللّٰه رسول صلی الله علیه وسلم ارشاد اوفرمائه"په هغه ذات مې دې قسم وي، د چا په قبضه کښې چه زما ساه ده، دا کهجورې د اللّٰه او د هغه د رسول په نظر کښې د سرو او سپینو زرو او د درهمونو او دینارونو د ډهیري نه ډیر قیمتي دي." بیا هغه کهجورې نبی صلی اللّٰه علیه و سلم د سرو او سپینو زرو په ډهیري باندې خورې کړې.

په دې ایمان زیاتونکي منظر باندې د ایمان والاو ایمان نور هم زیات شو خو منافقین په اوور کښې اوسوځیده. هغوي تبصرې کولې چه په دې یو مټې کهجورو دوي د روم قیصر لره ماتې ورکول غواړي او دا ئې هم اووې چه مالداره خلق ریاکاري او نمائش کوي.اللّٰه رب العزت د مخلص صحابه کرامو د طرف نه دې بد بختو ته جواب ورکړو. ارشاد رباني دې:

اَلَّذِيْنَ يَلْمِزُوْنَ الْمُطَّوِّعِيْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ فِي الصَّدَقَاتِ وَالَّذِيْنَ لَا يَجِدُوْنَ اِلَّا جُهْدَهُمْ فَيَسْخَرُوْنَ مِنْهُمْ ۙ سَخِرَ اللّٰهُ مِنْهُمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ۔ [سوره التوبه، آيت نمبر ۷۹]

"الله (دې شومانو مالدارو) لره خه پيجني، چه په رضا او په رغبت سره د الله په لار کښې خرچ کونکو اهل ايمان د قربانيانو په باره کښې ناروا تبصرې کوي او بيا د هغه خلقو د غربت هم مذاق کوي د چا سره چه(د الله په لار کښې د ورکولو دپاره ) د دې نه سوا څه هم نيشته، چه هغوي ئې په خوله او وينه تويولو سره ګټي او راوړي. الله د دي مذاق کونکو مذاق کوي او د دوي دپاره دردناکه سزا ده."

## د ژوند د معيار بُت مات شو

### دوه کمبلو والا مرد درويش:

سيدنا عبد الله المزنى رضى الله عنه، يو بل ځوان صحابي وو. د کوم چه د نبی کريم صلی الله عليه و سلم سره ملاقات هم نه وو شوې خو د رسول صلی الله عليه و سلم احوال ئې اوريدلي وو نو په هغه مېئن شوې وو.په ماشوم والي کښې يتيم شوې وو ، د نبی کريم صلی الله عليه و سلم په شان د هغه پرورش هم د هغه تره کړې وو او څه چيلې ئي ورته ورکړې. هغه د خپل تره د چېلو د کندك سره خپلې چيلې هم ساتلې، د چېلو په تعداد کښې ډيره اضافه اوشوه. اخر کښې د فتح مکه نه پس ئې تره ته د مديني تلو د پاره اووې نو په هغې باندې تره ناراضه شو. اوس د عشق اوور مړ کولو بغير هغه څنګه مړکيدو. هغه اوفرمائيل:" چه زهٔ خو اوس مديني ته د تلو نه بغير نه شم پاتي کيدې". تره ورته اووې چه دا ټول ګډې بيزي او ريؤړ زما دي". هغه اوفرمائيل

تاته د دې مال لالچ دې نو دا واخله، زۀ به مديني ته هر حال باندې زم." هغه اووې"ستا دا څادر او پېزار هم زما د مال نه جوړي شوي دي دا هم کوزې کړئ."

ځوان خپل مور ته دا صورت حال بيان کړو او درخواست ئې اوکړو چه هغه ته څه کپړا ورکړي. هغې اووې "زما سره يو زوړ کمبل دې نور هيڅ هم نيشته". دې ربنتوني عاشق هغه کمبل دو ځائې کړو او يو ئې د ماله نه چاپيره اوتړله او بله ئې په اوګه واچوله. تره لره ئې د هغه د مال نه جوړي شوي کپړې او پېزار هم ورکړو. خپياپله خپې مديني طرف ته روان شو. د نبی کريم صلی الله عليه و سلم په خدمت کښې د حاضريدو شوق به هغه لره خوشحاله مديني طرف ته بوتلو. د شپې وخت وو چه مديني ته راورسيدو. د مسجد نبوی دروازه ئې کهولاو اوليده نو ور دننه شو او په فرش باندې اوده شو.

نبی کريم صلی الله عليه وسلم دشپې په اخره حصه کښې جومات ته تشريف راوړۇ او هغه اجنبی چه ئې اوده اوليدو نو تپوس ئې تري اوکړو: مَنْ اَنْتَ يَا ذَالْبَجَادَيْن۔ يعني اې په دوه کمبلو کښې راغونډ شوي ئه ته څوك ئې"، هغه اووې : "زۀ عبد العزیٰ يم". نبی صلی الله عليه و سلم اوفرمائيل :"ته عبد العزي نه ئې بلکه د نن نه اخوه ستا نوم عبد الله دې."

دې صحابی خپل هر څه د الله او د هغه د رسول د محبت د پاره پريخودي وو. خپله واقعه ئې نبی صلی الله عليه وسلم ته واوروله نو نبی صلی الله عليه و سلم ډير متاثره شو. په سحر کښې ورته نبی صلی الله

علیه وسلم اووي خپل وروڼو ته هم خپله واقعه واوروه. صحابو چه د هغه واقعه واوریده نو خوشحاله شو. الله دې مسافر ته ډېر لوئی اجر ورکو. د غزوه تبوك په سفر کښې د نبی صلی الله علیه وسلم سره وو. په لاره کښې ئی وفات اوشو. نبی صلی الله علیه وسلم ئی د جنازه اوکړه او ابو بکر او عمر رضی الله عنهما ته ئې اووې خپل ورور قبر ته کوز کړو. نبی صلی الله علیه وسلم مسلسل فرمائیل: "خپل ورور په عزت او احترام سره قبر ته ورکوز کړو.

کله چه قبر تیار شو نو نبی صلی الله علیه وسلم د دعا دپاره لاس اوچت کړل او وے فرمائیل:"اے الله زهٔ ستا د دې بنده نه راضی او خوشحاله یم ته هم د دهٔ نه راضی شه".

سیدنا عبد الله بن مسعود رضی الله عنه چه د هغه خپله ډېر اوچت شان او مقام دې هغه به اکثر فرمائیل " چه هغه قبر زما هیڅ کله هم نه هیریږی، په کوم کښې چه عبد الله ذو البجادین دفن کړې شوې وو. زهٔ همیشه په خپل زړه کښې حسرت بیا مومم چه ارمان دې زهٔ په دهغه قبر کښې دفن کړې شوې وې.

## د شان سکندري نه تر شان قلندري پورې:

سیدنا مصعب بن عمیر هم د ناز او نعمت ماحول پریخودې وو او د عشق د ازغو نه ډکې وادئې کښې ئې قدم ایخودې وو. هغه د مکې د ټولو نه نازبین ځوان وو. د شهزادانو په شان ژوند ئې تیروو. د اسلام قبلولو په جرم کښې دکور نه اویستې شو. په ناز او نعمتونو کښې رالوئې شوې ځوان هم د دنیا عیش او عشرت لره لته ورکړه، د ژوند د معیار

بت ئې مات مات کړو او په دوه کمبله ئې تاؤ کړې وه او د نبي کريم صلى الله عليه و سلم په خدمت کښې په دار ارقم کښې حاضر شوې وو. دا منظر ليدو سره د نبي کريم صلى الله عليه و سلم سترګې هم لمدې شوې وې. نبي کريم صلى الله عليه و سلم اوفرمائيل: "مصعب دنيا او د هغې رنړه ګانې د الله او د هغه د نبي صلى الله عليه و سلم په محبت باندې قربان کړې دی". ناز او نعمت قربانول ډير مشکل وی ، خو چه چاته د اشنائی لذت حاصل شی نو هغه د دې دنيا نه بې پرواه شی. د اقبال د قول مطابق:

دو عالم سے کرتی ہے بیگانہ دل کو

عجب چیز ہے لذت آشنائی

مصعب بن عمير رضى الله عنه به د مکې په کوڅو کښې په شان سکندری سره تيريدو نو د مکې والاؤ به د هغه په حالت باندې رشك کوو. دنيادار صرف شان سکندری ته سلام کوی. کله چه د حق قبلولو په جرم کښې د دې ځوانانو د محروميانو سره مخ شو نو خپياپله خپې او په کمبل کښې پټ به د دې مکې په کوڅو او بازارونو کښې به په شان قلندری سره تيريدو. دنياوالو به وې دا پاګل شوې دې. دنيا والاؤ لره څه دی، دوی خو د الله رسولانو ته هم مجنون او ليونې وئيلو نا نه يريدل. د دې په دې شان قلندری باندې اسمان والا هم رشك کوو. څومره چه کار مشکل وی دومره لوئی اجر ميلاويږی، خو د هر مدعی په نصيب کښې سولئ او پهانسی چرته؟ دا د هغه چا په تقدير کښې وي

چه لوئی نصیب والا وي. دا سړې دومره اوچت وو چه په احد کښې د دهٔ شهادت باندې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی وو"د دهٔ واړه څادرونه د ده نه پوره کیږی، د ده په بربنډو خپو باندې واخهٔ واچوې او پوهه شئ چه د ده دا بربنډي خپې الله په خپل رحمت پټې کړي دي. "کواکب نبوت دا منظر لیدو سره دَ بربنډو خپو والا په اوچت شان باندې رشك کوو او په کلونو کلونو روسته پورې بلکه د نن پورې په دې رشك کولې شی.

## د نن چیلنج:

د الله دین نن د مسافر په شان دې. د دهٔ خپل د دې نه لاتعلق او ناشنا شوی دی، بلکه یو حصه خلق خو د دښمن سره مبلاو شو او په دې باندې حمله آور شو. غیرو خو دا د خپل ځان د پاره لویه خطره ګرځولي ده او اعلان جنګ ئی کړې دې.نن د دین د حفاظت دپاره د ځان او د مال د قربانئ ضرورت دې. الله والا په هر دور کښې موجود وی،نن هم د الله زمکه د دوی نه خالی نه ده. د الله په لار کښې خرچ کولو دپاره مقدار نه زیات د اخلاص قیمت دې . هر سړې د خپل حیثیت مطابق خپله حصه واچوی او ازادي دې شي. ارشاد باري تعالي دې:

لَنْ يَّنَالَ اللّٰهَ لُحُوْمُهَا وَلَا دِمَآؤُهَا وَلٰكِنْ يَّنَالُهُ التَّقْوٰى مِنْكُمْ ؕ كَذٰلِكَ سَخَّرَهَا لَكُمْ لِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ عَلٰى مَا هَدٰىكُمْ ؕ وَبَشِّرِ الْمُحْسِنِيْنَ [حج:٣٧]

"نه رسی د دې ځناورو غوښه الله ته او نه وینه دَ هغې، خو هغه ته ستاسو تقویٰ او اخلاص رسی. دې الله دا ستاسو دپاره مسخر کړی دی د دې دپاره چه د هغه په ورکړې شوی هدایت باندې تاسو د هغه تکبیر اوکړئ او اې نبی صلی الله علیه و سلم زیره ورکړه نیکانو خلقو ته."

## اې ځوانانو !

ایا تاسو ته معلومه ده چه تاسو ولې پیدا کړې شوي ئې او ستاسو څه ذمه واری ده؟ تاسو د دې دپاره پیدا کړې شوي ئې چه تاسو د الله رب العزت بنۀ عبادت اوکړئ د دې مطیع او فرمانبردار شئ او په هره معامله او موقع باندې هغه ته سر خکته کړئې.

وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْاِنْسَ اِلَّا لِيَعْبُدُوْنِ [الذاریات۔٥٦]

"او ما انسانان او پیریان د خپل عبادت دپاه پیدا کړي دی."

تاسو د دې دپاره پیدا کړې شوي ئې چه تاسو د هغه خدائی نظام پیروی اوکړئې د کوم خواته چه باطل نه مخښې ته خوزیدې شي او نه شاته. دا خو د حکیم او حمید ذات نازل کرده نظام دې:

وَمَنْ يَّبْتَغِ غَيْرَ الْاِسْلَامِ دِيْنًا فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْاٰخِرَةِ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ۔

[العمران۔٨٥]

"او څوك چه د اسلام نه علاوه بل دين تالاش كوى نو دا به د هغه نه هيڅ كله قبول نه كړې شى او هغه سړى به په اخرت كښې د تباه كارو نه وى".

تاسو د دې دپاره پيدا كړې شوي ئي چه تاسو فرمانبردارئ او اطاعت او دوستي صرف د الله سره د هغه د رسول او د مومنانو سره اوكړئ:

إِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَالَّذِينَ آمَنُوا الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَهُمْ رَاكِعُونَ وَمَنْ يَتَوَلَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَالَّذِينَ آمَنُوا فَإِنَّ حِزْبَ اللَّهِ هُمُ الْغَالِبُونَ ـ [المائده ٥٦،٥٥]

"ستاسو دوست خو بس الله او د هغه رسول او ايمان والا دى چه د مونځ پابندي كوى، او زكوة وركوى په داسي حال كښې چه دوى خشوع هم ساتى او څوك چه د الله او د هغه د رسول او د ايمان والاؤ سره دوستى ساتي نو بس هم د الله جماعت غالب دې."

او ستاسو د ټولو نه لويه ذمه وارى د كومې چه تاسو مكلف جوړ كړې شوې ئى او د دې وجې نه تاسو پيدا كړى شوى ئي هغه ده د زمكه په مخ د الله سبحانه و تعالىٰ حكم قائمول او نافذ كول او بندګان د بندګانو د بندګۍ نه راويستل او د الله سبحانه و تعالي په عبادت كښې لګول او د دنيا د تنګۍ نه فراخۍ طرف ته او د مذهبونو او د دينونو د ظلم نه د دين اسلام عدل او انصاف طرف ته بوتلل.

بیا اې ځوانانو ایا تاسو ته دا معلومه ده چه دا مقصد او ذمه واري به څنګه پوره کیږی؟ دا ذمه واري به د پنځۀ داسې صفاتو سره متحقق وی په کومو چه ځان متصف کول ضروری دی.

۱. د هغه ایمان راسخ په ذریعه په کوم کښې چه نه نرمی وی او نه د خپل ځائې نه حرکت کول او خوځیدل:

اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ثُمَّ لَمْ یَرْتَابُوْا وَجَاهَدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ اُولٰٓىِٕكَ هُمُ الصّٰدِقُوْنَ۔ [الحجرات: ۱۵]

"پوره مومنان خو بس هغه دی چه په اللّٰه او د هغه په رسول باندې ایمان راوړی بیا ئې په هغې کښې کله شك اونکړو او په خپل مال او جان سره ئې د اللّٰه په لاره کښې جهاد اوکړو نو دا خلق ریښتونی دی."

۲. د هغه رښتونی اخلاص په ذریعه په کوم کښې چه د ښودلو او ریاکارۍ شبه قدرې هم نه وی:

وَمَا اُمِرُوْا اِلَّا لِیَعْبُدُوا اللّٰهَ مُخْلِصِیْنَ لَهُ الدِّیْنَ حُنَفَآءَ وَیُقِیْمُوا الصَّلٰوةَ وَیُؤْتُوا الزَّكٰوةَ وَذٰلِكَ دِیْنُ الْقَیِّمَةِ۔ [البینه۔ ۵]

"حال دا دې چه هغؤي ته هم دا حکم کړې شوې وو چه د اللّٰه عبادت داسې اوکړئ چه دین د هغه دپاره خاص کړئ ځانله او د مونځ پابندي اوکړئ او زکوة ورکوئ. هم دا طریقه ده د دې درستو مضمونونو."

۳. د هغه عزم محکم په ذریعه په کوم چه د خوف او ویرې زره برابر اثر هم نه کیږی:

اَلَّذِیْنَ یُبَلِّغُوْنَ رِسٰلٰتِ اللّٰهِ وَیَخْشَوْنَهٗ وَلَا یَخْشَوْنَ اَحَدًا اِلَّا اللّٰهَ۔ [الاحزاب۔۳۹]

"دا هغه خلق دی چه د الله پیغامات به ئې رسول او د هغه نه به ویریده او د الله نه سوا به د هیڅ چا نه نه ویریدو."

٤. د هغه عمل پهیم په ذریعه په کوم کښې چه د سستئ او کاهلئ نوم هم نه وی:

وَ قُلِ اعْمَلُوْا فَسَیَرَی اللّٰهُ عَمَلَكُمْ وَرَسُوْلُهٗ وَالْمُؤْمِنُوْنَ وَ سَتُرَدُّوْنَ اِلٰى عٰلِمِ الْغَیْبِ وَالشَّهَادَةِ فَیُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ۔ [التوبه۔۱۰۵]

"او نبی صلی الله علیه و سلم اووایه چه عمل کوئ او ستاسو عمل الله او د هغه رسول او مومنان وینی او تاسو به ضرور د غیبو او شهادت پیژندلو والا خواته واپس تلل دی نو هغه به تاسو ته اووائي چه تاسو تر اوسه څۀ کول."

۵. د هغه عظیمې قربانئ په ذریعه چه د کامیابئ، فتح او شهادت نه علاوه هیڅ څیز نه پیژنی:

اَمْ حَسِبْتُمْ اَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا یَاْتِكُمْ مَّثَلُ الَّذِیْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ مَسَّتْهُمُ الْبَاْسَآءُ وَالضَّرَّآءُ وَزُلْزِلُوْا حَتّٰى یَقُوْلَ الرَّسُوْلُ وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ مَتٰى نَصْرُ اللّٰهِ اَلَآ اِنَّ نَصْرَ اللّٰهِ قَرِیْبٌ۔ [البقره۔۲۱۴]

"تاسو ته د هغه خلقو حالات مخښې ته نه دی راغلے چه ستاسو نه مخکښې تیر شوي دی. هغوی ته تنګی او سختی مخښي ته راغلي وه او هغوی خوزولې شوي وو تر دې چه پیغمبر او چا چه د هغه سره ایمان راوړې وو وے وئیل چه د الله امداد به اخر کله راځي، واورئ د الله امداد یقینا نیزدې دې."

په حقیقت کښې دا پنزۀ واړه صفات د هغه خلقو خصوصیات دي کومو چه د الله سره کړي وعده پوره کړه او د هغه ځوانانو امتیازی خصوصیات دی چه د الله د دین په معامله کښې د ملامته کونکي د ملامتیا قطعا پرواه نه کوی ځکه چه د ایمان بنیاد پاك زړه دې او د اخلاص بنیاد صفا ستهرا دې او د عزم بنیاد مظبوط شعور دې او د عمل بنیاد مظبوطه اراده ده او د قربانۍ بنیاد راسخه عقیده ده او دا ټول صفتونه په کامله طریقه سره په ځوانانو کښې راجمع کیدې شي او دا د مومنانو ځوانانو خصوصیات دی.

د دې وجې نه د تاریخ په ټولو دورونو کښې مخکښې هم او نن هم مومن ځوان د امت اسلامی د ترقۍ ستنه او د قوت راز او د عزت او کرامت سبب دې او د دې د جهنډې پورته کونکی او د فتح او کامرانۍ د پاره د زبردست لښکرونو قائدین وو.

اِنَّهُمْ فِتْيَةٌ اٰمَنُوْا بِرَبِّهِمْ وَزِدْنٰهُمْ هُدًى۔ [الکهف۔ ۱۳]

"دا خلق يو څو ځوانان وو چه په خپل پروردګار ئې ايمان راوړې وو او مونږ دوی ته په هدايت کښې ترقی ورکړي وه."

**اۓ ځوانانو !**

تاسو لره دا پيژندل پکار دی چه هغه مومن جماعت چه په دار ارقم کښې جوړ شوې او راجمع شوې وو د کوم په ذريعه چه اسلام ته نصرت او فتح مېلاو شوي وه هغه د ځوانانو جماعت وو، د بعثت او نبوت د ورکولو په وخت د نبی صلی الله عليه و سلم عمر مبارك څلويښت کاله وو او حضرت ابو بکر رضی الله عنه د نبی صلی الله عليه و سلم نه درې کاله کشر وو او د حضرت عمر رضی الله عنه عمر اوويشت کاله وو او حضرت عثمان رضی الله عنه هم د نبی صلی الله عليه و سلم نه کشر وو او حضرت علي رضي الله عنه خو د ټولو نه کشر وو او دهغه رنګه حضرات : عبد الله بن مسعود،عبد الرحمن بن عوف، الارقم بن ابي الارقم، سعيد بن زيد، مصعب بن عمير ، بلال بن رباح، عمار بن ياسر وغيره رضی الله عنهم اجمعين بلکه په سوونو حضرات ټول په ټوله ځوانان وو.

دا هغه ځوانانې هستيانې وې چه په خپلو اوګو باندې ئې د تبليغ بوجه اوچت کړې وو. دا هغه حضرات وو چه د دعوت او تبليغ په مېدان کښې غټ غټ عذابونه او تکليفونه په روښ تندی سره برداشت کړي وو او د صبر او قربانۍ اعلي ترين مثالونه قائم کړي وو،

دا هغه حضرات وو کومو چه سحر ماښام کوششونه اوکړل او دين اسلام ئي خور کړو او عام ئي کړو او دا دين ئي فتح او کامرانئ سره مخامخ کړو او غلبه ئي ورکړه. د دې وجې نه چه د مسلمانانو د حکومت او سلطنت قيادت او سربراهی په څو منتهونو يا د سحر نه تر ماښام پورې وخت کښي نه وو قائم شوې او هغوی په څو منتهونو کښې دوه غټې حکومتونه فارس او روم خپل مخښې ته سر خکته کړي نه وو او د هغوی عظيم سايه په مشرق کښې د سندھ په ښارونو کښې او په شمال کښې خزر، ارمينيه او د روس په ښارونو کښې په لګ وخت کښې نه وه خور شوې او د دوی د عدل او انصاف،په شام، مصر، برقه، طرابلس،او باقي افريقه کښې په يو لحظه کښې نه وو داخل شوی بلکه دا ټول هر څه په پنزهٔ ديرش کاله کښې شوی وو، د بنو اميه په دور کښې د دوي حکومت نور هم خور شوي وو او سلطنت نور هم خور شوې وو تر دې چه هغه د سندھ په ښارونو کښې او د هند په غټه حصه او ترکستان کښې داخل شو .او په مشرق کښ د چين حدودو ته رسيدلې وو او په مغرب کښې د يورپ په ښار اندلس کښې داخل شو او د مسلمانانو يو سربراه خليفه هارون الرشيد چه کله د عالم اسلامی د وسعت د دنيا مخښې ته بيانول اوغوختل نو د دې نه علاوه ئی هيڅ هم اونکړې شو چه د دې وريځ ټکړو ته ئی خطاب کولو سره اوې چه په دوی باندې بغير د وريدلو نه تيرې شوي وې: ته چه کوم ځائی ته غواړې لاړه شه او اوريږه ځکه چه ستا عشر به هم مونږ ته راځی.

او دا اوګورئ حضرت عقبه بن نافع رضی الله عنه ته چه د مغرب په بالکل اخر کښې راګیر اطلنسطي په کناره باندې اودریدو د هغه د اس خپې په اوبو کښې وې او وے فرمائیل: اۓ الله د حضرت محمد صلی الله علیه و سلم پروردګاره که دا سمندر په مینځ کښې نه وې نو ما به ستا د کلمه د پاره او د دین د سربلندئ د پاره ټوله دنیا فتح کړې وې. لهذا اې الله تۀ ګواه اوسه او دا حضرت قتیبه باهلي رضی الله عنه دې چه د مشرق اخره پورې تلې دې او په چین کښې د داخیلیدو نه بغیر د واپس کیدونۀ ئې انکار اوکړو نو د هغه یو ملګري د شفقت په طور باندې هغه یرولو او تنبیه ئی ورته کوله او وے وائیل: اې قتیبه رضی الله عنه ته د ترکیانو په علاقه کښې ډیر لرې پورې تلې ئې او د زمانې حوادث ځي راځي(یعني لګ احتیاط کوه دومره لرې پورې مه زۀ) نو د ایمان نه ډك شو او هغه لره ئی جواب ورکړو: زۀ د الله د امداد او نصرت په اعتماد باندې لرې پورې تلې یم. د هغه ملګري جواب ورکړو:"اې قتیبه ته چه کوم ځائې ته تلل غواړې لاړ شه ځکه چه ستا عزم دومره زبردست دې چه هغې لره د الله نه علاوه بل څوك نه شی ختمولې" او الله دې رحم اوکړې په شاعر اسلام علامه محمد اقبال باندې:

بمعابد الأفرنج كان أذاننا قبل الكتائب يفتح الأمصار
لم تنس افريقيا ولا صحراؤها سجداتنا والأرض تقذف نارا
كنا نقدم للسيوف صدورنا لم نخش يوما غاشما جبارا
وكان ظل السيف ظل حديقه خضراء تنبت حولها الازهارا

۱. د انګريزانو په ګرجو کښې زمونږ اذان د لښکرونو نه مخکښې به ښارونه فتح کول.

۲. افريقه او د هغې صحرا په داسې حالت کښې زمونږ سجدې نه دې هيرې کړي چه زمکې به اوور راوروو.

۳. مونږ به تورو ته خپلې سينې مخکښې کولې مونږ د يو ظالمې او غاصبې ورځې نه هم نه يو وريدلي.

٤. داسې به معلوميده چه د تورو سايه زمونږ دپاره د شين رنګ باغچه جوړه شوې وه د کومې ګير چاپيره چه ګلونه راټوکيدلي وی.

**اې ځوانانو !**

زما سره رازئ چه مونږ د شام د ښارونو، عراق د اطرافو د کلو نه، اندلس د باغاتو نه، د هند د ښارونو، د چين د اطرافو او د دنيا د نورو مقاماتو نه د هغه عظيمو بهادرو حالات اوپښتو کومو چه د ايمان او اسلام تربيت حاصل کړې وو او مسجد نبوی او مسجد حرام، مسجد اقصیٰ، مسجد قرطبه، جامعه ازهر او جامعه اموي نه فارغ شوي وو. د هغه ملکونو او علاقو والاو سره د هغوي قابل فخر کارنامې، عزت بخش

مکارم، علوم تهذیب و تمدن ، اصول او ضوابط، بنیادي تعلیمات، د بهادرۍ واقعات او د قربانیانو صحیح او رښتوني خبرونه موجود وی. ځکه چه دا هغه حضرات وو کومو چه نفسونه مهذب جوړ کړي وو، زړونه لره ئې هدایت ورکړې وو، علم ئې خور کړو او د معرفت لارې ئې اوارې کړې ، د انسان اکرام ئې اوکړو، او د بت پرستۍ نشانونه او اثار ئې وران کړل او په ټول مخلوق ئې حق، هدايت، او د معرفت د نور باران اوروو، او په زمکې کښې د خیر او ښیګړې، د ګبین او د پیو نهرونه اویستل او د زمانې په ضمیر کښې د توحید، عدل، رورولي، اخوت او مساواتو بنیادي اصول قائم کړل. ایا دنیا د دوی نه ډیر شریف، معزز، مکرم، رحمدل،شفیق،عظیم او جلیل، ترقی یافته او زبردست عالمان کتلي دی؟

دې خلقو د ازادۍ جنډه هغه وخت اوچته کړي وه چه نور ټول قومونه د غلامې په قید کښې بندیوان وو او د توحید عقیده ئې په خلقو کښې هغه وخت خوره کړه چه د نورو عقلونه د جاهلیت په طوقونو کښې بند وو او د عدل او انصاف اواز ئې هغه وخت پورته کړو چه د ظلم او ستم بازار ګرم وو او د فارس او روم خلقو مختلف قومونه د خپل جنګي خواهشاتو د پاره مسخر کړي وو.

د الله دې بندیګانو مال او دولت هغه وخت خرچ کړو چه نورو خلقو دا د ظلم په ذریعه راجمع کوو او دوی د عزتونو هغه وخت حفاظت اوکړو چه نورو خلقو میندې او خویندې خرڅولې.

د دوی تندی به د الله مخښې ته خکته کیدل او د نورو سرونه به اوچت وو، د دوی زړونو به جمال او عمده څیزونه خوښول او د هر ګنده څیز نه به ئې نفرت کوو د دوی عقلونه په حق باندې ایمان راوړې وو او دوی هر باطل لره ماتې ورکړې وو. دوی د دنیا کارونه د دې دپاره کول چه د دې په ذریعه د دین خدمت اوکړې شی او دوی دین او دنیا جمع کړه چه په دنیاوي ژوند کښې په عزت سره وي او په اخرت کښې په کامیاب خلقو کښې شامل شی. دوی په دنیا حکموت اوکړۀ او دنیا ئې د امن او سلامتئ نه ډکه کړه . په دوی د حادثو طوفانونه راوالوتل ، خو دوي په صبر او په روښ تندی سره مقابله اوکړه او په دوی چه چا ظلم اوکړو دوی هغه ظالمانو لره د زمانې د پاره عبرت اوګرځولو.د دوی په نظر کښې د شهیدانو وینه د ځوانانو او سرو خوشبوئي ګنړلې شوه، د دښمنانو غشې د دوي په سینې کښې د عزت او کمال نښه وه او د دین په خاطر د مرګ په خوله کښې تلل د دوي د زنانو او ماشومانو ترانې وې.

د شهیدانو قافلو به د هغوی وړاندې د خوشحالئ او د واده منظر پیش کوو او د تورو چنګار به د هغوي په غوږونو کښې نغمو او د خوشحاله ونکو اوازونه وو د هغوی میاندو به په خپلو غیږو کښې نه بلکه په سختو جنګونو کښې د هغوي تربیت کوو. دا خلق د نورو قومونو په شان نه وو، بلکه په حقیقت کښې دا یو ناشنا قوم وو او دا د

نورو ټولو قومونو نه ممتاز وو او د نورو امتونو په شان نه وو بلکه یو رهنما امت وو.

اولئك آبائی فجئنی بمثلهم　　　　اذا جمعتنا یا جریر المجامع

"دا زما پلار نیکه دي د دې وجې نه د دي په شان راوړئ جریره کله چه مونږه او تا لره مجلسونه جمع کړی."

**اې ځوانانو !**

په اخیره کښې تاسو ته دا یادول غواړم چه:

تاسو فتح او نصرت، ایمان و تقوي، او ظاهرا او باطنا د الله مراقبه او د نیت صحیح والې، د ګناهونو نه بچ کیدل، د بدیانو نه لري اوسیدل، د نفس په شهوت او د دنیاوی ژوند د فتنو نه جدا اوسیدلو په ذریعه حاصله ولې شئ.

که تاسو په خپل نفس باندې غالبه شوئ او د شهواتو د ګندګونه لري پاتي شوې او الله سبحانه و تعالي لره خپل مقصود او غایة او د هغه پاك شریعت لره د خپل ژوند نظام او منهج او د خلپو جنګ جګړو فیصله کونکې او د خپل عمل د پاره تله جوړه کړه نه بیا که الله اوغوختل نو فتح مبین او نصرت به ستاسو سره شامل حال وي او الله تعالي به تاسو ستاسو د دین دښمنانو باندې فتح درکړی.

د تاریخ په کتابونو کښې لیکلې شوی دی چه کله عمر بن الخطاب رضی الله عنه د مصر په فتح کولو کښې روستو والې محسوس کړو نو د مسلمانانو د لښکر مشر عمومي عمرو بن العاص رضی الله عنه ته ئی خط اولیکهلو:

"د حمد او صلوة نه پس: ماته ډیر تعجب دې چه تاسو ته د مصر په فتح کولو کښې دومره روستو والې راځي، تاسو په دې کښې د دوؤ کالونه په میدان کښې ئی د دې وجه د دې نه علاوه بل حیځ هم نه ده چه تاسو څه نوي څیزونه جوړ کړي دی او تاسو د دنیا سره دسي محبت شروع کړې دې څنګه چه ستاسو دښمن د دې سره محبت کوی او یاد ساتئ الله چه د کوم قوم هم مدد کوي نو هغه د هغوي د نیت د صفائی او رښتونوالی د وجې نه."

اې ځوانانو تاسو ټول به هغه وصیت هم پیژنئ چه عمر رضي الله عنه حضرت سعد بن ابي وقاص ته لیکهلې وو:

"حمد او صلوة نه پس، زۀ تاسو ته او د فوج هغه کسانو ته چه تاسره دي په هر حالت کښې د الله تقوي او خوف وصیت کوم، ځکه چه د الله چل شانه خوف او ویره د دښمن په خلاف د ټؤلو نه لوئي هتیار او په جنګ کښې د ټولو نه لوئی تدبیر دې او زۀ تا ته او ستا سره موجود لښکر ته دا حکم کوم چه تاسو د نافرمانئ نه او ګناهونو نه د خپل دښمن نه زیات ویریږئ، ځکه چه د ګناهونو لښکر د دښمن نه زیات خطرناك دې، مسلمانانو ته په خپل دښمن ځکه فتح حاصلیږی

چه د هغوی دښمن د الله نافرمانی کوی، که دا خبره نه وی نو مونږ ته به په هغوی فتح او قوت نه حاصیلدو ځکه چه زمونږ تعداد د هغوی برابر نه دې او نه زمونږ سره د هغوی په شان هتیار او ساز او سامان شتې. د دې وجې نه که مونږ او هغه په نافرمانۍ کښې برابر شو نو د طاقت په اعتبار سره به د دښمنانو تله درنه وی، کنه نو مونږ به په هغوی د الله په فضل او کرم سره غالبه کیږو نه دا چه د دنیاوي قوت او طاقت په زور باندې."

**اۍ ځوانانو !**

ستاسو دپاره د فتح او نصرت دا طریقه ده او په الله قسم چه دا ستاسو د ملك او قوم دعزت لاره ده، د یهودو سره په جنګونو کښې چه زمونږ مسلمان پې در پې د شکست او هزیمت سره مخ دي هغه صرف د دې وجې نه چه هغوي د الله نه لري دی او هغوی اسلام پریخې دې او په نافرمانیانو او ګناهونو او شهوت پرستې کښې غرق دی او زمونږ ځوانان هلکان او جینکې په دې مادی دور کښې په روحانی او اخلاقی توګه باندې د شکست سره مخ دی په کوم کښې چه ګناهونه زیات او فسق او ګناهونه په زور کښې دی.

خلیفه عادل عمر رضی الله عنه په هغه وخت کښې بالکل صحیح فرمائیلی وو کله چه ئې دا اوفرمائیل: مونږ هغه قوم یو کوم لره چه الله د اسلام په وجه عزت ورکړې دې. کله چه مونږ دا څیز پریږدو

او عزت پسې ګرځو په کوم چه الله مونږ له عزت را کړې دې نو مونږ په ذلیله او رسوا شو. (مستدرك حاكم)

او الله دې رحم اوکړی په شاعر اسلام ډاکټر محمد اقبال باندې هغه وائي:

كل من اهمل ذاتيته فهو اولیٰ الناس طراً بالفنا

لن يرى فى الدهر شخصيته كل عن قلد عيش الغرباء

۱. هر هغه سړې چه خپل شخصیت مهمل پریږدی، نو هغه به د ټولو خلقو نه زیات د فنا کیدو مستحق دې.

۲. په زمانه کښې هغه سړی خپل شخصیت هیڅ کله نمایا نه شي لیدلې چه د نورو د ژوند تقلید کوی.

**اې ځوانانو !**

پاسئ او د اسلام اوچت او پورته محل په خپلو مټو باندې مظبوط کړئي او په خپل محکم عزم سره د خپلو عظیم پلار نیکه زبردست عزت او بزرګي واپس کړئي، په دوه خو (اچهائي) کښې یو خپل مخې ته کیګدئي، یا نصرت خداوند او فتح دې دپاره چه په عزت سره ژوند اوکړئ یا د ځان قرباني دې دپاره چه د شهادت په مرګ باندې مړه شئي.

ونحن اناس لا توسط بيننا | لنا الصدر دون العالمين او القبر
ستعلم امتنا اننا | ركبنا الخطوب هياما بها
فان نحن فزنا فيا طالما | تذل الصعاب لطلابها
وان من حتفنا فقد قدمت | كؤس المنايا لشرابها

ا. "مونږ هغه خلق يو د چا سره چه په مينځ کښې هيڅ نيشته او د خلقو په ځائې صدارت زمونږ دپاره دې يا بيا قبر، د زمانې په غوږنو کښې د کرامت، عزت ، فتح او نصرت شعرونه او د قربانئ او ځان نثار کولو شعرونو بار بار وائی."

۲. "زمونږ قوم پوهه دې چه مونږ په حادثاتو د دوي سره د مينې او تعلق په بنا باندې سوارۀ شوي يو."

۳. "كه مونږه کامياب شو نو ځومره وارې مشكلات چه د چا په كور وي د هغوی دپاره دا مشكلات اسان شی."

٤. "او كه مونږ مړۀ شو نو بيا څه اوشو، د مرګ پيالئ د هغی د څښونكو دپاره وړاندې كړې شوې."

وَقُلِ اعْمَلُوْا فَسَيَرَى اللهُ عَمَلَكُمْ وَرَسُوْلُهٗ وَالْمُؤْمِنُوْنَ وَسَتُرَدُّوْنَ اِلٰى عَالِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ۔ [التوبہ: ١٠٥]

"او محمد صلی الله علیه و سلم اووایه چه عمل کوئ ځکه چه ستاسو عمل الله او د هغه رسول او مومنان اوس وینی او تاسو به خواه مخواه د غیبو او شهادت پیژندونکی خواته تلل دی نو هغه به تاسو ته اووائي چه تاسو تر اوسه څه کړي دی."

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ

# ماخذ او مراجع


| | |
|---|---|
| ○ قرآن پاک | |
| ○ کتب احاديث | |
| ○ حيات صحابهؓ | مولانا محمد کاندهلویؒ |
| ○ مسلمان نوجوان | شيخ عبد الله ناصح علوان |
| ○ انقلاب اسلامی اور مسلم نوجوان | حافظ ادريس صاحب |
| ○ نوجوانوں کی اهميت وافاديت | مولانا گوهر رحمن صاحب |
| ○ نوعمر صحابهؓ اور اقامت | سيد حامد صاحب |